بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** **مالي مدیریت**

**څانګه:** اداره او منجمنټ

**راټولونکی:** عسکر شاه

**ژباړن:** مجیب الرحمن امیري

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزابي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- عبدالسمیع وحدت
- عبدالجمیل ممتاز

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول:** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** عبدالله شاهي

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

**ISBN کډ:** ۹۷۸-۹۹۳۶-۳۰-۰۹۲-۷



د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولي کور د توري — هر بچی يې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي — پاميريان، نورستانيان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ايماق، هم پشه يان
دا هيواد به تل ځليږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سينه کې د آسيا به — لکه زړه وي جاويدان
نوم د حق مو دی رهبر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

# د پوهنې وزارت پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلي دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کېږي او نه هم منقطع کېږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند ټګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یواځې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربیون باید په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یواځې او یواځې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیــر کــې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

لړلیک


| څپرکي | سرلیکونه | مخ |
| --- | --- | --- |
| **لومړی** | د مالي مدیریت عمومیات | ۱ |
| **دویم** | مالي اصطلاح ګانې | ۱۱ |
| **درییم** | په بېلابېلو اقتصادي نظامونو کې د دولت مالي اقتصاد | ۲۳ |
| **څلورم** | د مالي مدیریت برخې | ۳۳ |
| **پنځم** | د عوایدو بنسټونه | ۴۱ |
| **شپږم** | د دولت لګښتي یا مصارفاتي برخه | ۵۱ |
| **اووم** | د بودیجې پروسه او د هغې دندې | ۶۵ |
| **اتم** | د دولتونو د عوایدو ډولونه | ۷۷ |
| سرچینې او اخځلیکونه | | ۸۶ |

# سریزه

مالي مدیریت چې په بنسټیزه توګه د دولت له مالي اقتصاد او یا عامه اقتصاد څخه بحث کوي، له عملي او تېکنالوژیکو پرمختیاوو او د دولتونو د دندو او مسوولیتونو له زیاتوالي سره یو ځای او همداشان د دولتونو د لګښتونو د صعودي پرمختګ او پر امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو چارو باندې له ورځ په ورځ ډېرېدونکو اغېزو سره یې د پام وړ پرمختګ کړی او د اهمیت وړ دی.

ننني مالي مدیریت، نظر هغه اهمیت ته چې د اقتصادي فعالیت په ساحه کې یې لري، د سوداګریزو چارو مدیریتونو د پرمخ وړلو او د دولتي او خصوصي سکتور د ستونزو د حل یوه مهمه وسیله او کېلي ګڼل کېږي. لکه څنګه چې ټولو ته معلومه ده خصوصي سکتور د یوه هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لري.

نو باید د تقویې او غښتلتیا لپاره یې ګټور او ارزښتمن ګامونه پورته شي، د ارزونې د عملکرد کنټرول، مالي محاسبې او اجزا یې، چې د مالي مدیریت بنسټیز توکي دي، د هغو په وسیله سوداګر ( متشبث ) ټولې معاملاتي ستونزې حل او د خپلې سوداګرۍ سنجونه حاصلولی شي، نو له دې امله اړ دي، چې په دې برخه کې مسلکي او کارپوه کسان استخدام او یا پخپله د محاسبوي مهارتونو د ترلاسه کولو لپاره ګام پورته کړي.

د مالي مدیریت مضمون د ادارې او مدیریت په څانګه کې د یوه بنسټیز مضمون په توګه په اونۍ کې څلور ساعته تدریس کېږي.

په لومړي څپرکي کې مالي مدیریت او مالي اهمیت، په دویم څپرکي کې مالي او عایداتي اصطلاحات، په درېیم څپرکي کې په بېلابېلو اقتصادي نظامونو کې مالي مدیریت، په څلورم څپرکي کې د مالي مدیریت اجزا او همداشان په وروسته نورو څپرکو کې د دولت لګښتونه، د مالي چارو د بودیجې طرحه کول، د عوایدو راټولول او نورې ورته او اړوندې موضوعګانې تدریس کېږي.

دغه درسي لکچرنوټ، چې په بېړه سره ترتیب شوی، شایي یو لړ ستونزې او تېروتنې ولري، له دې امله له ګرانو محصلانو او مینه والو هیله لرم، چې د منځپانګې په سمونه او بشپړونه کې راسره مرسته او همکاري وکړي.

په درنښت

**عسکر شاه**

**د کتاب تولیزه موخه:**

د مدیریت عمومیاتو، مالي اصطلاحاتو، د مالي مدیریت اجزاوو، د عوایدو بنسټونو په اړه معلومات او همدارنګه د دولت د لګښتي برخو او د هېوادونو د عوایدو د ډولونو پېژندل.

# د مالي مدیریت عمومیات

**ټولیزه موخه:**

د لګښتونو د مفهوم او ماهیت د موضوع له مخې په ټولنه کې د مالي مدیریتونو موقف او صلاحیت.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین پر لاندې موضوعاتو لاسبري وي:

- لــه مالیــې څخه د مالي علم تفکیــك، د دولتونو په عایداتي فعالیتونو کــې د مالي تیوریو او سیاستونو درك کول.
- د اقتصادي پېښو د سم راپور د ثبت په اړه د اطلاعاتو د راټولولو پر اساس د مالي پرېکړې نیول.
- د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو د مالي مدیریتونو تحلیل او ارزونه.
- د دولت د مالي اقتصاد او خصوصي اقتصاد د توپیر درك کول او په ټولنه کې د هغو پلي کول.

## د مالي علم د څېړنې موضوع او دندې

مالي علم د تحقیق د موضوع مطابق یو لړ دندې ترسره کوي، چې مهمې یې په لاندې ډول دي:

**۱. د دولت د مالي اقتصاد د ماهیت توضیح:** دا چې د مالي علم د څېړنې موضوع د دولت مالي اقتصــاد دی، نــو له دې امله د مالي علم لومړنۍ دنــده داده، چې د مالي مدیریت ماهیت توضیح کړي او هغه د خصوصي اقتصاد په مقابل کې تشخیص او تعیین کړي.

**۲. د مالي علم بله دنده:** د مالي علم بله دنده له دې نه عبارت ده، چې د بېلابېلو هېوادونو مالي مدیریتونه هم توضیح، تحلیل او وارزولی شي، څکه یو مالي څېړونکی نه شي کولای، د مالي مدیریت

پــه اړه په محدودو معلوماتو باندې بســنه وکړي، بلکې د بېلابېلــو هېوادونو د مالي مديريتونو په هکله هم کافي معلومات ولري، ترڅو په دې وسيله د بېلابېلو هېوادونو د مالي اقتصادونو پرتليزه څېړنه او ارزونه وکړي او د هغو له ښېګڼو څخه د هېواد د اقتصادي وضعې په ښه والي کې ګټه واخلي.

## د مالي علم اړتيا او د هغه اهميت

**۱ - د مــالي علــم اړتيا:** د مالي علم مديريت او د دغه علــم د حرکاتو څرنګوالی په هغو دندو پــورې تــړلی دی، چې د زمانې په اوږدو کې په دولت پورې تړاو لري. د دولت په برخه کې د نويو دندو  او مسووليتونو په رامنځ ته کېدو د عوايدو د معقول تنظيم اړتيا منځ ته راغله، چې بايد لازم لګښتونه د عوايدو په وسيله پوره کړای شي.

د بنســټيزو، امنيتي، ښــوونيزو، روغتيايي او نورو پروژو رامنځ ته کول نوي مســووليتونه وو، چــې پــه يوه زماني مقطع کې دولتونو رامنځ ته کړل او مالي علم د دې ډول دندو د پراختيا مطابق وغوړېــد. د مالي مديريــت د علم پوهانو عوايدو ته له لګښــتونو سره د لومړيتوب ورکولو په اړه مناقشې او بحثونه وکړل. يو شمېر پوهانوعوايد د لګښتونو د جوړښت د بدلون لامل وبلل، خو يو شمېر نورو پوهانو د مالي مديريت علم د عايداتي سرچينو د رامنځ ته کولو متحرکه انګېزه بللې دی.

د مالي مديريت د علم اړتيا له دې ځايه احساســېږي، چې په هر هېواد کې د يو لړ مشــخصو او ټاکلو موخو ترلاســه کول، چې حتمي او د انصراف وړ نه وي، بايد د دولتونو له خوا ترسره شي. لکه ســياسي، امنيتي، دفاعي، حقوقي موخې او اقتصادي موخې چې په اقتصادي بنســټونو پورې اړه لري، لکه د لويو لارو، بندونو، ويالو، علمي او څېړنيزو موسســو، روغتيايي او ټولګټو موسســو جــوړول، چــې يادې چارې په وګړنيزه يا فردي توګه ترسر کېــدلی نه شي.  يا په بل عبارت خصوصي وګړي په پورتنيو مواردو کې د تشــبث حق نه لري. د دفاعي، امنيتي او ســياسي دندو له مخې په پورتنيو اهدافو کې د خصوصي تشبثاتو لپاره کوم ممانعت شتون نه لري، خپله وګړي نه حاضرېږي ترڅو پورتنۍ دندې د يو لړ دلايلو له مخې ترسره کړي.

مثلاً: د لويو لارو، بندونو او نورو ټولګټو تاسيســاتو په جوړولو کې د خصوصي وګړو لپاره کوم ممانعت نه شته، خو وګړي پخپله نه حاضرېږي، چې يادې دندې ترسره کړي. دليل يې دادی چې د خصوصي تشبثاتو لومړنۍ او اساسي موخه د ګټې لاسته راوړل دي او  دا موخه له پورتنيو تشبثاتو څخه نه شي ترلاســه کېدلی، ځکه خصوصي وګړي دا قدرت نه لري، چې د يوه بند يا يوې ودانۍ يا لويې لارې ټول لګښتونه له خلکو يا ګټه اخيستونکو څخه ترلاسه کړي، له دې امله بايد يادې دندې هم د دولت له خوا ترسره شي.

د اقتصادي بنســټونو بشــپړول او جــوړول د يوه هېواد د اقتصــادي ودې لومړنی شرط دی او

له اقتصادي بنسټونو پرته اقتصادي وده ناشونې ده. له همدې امله وه چې ازادي غوښتونکو کلاسیکانو سره له دې چې په اقتصادي چارو کې یې لاسوهنې ته جواز نه ورکاوه، د پورتنیو دندو ترسره کول یې په استثنایي او جبري ډول د دولت دنده ګڼله.

په یوه اقتصادي نظام کې د ازاد رقابت په راس کې د دولت دندې په هغو ساحو پورې اړوندې دي، چې خصوصي اقتصاد د هغو د ترسره کولو توان ونه لري. اوس د دې لپاره چې دولت خپلې محوله دندې ترسره کړای شي، باید کافي مالي وسایل هم په واك كې ولري او دا ډول وسایل په بېلابېلو ډولونو او بڼو په لاندې توګه لاسته راوړل شي:

- د دولت تشبثاتي عواید
- محصول او برخې(سهمونه)
- مالیات
- جریمې
- د اړتیا پر مهال د دولتي شتمنیو او سیمو خرڅول او د دولتي خدمتونو وړاندې کول.
- د کورنیو او بهرنیو پورونو ترلاسه کول.
- کورنۍ او بهرنۍ بلاعوضه مرستې او کمکونه.

دولت تشبثاتي عواید هغه وخت لاسته راوړلی شي، چې د خصوصي اقتصاد په څېر تولیدي فعالیت ته اقدام وکړي، څیزونه تولید او بازار ته یې وړاندې کړي او په بدل کې یې عایدات ترلاسه کړي. تشبثاتي عواید لکه خصوصي اقتصاد د خپلو فعالیتونو د ترسره کولو په بدل کې لاسته راوړي او اجباري اړخ نه لري، بلکې د بازار له لارې او په اختیاري ډول یې لاسته راوړي. له دې امله تشبثاتي عواید د دولت اصلي عواید بلل کېږي. دولت د خپلو مالي وسایلو یوه بله برخه په اجباري ډول او د خپل قدرت په وسیله د مالیاتو د بېلابېلو ډولونو، محصول، برخو او جریمو د اخیستلو له لارې لاسته راوړي، چې دا عواید د دولت د اشتقاقي عوایدو په نامه يادېږي. په دې صورت کې دولت، مالي وسایل له خصوصي سکتور څخه دولت ته لېږدوي او له هغو نه د هېوادنيو اړتیاوو په پوره کولو کې کار اخلي. د المان مشهور مالیه پوه ګېرلوف Gerllof د مالي اقتصاد اجرات او مولدیت له کربړېټ سره تشبېه کوي. لکه څنګه چې د کربړېټ په وسیله مالي او پولي وسایل له پس اندازه کوونکو څخه متشبثینو او پانګوالو ته لېږدي، د دولت مالي اقتصاد هم مالي وسایل له منفردو اقتصادي عاملینو څخه په پورتنیو شکلونو او ډولونو د دولت سکتور ته لېږدوي او له هغو څخه د هېوادنیو اړتیاوو په پوره کولو کې کار اخلي.

## د مالي علم اهميت Importance of finance

د دولت مالي مديريت د مجموعي اقتصاد د فعاليتونو د يوې برخې په توګه، په هر هېواد کې بنسټيز اهميت لري او هر هېواد يې لري، ځکه دولتونه خپلې اړوندې او محوله چارې او فعاليتونه هغه وخت په سمه توګه ترسره کولی شي، چې د لګښتونو د تمويل لپاره يې کافي عايداتي مبلغ شتون ولري. پر دې بنسټ ويلی شو، چې د منظمو عايداتي سرچينو د نشتوالي له امله، حکومتونه نه شي کولی خپلې چارې او فعاليتونه په عادي او نورمال ډول ترسره کړي او خپل پايښت او شتون وساتي.

د عوايدو او لګښتونو ترمنځ بايد تل تعادل او توازن شتون ولري. که د دولت عوايد دومره وي، چې د دولت د لګښتونو لپاره بسنه ونه کړای شي، نو په دې صورت کې حکومت د دندو په ترسره کولو کې پاتې راځي او د دولتي فعاليتونو د محدوديت او رکود لامل ګرځي. برعکس که د دولت عوايد نظر د دولت لګښتونو ته لوړ وي، په دې صورت کې  د دولت مالي وسايل له ګټې اخيستلو څخه پاتېږي او د مالي مديريت په زيان تمامېږي.

له همدې اړخه د دولت د عوايدو او لګښتونو ترمنځ توازن د بوديجې له اساسي اصولو څخه ګڼل کېږي، تر څو له دې لارې د پورته يادو شويو ستونزو د پېښېدو مخنيوی وشي. د بوديجې د توازن دا اصل چې د پرنسيپ له اړخه مطالعه کېږي، هغه وخت د عمل په ساحه کې تحقق موندلی شي، چې د دولت د لګښتونو په اړخ کې هم د اقتصادي پرنسيپونو له تطبيق څخه کار واخيستل شي. که د دولت په لګښتونو کې اسراف او نه پاملرنه رامنځ ته شي، ممکن د دولت د عوايدو زياتوالی هم د اقتصادي پرنيسپونو مطابق د مصارفاتي پروژو لپاره بسنه ونه کړای شي او په پايله کې يو شمېر پروژې نيمګړې او يا هم له عملي کېدو پاتې شي.

لکه څنګه چې د دولت د عوايدو زياتوالی د دولت د مالي بنسټ لامل کېږي او دولت ته وړتيا او توان ورکوي، چې د خپل اقتصاد په ساحه کې د مالي مديريت فعاليتونو ته پراختيا ورکړي. همداشان لکه څنګه چې  د دولت په لګښتونو کې د اقتصادي پرنسيپونو تطبيق، ياني په لږ لګښت سره د ټاکل شويو دولتي پروژو تحقق، د دولت د لګښتونو د سپما لامل کېږي، دولتونو ته دا توان ورکوي، چې په سپمول شويو لګښتونو يوه بله وړه پروژه يا د يوې لويې پروژې يوه برخه هم تمويل کړي. سربېره پر دې بايد ووايو، چې د لګښتونو د سپمونې له لارې د دولت د مالي بنسټ تقويه کول، دا ګټه لري چې د مالياتي عوايدو لوړېدل که وغواړي يا ونه غواړي د لګښتونو د کمښت لامل کېږي. په پايله کې د هغوی پر مالي کړنلارو اغېزې کوي، حال دا چې د دولت په لګښتونو کې سپمونه پورتنۍ اغېزې نه شي رامنځ ته کولی. دا چې د ودې په حال هېوادونو کې د عايد د سطحې د ټيټوالي په نسبت د دولت د مالياتي عوايدو لوړولو امکانات لږ وي، يا ممکن پر اقتصاد ناوړه اغېزې وشيندي، له دې امله د ماليې د علم پوهانو د هېواد د مالي مديريت د غښتلتيا لپاره د دولت د لګښتونو په برخه کې د اقتصادي پرنيسپونو تطبيق جداً توصيه کوي.

دولت د خپل مالي مديريت په چوکاټ کې له يوې خوا عوايد له وګړو او موسسو څخه راټولوي او له بلې خوا لاسته راغلي عوايد په بېلابېلو بڼو او ډولونو د ټولنې د ګټو لپاره کاروي، له دې امله

مالي مدیریت د وګړو او ټولنې د ټولیزې وضعې پر کړنلارو مهمې او د پام وړ اغېزې شــیندي.  د دولت د مالي مدیریت ساحه تل د وخت د واکمن د طرز تفکر تابع وه او د هغه مطابق یې تحول کړی.د دولتونو مالي مدیریت د وخت په تېرېدو سره  او په ځانګړې توګه د ۲۰ پېړۍ له لومړیو را په دې خوا تقریباً په ټولو هېوادونو کې  هم په مطلق ډول او هم په نســبي ډول پراختیا موندلې ده، ځکه د اقتصادي بحران او رکود په دورو کې د اقتصادي او ټولنیزې اوضاع د ښــه والي لپاره د دولت دندې او مکلفیتونه زیاتېږي او په پایله کې یې لګښتونه ډېرېږي.

د اقتصادي بحران او رکود په حالت کې په مالي مدیریت کې ستونزې، په ځانګړې توګه دولت ته رامنځ ته کېږي. په دې حالت کې له یوې خوا د دولت عایداتي سرچینې کمېږي او له بلې خوا د دولت لګښتونه د دولتي پانګونو په مستقیم او نامستقیم ډول، دولتي سکتور او نورو ته د پورونو ورکول لوړېږي او ډېری کارکوونکي د همدې رکود له امله بې کاره کېږي.

د اقتصــادي ودې په حالت کــې دا، چې د خصوصي اقتصادي فعالیتونو د پراختیا او ودې لپاره زمینه مســاعده وي او د ګټو امکانات هم ډېر وي او د مالي مدیریت د ماهیت مطالعه هم داده، چې څنګه وکولی شــو، په بحراني حالت کې د بــې کارۍ مخه ونیسي او د اقتصادي ودې په حالت کې څه ډول کولی شي اقتصادي پلانونو ته پراختیا ورکړي.

## د خصوصي اقتصاد او د دولتي مالي اقتصاد ترمنځ توپیر

## Difference between public and private sector finance

د مالي اقتصادي مدیریت په څنګ کې، چې د دولت په عوایدو او لګښــتونو پورې اړوند دی، خصوصي اقتصاد قرار لري، چې د اشخاصو او خصوصي موسسو له عوایدو او لګښتونو سره اړه لري او په مالي علم پورې نه اړوندېږي.

د دولت د مالي اقتصاد مدیریت او خصوصي اقتصاد د یو شــمېر ځانګړنو او نښو په واسطه یو له بل سره توپیر لري، چې مهم یې په لاندې ډول دي:

**۱. د پلان جوړونې له مخې توپیر:** د پلان جوړونې له مخې د دولت د مالي اقتصاد او خصوصي اقتصاد تر منځ توپیر شــته. دا توپیر په دې کې دی، چې د خصوصي موسســو او اشخاصو اقتصادي پلانونه د خصوصي او فردي موخو د تحقق او ترلاسه کولو  پر بنسټ ولاړ وي او  په خپله د هغوی له خوا طرحه او تطبیق کېږي، حال دا چې د دولت مالي اقتصادي پلانونه، له اقتصادي، ســیاسي او ټولنیز اړخه طرحه کېږي او د ټولنیزو ګټو د تامین موخې په کې شتون لري.

**۲. د ګټــې او محصول له مخې توپــیر:** د خصوصي اقتصاد لومړنۍ او بنســټیزه موخه په ټولو اقتصادي فعالیتونو کې یوازې ګټه ده، حال دا چې د دولت د مالي اقتصاد د مدیریت موخه د ګټې ترلاسه کول نه دي، بلکې د ټولنیزې سوکالۍ تأمین دی، ځکه چې د تصدۍ فعالیتونه د ټمام شویو لګښــتو لپاره تکافو کوونکي او په ځانګړې توګه مرستندویې تصدۍ، چې څېزونه او شیان تر خپلې

بیــې ټیټ وړاندې کوي او دولت ټولګټي تاسیســات چې په وړیا توګه خلکو ته خدمتونه وړاندې کوي، دا ټول د ټولنیزې سوکالۍ لپاره دي.

**۳. د دندو له مخې توپیر:** هغه توپیر چې د دندو د ترسره کولو له مخې د دولت د مالي اقتصاد او خصوصي اقتصاد ترمنځ شتون لري، دادی چې خصوصي اقتصاد په عمومي توګه خپل لګښت پر خپلــو تثبیت شــویو محدودو دندو پورې منحصر کوي، لــه دې پرته چې د هغوی دندې څه ډول ټولنیزې او اقتصادي اغېزې شــیندي. په بله وینا خصوصي اقتصاد د خپلو دندو په ترسره کولو کې یوازې خپلې شــخصي ګټې په پام کې نیسي او داسې اقتصادي فعالیتونه ترسره کوي، چې د هغوی مشخصه موخه یا هدف ترلاسه شي، که څه هم د دوی فعالیتونه د ټولنې، ولس او ملي اقتصاد په زیان هم وي.

هر څومره چې یوه ټولنه وروســته پاتې وي، په هماغه اندازه دا ډول تشــبثي ذهنیت په هغه کــې پــه ډېره پیمانه لیــدل کېږي. لکه څنګه چې تجربو ښــوولې په دې ډول ټولنو کې یو شــمېر موسسې او ټولنې داسې توکي تولیدوي او بازار ته یې وړاندې کوي، چې په بشپړه توګه ټولنه ورته اړتیا ولري، خو دا چې په هغو کې مشــخصه ګټه شــتون لري، تولید او عرضې ته یې اقدام کوي. پر دې بنســټ په دې ډول ټولنو کې د یوه ټولنیز زیان د مخنیوي په موخه د دولت کنټرول اړینه چاره ګڼل کېږي.

برعکس دولت د یوه سازمان ورکوونکي او رهبري کوونکي قدرت په توګه د خپل مالي مدیریت پــه ټولو اقتصادي فعالیتونو کې د دې موخې درلودونــکی دی، چې فعالیتونه یې پر اقتصاد مثبتې اغېزې پرېباسي، د ټولنې د خیر او اصلاح په موخه د اقتصادي پېښــو جریان په مثبت لوري رهبري کړي، ټولیز اقتصاد ته وده ورکړي او په پایله کې د هېواد اقتصادي او ټولنیزې ودې ته زمینه برابره کړي. پر دې بنســټ د دولت مالي اقتصادي فعالیتونه د مالي اقتصاد د مجموعي عملیې په جریان کې د متمم، بشپړوونکی، اصلاح کوونکی او رهبري کوونکی رول لري.

د پرنسیپ له مخې دولت باید داسې دندې او فعالیتونه ترسره نه کړي، چې د اقتصادي پېښو جریان ګډوډ او پر اقتصاد ناوړه منفي اغېزې پرېباسي.

**۴. د اړتیا له مخې توپیر:** د خصوصي اقتصاد فعالیتونه په عمومي ډول د دې لپاره ترسره کېږي، چې د ګټې د ترلاسه کولو ترڅنګ د هغه اصلي او لومړنۍ موخه، د یوه شخص یا اشخاصو اړتیاوې هم پوره کړي. په دې مانا چې د خصوصي اقتصاد له فعالیتونو څخه یوازې هغه کســان ګټه پورته کولی شي، چې د خصوصي خدمتونو په بدل کې یو جبران یا پاداش ورکړای شي او هغه کسان، چې تــوان یې ونه لري، د خصوصي اقتصاد له فعالیتونو او خدمتونو څخه بې برخې کېږي، حال دا چې د دولت له ټولو مالي اقتصادي فعالیتونو څخه بنســټیزه موخه داده، چې د یوې ټولنې ټول وګړي د دولتــي فعالیتونــو له پایلو او ګټو څخه په یو ډول ګټه پورته کړي. یا په بله وینا د دولت د مالي اقتصاد بنسټیزه موخه د ټولنیزو اړتیاوو پوره کول دي.

**۵. د عوایدو او لګښتونو د تقدم له مخې توپیر:** په خصوصي سکتور کې د عوایدو او لګښتونو د تقــدم له نظره، په ځانګړې توګه له اوږد مهاله پلوه د تقدم او لومړیتوب حق عوایدو ته ورکړل شــوی دی او د هغو پر بنســټ د لګښــتونو پلان جوړېږي. حال دا چې په دولتي ســکتور کې په عمومي ډول د تقدم او لومړیتوب حق لګښتي یا مصارفاتي پلانونو ته ورکړل شوی دی او د عایداتي منابعو پر بنســټ یې پلټنه کېږي، یانې هغه وخت چې د دولت عواید د لګښــتونو د تکافو لپاره کافي ونــه بلل شي، په دې صورت کې د موجودو مالیاتو په لوړولو او د نویو مالیاتو وضعه کولو ته مخه کوي او یا خپلو تشــبثاتي فعالیتونو ته وده ورکوي او یا کورنیو او بهرنیو پورونو اخیســتلو ته مخه کوي.

ځکه له پورتنیو عایداتي منابعو څخه ځینې یې له اوږدمهاله پلوه د خصوصي اشــخاصو لپاره د امکان وړ نه وي. د بېلګې په توګه خصوصي اشــخاص د مالیاتي عوایدو نه درلودونکي دي او ځینې پورتنــۍ منابــع په محدوده اندازه د امــکان وړ وي. یانې خصوصي اقتصاد پــه محدوده اندازه تر یوه ټاکلي وخته پورې د پورونو د ترلاســه کولو توان لري. پر دې بنســټ اړ او مکلف دی، چې له اوږدمهاله پلوه خپل لګښتي پلانونه له خپلو عایداتي منابعو سره عیار کړي او له هغه پرته ډېر ژر یا وروســته له مالي ســتونزو سره مخ کېږي، حال دا چې دولت په خپله د مالیې اخیستلوله قدرت سره پــه یادو ټولو مــواردو کې له فوق العاده امکاناتو څخه برخمن دی او پر بنســټ یې د خپلو عوایدو لګښت عیاروي.

بل مهم عامل چې دولت دې ته اړ باسي، چې خپل عایداتي منابع د خپلو لګښــتونو پر بنســټ عیــار کــړي، دادی، چې په ډیموکراټو ټولنو کې معقولې غوښــتنې او تقاضــاوې د دې لامل کېږي، چې د خلکو د رضایت د ترلاســه کولو لپاره د ســبب شویو لګښتونو مطابق خپل عواید عیار کړي. پــه دیکتاتــوري نظامونو کې چې بې کاري ورځ په ورځ په کــې زیاتېږي، دولت په راتلونکي کې له ســتونزو سره مخ کوي او د دې ډول حالت دوام بلاخره د دکتاتور نظام د نســکورېدو لامل کېږي. لکه څنګه چې د نړۍ په تاریخ او بیا په افغانستان کې دغه واقعیت ثابت شوی دی، چې ملي ضد دولتونونه ډېر ژر او یا په لږه موده کې له زوال او نسکورېدو سره مخ کېږي.

**۶. د عوایدو د برابرولو د مېتود له پلوه توپیر:** د عوایدو د برابرولو د مېتود له پلوه هغه توپیر، چــې د دولت د مالي اقتصاد او خصوصي اقتصاد ترمنځ شــتون لــري، دا دی، چې خصوصي اقتصاد خپل عواید له اختیاري پلوه، یانې د شیزونو او خدمتونو د پېر او پلور او تبادلې د پرنسیپ مطابق لاس تــه راوړي، حــال دا چې دولت د خپل مالي اقتصاد په چوکاټ کې د خپلو عوایدو یوه برخه د اجباري پرنسیپونو له مخې، یانې د مالیاتو د اخیستلو له لارې او د عوایدو یوه بله برخه د اختیاري پرنیسیپونو له لارې یانې د محصول او سهمیې له تشبثاتي عوایدو څخه لاس ته راوړي. د موضوع په اړه باید یادونه وکړو، چې د دولت د اختیاري او اجباري عوایدو ترکیب او جوړښــت نظر، بېلابېلو اقتصــادي نظامونو ته توپیر لري. پــه دې مانا چې د بازار اقتصاد په نظام کې د دولت د پام وړ او عمده عواید د اختیاري عوایدو له لارې، یانې له ملي شویو تصدیو څخه ترلاسه کېږي.

د دې دلیـــل، چې ولې بازار اقتصــاد لرونکو نظامونو په هېوادونو کې د دولت د عوایدو ډېرى برخه د مالیاتي عوایدو له لارې ترلاسه کېږي، دادی، چې د بازار اقتصاد لرونکي هېوادونه د وخت په تېرېدو سره، په ځانګړې توګه د شلمې پېړۍ په جریان کې لوی تشبثاتي فعالیتونه خصوصي اقتصاد تــه ســپارلي دي او ځان یې تر ډېره پــه ټولګټو خدمتونو، چې د دولت لومړنۍ دندې تشــکیلوي، بوخت کړی دی. د دې ډول فکر د رامنځ ته کولو بنسټیز محرك دا و، چې اقتصادپوهان دې پایلې ته ورســېدل، چې د خصوصي تصدیــو موثریت او مولدیت نظر د عین دولتــي تصدیو موثریت او مولدیت ته ډېر دی، ځکه په دولتي تصدیو کې د تصدۍ ګټه او زیان د تصدۍ په کارکوونکو پورې اړه نه لري، پر دې بنسټ هغوی د تصدۍ د موثریت او مولدیت په لوړولو کې زیار نه باسي، خو په خصوصي تصدیو کې خبره ده او د تصدۍ ګټه او زیان متشبثانو او متصدیانو ته متوجه دی. پر دې بنسټ د شونتیا تر بریده هڅه کوي چې د تصدۍ مثمریت او مولدیت لوړ کړي او دولت هم کولی شي له هغوی څخه ډېر مالیاتي عواید تر لاســه کړي. له دې امله د بازار اقتصاد لرونکی نظام هېوادونه تر ډېره پر مالیاتي عوایدو باندې متکي هېوادونه نومول شوي دي.

**۷. د تولید د څرنګوالي له پلوه توپیر:** د تولید له نظره د دولت د مالي اقتصاد او خصوصي اقتصاد ترمنځ توپیر په دې کې دی، چې د خصوصي اقتصاد په ســاحه کې په زیاته کچه تولید د مادي اړخ یانــې د څیزونــو د تولید لرونکې وي. لکــه د امنیتي او دفاعي خدمتونو تــرسره کول، د عدالت او حقوقو تامین، د علمي او څېړنیزو خدمتونو او همداشان د روغتیایي خدمتونو ترسره کول.

**۸. د خدمتونــو د جبران له پلوه توپیر:** د خدمتونو د جــبران له پلوه د دولت د مالي اقتصاد او خصــوصي اقتصــاد ترمنځ توپیر په دې کې دی، چې په خصوصي اقتصــاد کې د خدمتونو جبران په ځانګــړي ډول صورت مومي. د بېلګې په توګه که خصوصي اقتصاد خدمتونه ترسره کوي، په مقابل کــې یې یــو ځانګړی جبران له هغه چا څخه چې خدمت ورته سرته رســوي غواړي. او یا کله چې یو شــخص یوه امتعه بل شــخص ته وړاندې کوي، په مقابل کې یې یوه برخه ترلاسه کوي، چې په دواړو پورتنیو حالتونو کې ځانګړی(خاص)جبران مطرح کېږي. حال دا چې د دولت په ســاحه کې کــه چېرې وګړي د دولت لپاره خدمتونه ترسره کوي، دا خدمتونه یې په ځینو مواردو کې په خاص صورت(د کار په مقابل کې د مزد او معاش ترلاسه کول)او په ځینو مواردو کې په ګډه توګه جبران کېــږي.(د بېلګــې په توګه هغه څوك چې دولت ته مالیه ورکوي، په مقابل کې یې مالیه ورکوونکي کوم ځانګړی جبران نه تر لاسه کوي، بلکې په ګډه توګه له نورو اشخاصو سره یو ځای او حتا هغه اشــخاص چې دولت ته یې هېڅ مالیه نه وي ورکړې، د دولت له ټولګټیو تاسیســاتو له ښــېګڼو او مزایاوو ګټه اخلي.)

**۹. د ګټورتیــا له پلوه د دولــت د مالي اقتصاد او خصوصي اقتصاد توپــیر په دې کې دی**، چې خصوصي اقتصاد په عمومي توګه د خپلو اقتصادي فعالیتونو په ترسره کولو کې د یوې مســتقیمې ګټې د ترلاســه کولو موخه لري. حال دا چې دولت د خپل مالي اقتصاد په ځانګړې توګه د ټولګټیو پروژو د فعالیتونو په ترسره کولو کې یوه نامستقیمه ګټه په پام کې نیسي. د بېلګې په توګه دولت

پــه ډېرى ټولګټو پروژو لکه دولتــي روغتونونو، ښوونځيو او پوهنيزو موسســو، لويو لارو، بندونو، نهرونــو او نورو کې له خلکو ګټه نه ترلاســه کوي، بلکې د يادو پــروژو له مفيديت او ګټې څخه اشــخاص او موسســې ګټه اخلي، چې دا ډول تشبثات په خصوصي اقتصاد کې اصلاً شتون لري او يا هم ډېر لږ ليدل کېږي او هغه هم په هغه صورت کې د بېلګې په توګه ځيني خلك پيدا کېږي چې د شهرت ترلاسه کولو او يوه ټولنيز موقف ته د رسېدو په موخه د يوې ټولګټې موسسې لګښتونه پر غاړه اخلي، چې په دې صورت کې منافع يا معنوي مفيديت د بحث وړ ګرځي.

بله مســئله چــې له دې موضوع سره په تــړاو د اهميت وړ ده، هغــه د نافعيت د تثبيت او ســنجونې مســئله ده. ځکه د نافعيت د ســنجونې له مخې که هغه په مستقيم ډول وي او که په نامســتقيم ډول، د اقتصــادي فعاليتونو د معقوليــت په برخه کې دواړه هــم خصوصي اقتصادي فعاليتونه او هم دولتي تصميم نيسي.

د خصوصي اقتصاد په ساحه کې د نافعيت سنجونه په دقيق ډول شونتيا پيدا کولی شي. د بېلګې په توګه کله چې د يوې خصوصي تصدۍ له عايداتو څخه د هغې ټول لګښــتونه تفريق شي، پاتې برخه يې د تصدۍ ګټه يا نافعيت ښيي.

خــو د دولت د مالي اقتصاد په ســاحه کې په عمومي توګــه د نافعيت تثبيت په دقيق ډول د خصوصي اقتصاد په څېر ناممکن دی، ځکه ډېرى دولتي پروژې لکه اقتصادي بنسټونه، له يوې خوا پــه ډېــر اوږده وخت کې نافعيت رامنځ ته کوي او له بلې خوا د هغوی دا نامســتقيم نافعيت په مقداري ډول يانې په پيسو سره تثبيتېدلی نه شي.

د اقتصاد د مجموعي نافعيت په لوړولو کې نور عوامل هم دخيل دي، چې د هغو هره يوه د اغېزو تفکيك کول د مجموعي اقتصاد د نافعيت په لوړولو کې ناممکن وي. د بېلګې په توګه کله چې دولت د اوبولګولو يو بند رغوي، طبعاً وچې ځمکې خړوبه او کرنه پراختيا مومي. خو دا چې په کومه اندازه دغه بند د دې نافعيت په لوړولو کې مهم بلل کېږي، دقيق تثبيت يې ستونزمن او حتا ناشــونی کار دی. ځکه د اوبو لګولو بند د مفيديت د سطحې په لوړولو کې د توليد د يوازېني عامل په توګه ســهم نه لري، بلکې ورسره په ګډه نور عوامل هم د ګټورتيا د رامنځ ته کولو په لار کې همغاړي دي، لکه د کرنيزو ماشــينونو کارول او له کرنيزو تخمونو ګټه اخيســتل او د کيمياوي سرې اســتعمال او نور، چې په بېله بېله توګه د پورته هره يوه د ســهم تفکيك د ټوليز نافعيت په رامنــځ تــه کولو کې يو ناشــونی کار دی، چې له مخې يې د اوبو لګولــو دولتي پروژې خالصه ګټه تثبيت شي.

## د لومړي څپرکي لنډيز

د ترسره شويو څېړنو پر بنسټ مالي علم د نورو علومو په څنګ کې يو لړ دندې هم بايد ترسره کـړي. د عوايدو د راټولولـو لارې، د هغو تحليل او توضيح بايد د ټولنـې او د دولت د اړتياوو پر بنسټ په څرګنده توګه په ټولو بنسټيزو او ټولنيزو برخو کې تحقق ومومي. د نافعيت سنجونه او تثبيت وڅېړل شي او مالي وسايل او حکومتونو ته مشخصې ورسپارل شوې دندې ترڅو د عوايدو او لګښتونو ترمنځ تعادل رامنځ ته کړي.

هر هېواد د بنســټيزو اقتصــادي فعاليتونو مديريت لري، حکومتونــه خپلې دندې هغه مهال تــرسره کولی شي، چې د لګښــتونو د تمويــل لپاره کافي عوايد په واك کې ولــري. د دولت د عوايدو لوړېــدل د دولــت د مالي بنســټ د پياوړتيا لامل کېږي او دولت تــه دا وړتيا ورکوي چې په خپله اقتصادي ساحه کې د مالي مديريت فعاليتونه پراخ کړي.

د دولــت د مــالي اقتصاد او خصوصي مالي اقتصاد ترمنځ ځانګړی توپير دا دی، چې د خصوصي اقتصاد موخه د هر ډول اقتصادي فعاليتونو په ترسره کولو کې يوازې ګټه ده، خو د دولت د مالي اقتصاد موخه يوازې د ګټې ترلاسه کول نه، بلکې د عامه سوکالۍ تامين هم دی.

د دندو له اړخه يې بيا توپير په دې کې دی، چې خصوصي اقتصاد په عمومي توګه خپل لګښت په خپلو تثبيت شويو محدودو دندو پورې تړي. همداشان د احتياج له پلوه يې توپير د عوايدو او لګښــتونو تقدم دی، چې له مخې يې د لګښــتونو پلان عيارېږي. د مېتود، د عوايدو د کړنلارو او د توليد د ماهيت له مخې يې توپير دا دی، چې د توليد خصوصي ســاحه په زياته اندازه د څيزونو د مادي توليد جنبه لري  او دولت د مادي په څنګ کې غيرمادي اړخونه هم په پام کې نيسي.

## د لومړي څپرکي پوښتنې

١ – د مالي چارو مفاهيم يو له بله سره تفکيك کړئ؟

٢ – مالي علم په کوم مفهوم سره له مالي اقتصاد څخه بحث کوي؟

٣ – مالي علم په اقتصاد کې څه ډول دندې ترسره کوي؟

۴ – د دولت مالي اقتصاد له اقتصادي علومو سره څه اړيکه لري؟

۵ – مالي علم په کومو ساحو کې څېړنې ترسره کوي؟

# دويم څپرکی

## مالي اصطلاح ګانې

**ټوليزه موخه:**

د مالي محاسبې د اصطلاح ګانو څېړنه، چې پر بنسټ يې اقتصادي پېښې تجزيه او تحليلېږي.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي تر لوستلو وروسته به لوستوال پر لاندې ټوکو لاسبري وي:

- عايداتي او بوديجوي اصطلاح ګانې.
- مالي معلومات چې سيستم يې له يوې تصدۍ څخه بلې تصدۍ ته توپير مومي
- د تصدۍ د حرکت راوستلو په چارو کې مالي اصطلاح ګانې.
- د دې اصطلاح ګانو په درك سره د دندې پر وړاندې ستاسې مسووليت توضيح کېږي.

**پانګه(Capital):** هغه پيسې چې يو سوداګر يا سوداګريز خدمتي ارګان يا نور ارګانونه ور باندې کاروبار پيل کړي، پانګه بلل کېږي.

**شتمني(Assets):** شتمني هغه ارزښتمن جنسونه او مالونه دي، چې د يوې ادارې يا ارګان ملکيت بلل کېږي او پر دوه ډوله ده:

- ثابته شتمني.
- ګرځنده شتمني.

### ثابتې شتمني Fixed Assets

هغه شتمني ده، چې د بيلانس د شتمنيو په خوا کې ځای لري او اوږدمهاله شتمنۍ په کې شاملېږي.

پــه ورځنیو چارو کــې کارول کېږي او په متمادي کلونو کې پراخه ګټه ترې اخیســتله کېږي او پــه لنډ وخت کې پر پیســو بانديې د تبادلې وړ نه وي، لکه ځمکه، ودانۍ، ماشــینونه، نقلیه وســایط او نور.

## ګرځنده شتمني Current Assets

هغه شــتمني ده، چې د بیلانس د شــتمنیو په خوا کې ځای لري او لنډمهاله شــتمنۍ په کې شــاملېږي او په لنډ وخت کې پر پیســو بانديې د بدلېدو وړ وي. لکه سوداګریزه امتعه، چك، بانکي شتمنۍ، د ترلاسه کېدو وړ حسابونو کڅوړه او نور.

**پورونه Loans:** پورونه یوه یا څو تنو ته د واکونو له سپارلو څخه عبارت دي، چې په راتلونکي کې یې په بدل کې یوه اندازه ګټه ترلاســه کوي، له دې پرته ورته حســنه پورونه ویل کېږي او پر دوو برخو وېشل کېږي:

- لنډمهاله پورونه.
- اوږدمهاله پورونه.

**جاري یا لنډمهاله پورونه Short term loans:** هغه پورونه دي، چې په یوه موده یا یوه مالي دوره(یوه کال)کې باید ورکړل شي، لکه د ورکړې مزد او نور.

**اوږدمهالــه پورونــه Long terms loans:** د څو مالي دورو یا څــو کلونو لپاره د اختیارونو له ورکولو څخه عبارت دي، لکه بانکي پورونه او نور.

**کمښــت یا تخفیف Discount:** له هغو پیســو څخه عبارت دی، چې د یوه معامله لرونکي له خوا بل معامله لرونکي ته یانې د خرڅوونکي له خوا بل شخص یا اخیستونکي یا مدیون ته د تخفیف په توګه محاسبه کېږي او په دوه ډوله دی:

- تجاري.
- نغدي.

۱. **تجاري تخفیف Trade Discount:** که پلورونکي پر پېرودونکي یو څیز پیري، هغه ته تخفیف ورکوي، چې د تجاري تخفیف په نامه یادېږي.

۲. **نغدي تخفیف Cash Discount:** که چېرې پر پوروړي بانديې پور ولري او وخت ټاکلی وي، په هغه صورت چې وکولی شي تر ټاکلې دورې مخکې پور پرې کړي، یوه اندازه پیسې د تخفیف په توګه حسابوي، چې نغدي تخفیف ورته وایي.

### بېل Voucher

هغه ليکلی سند دی، چې د خرڅوونکي له خوا اخيستونکي ته ورکول کېږي او د جنسونو څرنګوالی لکه د مقدار څرنګوالی او نورې ځانګړنې ښيي، چې نظر د شرکتونو او سازمانونو ځانګړو موخو ته کولی شي نور کم و زيات څيزونه په کې وي.

### اختصاصي رسمي حسابونه

اختصاصي رسمي حسابونه د حساب له صورت څخه عبارت دي، چې په هغه کې د ګټې او زيان د معرفۍ يادښتونه لکه(معاش، مزد، ګټه، د تخفيف محاسبه او نور صورت مومي.

**نوټ:** په رسمي حسابونو کې دېبېټ د لګښتونو او زيان له حساب صورت څخه عبارت او کرېډېټ د عوايدو له حساب صورت څخه عبارت دی.

حساب صورت په ټوليزه توګه په درې ډوله دی:

- د ګټې او زيان حساب صورت.
- د ثبت(ترازو) بيلانس.
- د پولي جريان شرحه.

**۱. د ګټې او زيان حساب صورت:** له مالي حساب صورت څخه عبارت دی او دا ښيي، چې يوه جنس ګټه کړې که زيان، د دي ترڅنګ ټول عوايد د کرېډېټ په څانګه کې او مخارج د دېبېټ په څانګه کې درجېږي.

**۲. د ترازو بيلانس:** له يوې مالي شرحې څخه عبارت دی، چې ګټه اخيستونکو ته معلومات په لاس ورکوي، ترڅو ګټه اخيستونکي د يوه ارګان پر مالي وضعه باندې پوه شي. همداشان په يوه ټاکلي وخت کې د شتمنيو، بدهيو او مالکيت ډول او ارزښت وښيي.

**۳. د پولي جريان شرحه:** له هغه مالي بيان څخه عبارت دی، چې د حسابي دورې لپاره له بهرني او کورني پولي جريان څخه رپوټ ورکوي او هغه چې پولي جريان د اجرايوي فعاليتونو، پانګوالي فعاليتونو او مالي فعاليتونو په توګه ډلبندي کوي.

د پولي جريان شرحه د سازمان له منابعو او له مالي وجوه څخه د ګټې اخيستنې رپوټ ورکوي او دا ښيي چې يو سازمان څه ډول پيسې ترلاسه کوي، د مالي وجوه منابع څه ډول پيسې لګوي(له مالي وجوه څخه ګټه اخيستنه)د پورونو د اخيستلو په شمول او د هغو بېرته ورکړه، د پانګې تبادلات او نور فکتورونه چې ښايي پر پولي وضعيت اغېزې ولري.

## مالي حساب صورت

هغه محاســبوي معاملې، چې د مالي راپور یا اشــخاصو د بهیر له لارې وړاندې کېږي. د بهرني مالي رپوټ بنسټ، د مالي حساب صورتونو مجموعه تشکیلوي.

## مالي شرحه

په مالي شرحه کې لاندې عوامل اړین دي:

۱. د بیلانس حساب صورت.

۲. د عوایدو یا بیلانس حساب صورت.

۳. د پیسو د نقدي جریان حساب صورت.

## واقعي حساب(دايمي حساب)

واقعي حساب د شتمنۍ، پورونو او پانګې له حسابونو څخه عبارت دی، چې په بیلانس کې ښودل کېږي. د لنډمهاله(جاري)حسابونو پر خلاف د عوایدو او لګښتونو له حسابونو، توزیع شوې ګټې څخه عبارت دی، البته د هغې توزیع شوې ګټې په استثنا چې د زیان او ګټې په حسابونو کې ښودل کېږي.

## کلیات

پــه دې مانا دي، چې یو شرکت یا ســازمان پیســې ترلاســه کړای شي. کله چې یو مشــتري یو محصول نن ورځ اخلي، شرکت حســاب صورت چمتو کوي، چې په مجموع کې اخیســتونکي ته د ورکړې(پرداخت)لپاره درې ورځې موکه ورکوي.

**موجودي:** د خرڅلاو لپاره د یوه شرکت په واسطه د ساتل شویو مالونو ښکارندویي کوي.

**استهلاك:** د یوې ثابتې شتمنۍ د بیې د تدریجي ټیټېدو له سلنې څخه عبارت دی، چې د وخت په اوږدو کې ورځخه ګټه نه کېږي.

**پېښــه(حادثه):** د یوې نتیجې پېښــېدل دي. پېښه په شتمنۍ، پورونو او پانګه کې د یوې منبع یا د بدولون لامل ده، چې کېدای شي کورنۍ او یا بهرنۍ بڼه ولري.

**معامله:** یوه بهرنۍ حادثه یا پېښه ده، چې د دوو یا تر دوو زیاتو نهادونو ترمنځ پېښېږي.

**حســاب:** یو منظم او سیســتماتیك ترتیب دی، چې پر یوه شــتمنۍ یا ځانګړې پانګه باندې د پېښــو او معاملې اغېزې ښــیي، چې د هرې یوې یانې شــتمنۍ، پانګې، پورونو، عواید او لګښتونو لپاره بېل بېل حسابونه شتون لري.

## ازمایښتي بیلانس

د ټولو حســابونو او د هغو د توپیرونو لېست راښــیي. ازمایښتي بیلانس، چې تر اصلاح شویو معاملاتو او اصلاحاتو وروسته، چې له ژورنال څخه لېجر ته انتقال شوي، جوړېږي او د اصلاح شوي ازمایښــتي بیلانس په نامه یادېږي. همداشان ازمایښــتي بیلانس کېدای شي، د حسابونو تر تصفیه کېدو یا تړل کېدو وروسته تشکیل شي، چې د حسابونو تر تړلو وروسته د ازمایښتي بیلانس په نامه یادېږي او یا کېدای شي په بل هر وخت کې جوړ شي.

## اختتامیه معاملې

هغه پروســه ده، چې د هغې په واسطه ټول مالي حسابونه تړل کېږي او صفر ته نږدې کېږي. وروســته د تشخیص شوې تصدۍ پایله د شــخصي سرمایې حسابونو ته لېږدول کېږي، چې د لیجر تړلو یا کتاب تړلو او یا یوازې تړلو یا تصفیه کولو په نامه هم یادېږي.

## دبت او کرېدت

د کرېډېټ او ډېبېټ اصطلاح معمولاً چپه او راســته ده. دا اصطلاح ډېری وخت په مخفف ډول لیــکل کېږي، یانې د ډېبېټ لپــاره (DR) او د کرېډېټ لپاره (CR) لیکل کېږي. د دې دوو اصطلاحګانــو مانا زیاتېدل او کمېدل نه دي. دا اصطلاحګانې د معاملاتو د ثبت پر مهال کارول کېــږي او دا د دې لپاره، چې توضیح یــې کړي، چې معاملات په کوم طرف ثبتېږي. د بېلګې په توګــه په چپ طــرف د معاملې ثبتول ډېبېټ(DR)بلل کېږي، برعکس په ښــي طرف د معاملې ثبــت کرېډېــټ(CR) بلــل کېــږي.

دا چې ډېبېټ د حسابونو په چپ طرف او کرېډېټ یې په ښي طرف کې وجود لري، د محاسبې قاعده ده او دا قاعده د ټولو محاسبوي حسابونو لپاره کارول کېږي.

## محاسبوي دوران یا لړۍ

د محاســبوي معاملو دوران د ثبت له ابتدا څخه تر اخره پورې د محاسبوي ثبت پروسه ښیي. ټولې تصدۍ د خپلو مالي حسابونو د جوړولو او د معاملو د ثبت لپاره له دې پروسې ګټنه کوي.

## ناترلاسه شوي عواید

هغــه عواید، چې منځ ته راغلي، مخکې له دې چې ترلاســه شي، د پــور په بڼه ثبتېږي، لکه: د کرایې عواید، د مجلو اشــتراکي وجه یا د ناترلاســه شویو عوایدو تر عنوان لاندې د مشتریانو مخکې له مخکې ورکړه. د بېلګې په توګه د خصوصي تدریس فیس د سمســتر له پیل څخه مخکې ترلاســه کېږي. ناتحصیل شوي عواید د مخکې له مخکې ورکړل شوو لګښتونو برعکس دي. په حقیقت کې

ناترلاســه شــوي عوايد د يوې کمپنۍ په حسابونو کې د بلې کمپنۍ مخکې له مخکې ورکړل شوي لګښتونه دي.

د په ګوته شويو عوايدو او په ګوته شويو لګښتونو د تعديلي معاملې ددوېمې کټګورۍ لپاره د په ګوته شويو عوايدو او په ګوته شويو لګښتونو د تعديلي معاملې دي او دا معاملې ايجابوي، چې هغه عوايد او لګښتونه چې په حاضره دوره کې منځ ته راغلي، خو د ورځنيو معاملو له لارې درج او تصفيه شوي نه دي، ثبت او تصفيه کړي. که دا معاملې صورت ونه مومي، د عوايدو حساب او همداشان د لګښتونو حساب لږ ښودل کېږي. پر دې بنسټ د ګوته شويو عوايدو او لګښتونو لپاره تعديلي معاملې اړينې او حتمي دي.

## په ګوته شوي عوايد

يانې په حاضره دوره کې د تصدۍ د خدمتونو د ترسره کولو له امله منځ ته راغلي وي، خو په نغد ډول ترلاسه شوي نه وي، په محاسبه کې د په ګوته شويو عوايدو په نامه درجېږي او دا عوايد ممکــن د وخــت په تېرېدو سره ډېروالی ومومي، لکه د ربحې، کرايې، او نور عوايد او يا ممکن د خدمتونو د ترسره کولو له امله منځ ته راشي، چې تر اوســه لاس ته نه دي راغلي او راتول شــوي نه دي، لکه د کمېشن فيس او نور په ګوته شوي عوايد.

هغه لګښتونه، چې د دورې په جريان کې منځ ته راغلي وي، خو ورکړل شوي نه وي، د په ګوته شويو لګښتونو په نامه پېژندل کېږي. لکه د ربحې، کرايې، مالياتو، مزد، او د کارکوونکو د معاشونو په ګوته شــوي لګښتونه. په حقيقت کې د يوې کمپنۍ په ګوته شوي لګښتونه د بلې کمپنۍ د په ګوته شويو عوايدو په حساب کې راځي.

## عقبي معاملې

وروسته له دې، چې مالي حساب بشپړ شي او د مالي دورې د ثبت کتاب وتړل شي، ځينې تعديل شوې معاملې مخکې له دې، چې د راتلونکي دور په حسابونو کې ثبت شي، مکرراً تر څېړنې لاندې نيول کېږي او نيمګړتياوې يې سمېږي. دا ډول نوې څېړنه د عقبي معاملاتو په نامه يادېږي.

د عمومي سنجونې پاڼې

د حسابي مسايلو د نورو زياتو اسانتياوو د مياشتني، درې مياشتني او يا کلني راپور ورکولو لپاره يوه مهمه وسيله ده. دا پاڼې ستونونه لري، چې د حسابونو د بيلانس د ښودلو او د مالي حسابونو د جوړولو لپاره ورڅخه کار اخيستل کېږي.

د سنجونې پاڼې د یوه محاسب لپاره مرستندویه وسیله ده، ترڅو ټول حسابونه وخت په وخت چمتــو کــړي. ضرور نه ده، چې مالي حســابونه د معاملاتو تر تعدیل او د حســابونو تر تړلو پورې وځنډول شي. د عمومي ســنجونې پاڼې د بیلانس شــیټ او د ګټې او زیان د حســاب په عوض نه کارول کېږي، بلکې د معلوماتو د ډلبندۍ او راټولولو لپاره یوه غیررسمي کړنلاره ده، چې د تصدۍ د مالي حســابونو د جوړولو لپاره ورځخه ګټنه کېږي. د یوه ســازمان یا تصدۍ لپاره د ســنجونې د پاڼو جوړول د ســمې محاســبې او له ډېرو جزیاتو سره د حســابونو د چمتو کولو په برخه کې ډاډ رامنځ ته کوي.

## بودیجه

د لازمــو مــالي منابعو له پلان څخه عبارت ده، چې د دندو ترسره کول او مالي موخو ته لاسرسی مشخصوي.

## اصلي بودیجه

هغــه مــالي پلان دی، چې د راتلونــکي کال یا راتلونکې مالي پلان جوړونــې دورې لپاره طرحه کېږي.

## اصلي نهادي موخه

د یــوه شرکت د لومړنیو مشــخصو موخو مجموعــه ده، چې د شرکت د مدیریت په واســطه مشخصه شوې وي او ټول کارکوونکي دې موخو ته د رسېدو لپاره کار کوي.

## د اوږدمهاله(ستراتېژیك)ګټې پلان

هغه صورت دی، چې اصلي نهادي موخو ته د رسېدو د پړاوونو جزیات پکې ذکر شوي وي.

## د ګټې یا مفاد پلان

له اصلي بودیجې څخه د زیان یا ګټې د حساب صورت برخې ته مفادي پلان وایي.

## د تولید بودیجه

د تولید په موخه د لازمو منابعو پلان، د امتعې د تقاضا فعلي مقدار او د راتلونکي خرڅلاو لپاره د امتعې د موجودیت له بسنې څخه ډاډ ترلاسه کول، بودیجه تولیدوي.

### د متغیرې بودیجې کرښه

هغه کرښه، چې د تولید په بېلابېلو اندازو کې د پام وړ میاشتني مخارج ښیي.

### د فعالیت انحراف

د ګټې له مخې د خرڅلاو یا تولید د فعالیت د بدلون اغېزو ته د فعالیت انحراف وایي.

### مطلوب انحراف

هغه انحراف دی، چې په یوازېتوب سره د عملیاتي مفاد د ډېروالي لامل ګرځي.

### نامطلوب انحراف

هغه انحراف دی، چې په یوازېتوب سره عملیاتي مفاد راټیټوي.

### د خرڅلاو د فعالیت انحراف

په اصلي بودیجه کې د عملیاتي مفاد او په متغیره بودیجه کې د عملیاتي مفاد له توپیر څخه عبارت دی. دا انحراف هغه وخت منځ ته راځي، چې د پلورل شویو واحدونو واقعي شمېر د هغو له اټکلي شمېر څخه توپیر ولري.

### د ګټې یا مفاد د انحراف تجزیه او تحلیل

د دې تحلیل چې ولې ترلاسه شوی اټکلي او واقعي مفاد یا ګټه توپیر سره لري.

### نغدي بودیجه

هغه صورت دی، چې په هغه کې د دورې په ابتدا کې نغدې موجودې پیسې، د انتظار وړ نغدې لاسته راوړنې او د دورې په پای کې پاتې شوې نغدې پیسې ښیي.

### عملیاتي بودیجې

ددې اصطلاح اطلاق د تولید پر بودیجې، اټکلي مفاد او زیان، د تولید شویو او پلورل شویو شیزونو پر اټکلي مخارجو او کمکي بودیجو باندې کېږي.

### مالي بودیجې

هغه بودیجې چې مالي سرچینې مشخصوي، لکه نغدي او اټکلي شیټ بیلانس بودیجه.

### انحرافات

د واقعي شمېرو او پلان شويو پايلو ترمنځ توپير ته انحراف وايي.

### ثابته بوديجه

له هغې بوديجې څخه عبارت ده، چې يوازې د فعاليت د مقدار لپاره ټاکل شوې وي.

### متغيره بوديجه

لــه هغې بوديجې څخه عبارت ده، چــې د فعاليت عوايد، مخارج او ګټه په بېلابېلو مقدارونو سره ښيي.

### د لګښت مرکزونه

د موسسې هغه واحد، چې د مخارجو د مقدار په مقابل کې مسووليت لري.

### د مفاد مرکزونه

د موسسې هغه واحد، چې د مفاد د مقدار پر وړاندې مسووليت لري. د مفاد مرکزونه معمولاً د عوايدو، مخارجو، د توليد مقدار او د خرڅلاو د مقدار پر وړاندې مسووليت لري.

## د دويم څپرکي لنډيز

په دې څپرکي کې د تعريفونو له پلوه د معاملو او پانګې په اړه يو سيستماتيك منظم ترتيب درك كېږي او له بوديجوي اصطلاحاتو سره اشنايي ليدل کېږي، لکه نغدي بوديجه چې په هغې کې نغدې موجودې پيسې او د مالي دورې په پای کې خپل شتون څرګندوي. د واقعي شمېرو او پلان شويو پايلو ترمنځ توپيرونه مطالعه شول. ثابته بوديجه چې يوازې د فعاليت د مقدار لپاره وي او يا دا چې د ګټې او مخارجو عوايد په مختلفو مقدارونو سره ښيي. او يا بوديجه د لازمو منابعو مالي پلان چې د دندو ترسره کول او مالي موخو ته رسېدنه مشخصوي، چې په هغې کې اصلي موخې، د مفاد پلان او د توليد بوديجه په پام کې نيول کېږي. همداشان پانګه، شتمني، ثابته شتمني، ګرځنده شتمني، پورونه او د هغو ډولونه د هغو له بېلابېلو پړاوونو سره او سوداګريز تخفيفونه، چې په هغو کې تجاري تخفيفونه، نغدي تخفيفونه، د رسمي او خصوصي حسابونو بېل او نور شامل دي. همداشان پر يو شمېر نورو مسايلو لکه عملياتي بوديجې، اصلي بوديجې، عملياتي ګټې او نورو په اړه بحثونه ترسره شول.

بايد وويل شي چې انحراف هغه مهال منځ ته راځي، چې د پلورل شويو واحدونو واقعي شمېر له اټکلي شمېر سره توپير ولري.

### د مفاد مرکزونه

د موسسې هغه واحد، چې د مفاد د مقدار پر وړاندې مسوولیت لري. د مفاد مرکزونه معمولاً د عوايدو، مخارجو، د توليد مقدار او د خرڅلاو مقدار پر وړاندې مسووليت لري.

## د دویم څپرکي پوښتنې

۱. پانګه څه ته وايي، تعریف یې کړئ؟
۲. بېل څه ته وايي؟
۳. رسمي او اختصاصي حسابونه څه ډول دي؟
۴. حساب صورت څه ته وايي، شرحه یې کړئ؟
۵. بیلانس شیټ تعریف کړئ؟
۶. مالي حساب صورت تعریف کړئ؟
۷. بودیجه څه ته وايي، تعریف یې کړئ؟
۸. د نغدي او عملیاتي بودیجې په اړه معلومات ورکړئ؟
۹. انحرافات او ثابته بودیجه تعریف کړئ؟
۱۰. شتمني تعریف کړئ او په څو ډوله ده؟
۱۱. پورونه څه ته وايي، شرحه یې کړئ؟
۱۲. د مفاد د مرکزونو په اړه خپل معلومات ولیکئ؟

# دریم څپرکی

## په بېلابېلو اقتصادي نظامونو کې د دولت مالي اقتصاد

### ټولیزه موخه:

په بېلابېلو اقتصادي نظامونو کې له مالي مدیریتونو سره بلدتیا او د دې نظامونو د عوایدو د راټولولو لارې چارې.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي تر لوستلو وروسته به لوستوال وکولی شي چې:

- له مالي پلوه د نظامونو په سیستم کې د دولت مداخله او اندازه کول توضیح کړي.
- په بېلابېلو نظامونو کې به له پولي او مالي وسایلو سره بلدتیا ومومي.
- د اقتصادي نظامونو ماهیت به درک کړي.
- د خصوصي او دولتي اقتصادي نظامونو له سکتور څخه به د مالیې راټولولو پر کړنلاره پوه شي.

### د دولت مالي اقتصاد او اقتصادي نظامونه

**Public finance Economic system**

د دولت تر مالي مدیریت لاندې د دولت مالي اقتصاد یا د عامه اقتصاد مدیریت له معمول سره سم د پولي او مالي وسایلو پر تهیه، اداره او کارونې باندې پوهېږي.

په پراخ مفهوم سره د مالي اقتصاد مدیریت همداشــان د شـتمنۍ اقتصاد او په ځانګړې توګه د دولت تشـبثاتي فعالیتونه هم احتوا کوي. د مالي اقتصاد حامل له دولت څخه عبارت دی، چې د سازمانولو د تر ټولو لوی مقام په توګه د ټولنې او اقتصاد لپاره یو لړ دندې پر غاړه اخلي. د دولت اقتصاد اساسـاً د عمومي او ټولنیزو اړتیاوو له پوره کوونـکي اقتصاد څخه عبارت دی او موخه یې

داده، چې د ټولنې د ټاکلو اړتیاوو ډولونه په یوه اقتصاد کې پوره کړي او د مالي اقتصاد د مدیریت دنده داده، چې د پورتنیو موخو د ترلاسه کولو لپاره د لازمو پولي او مالي وسایلو د تدارك شونتیا پیدا کـړي. په پخواني مالي مدیریت کې د دولت د مالي عوایدو د سـپمونې اړخ ته ډېره پاملرنه کېدله، حال دا چې نن ورځ د دولت د لګښتونو اړخ ته او پر اقتصادي وقایعو باندې د هغو اغېزو ته هم ځانګـړې پاملرنــه کېږي، چې په دې ترتیب د دولت د مالي اقتصــاد یوه جامع ملاحظه په ډولونو، ساختمان، عوایدو او لګښتونو په اندازې پورې اړوند ټول احتوا کوي.

سربېره پر دې د دولت اقتصاد او خصوصي اقتصاد ترمنځ د متقابلو اړیکو رعایت هم برقراروي، ځکه د خصوصي اقتصاد هر ډول مداخلت واردوي.

د دولــت د مــالي اقتصاد موخه د یوې ټولنې ټولو وګړو تــه د لویو منافعو او ګټو تأمینول دي، چې دې موخې ته د رسـېدو لپاره له عین هغو اقتصادي پرنسـپونو څخه کار اخیستل کېږي، چې د خصوصي اقتصاد په ســاحه کې ورڅخه کار اخیستل کېږي. پر دې بنسټ د دولت د مالي اقتصاد د مدیریت او خصوصي مدیریت ترمنځ توپیر اساساً په کړنلاره او د پولي او مالي وسایلو په کارولو کې نه دی، بلکې د بېلابېلو موخو په تعقیب او ترلاسه کولو کې دی.

## د دولت د مالي اقتصاد مدیریت او د سوداګرو د مکتب مرکنیتلیتي نظام

### Public finance in mercantilism

د مرکینتلیت دولت اقتصادي سیاســت مهمه موخه د مثبتې سوداګرۍ بیلانس ته نایلېدل وو، چې دې موخې ته د رسېدو لپاره په اقتصادي چارو کې د دولت ډېره مداخله په کلي صورت او په لاندې چارو کې په خاص صورت مطالبه کوله.

۱. د هېوادونو په دننه کې د تولید او اســتخدام د ســطحې د لوړولو په موخه د دولتي تصدیو تاسیس او تقویه، ترڅو د هغو په وسیله صادرات زیات او واردات کم شي او په پایله کې د مثبت تجارت بیلانس نایل شي.

۲. د امتیازونــو د ورکولــو له لارې د خصوصي صنایعو تشــویق او له خصوصي متشــبثینو سره مستقیمې او نامستقیمې مالي او پولي مرستې.

۳. د ګمــرکي او صــادراتي تعرفو د وضعه کولو له لارې د اومو او نیــم کاره توکو د صدور منعه کول، ترڅو یاد توکي په کورنیو صنایعو کې د کار پر محصولاتو بدل شي او په دې ترتیب له کورنیو خامو توکو ګټه واخیستل شي.

۴. پــر واردو شــویو صنعتي محصولاتو باندې فوق العاده لوړ ګمــرکي محصولات وضعه کول، ترڅو د وارداتي محصولاتو د ورود مانع شي او په دې ترتیب د هېواد اسعاري ورکړه لږوالی ومومي.

۵. پر اومو واردو شویو توکو باندې د لږو ګمرکي محصولاتو وضعه کول، ترڅو له دې لارې اومو توکـو ته هڅونه زیاته او د هېواد په دننه کې پر کارتمامــه محصولاتو بدل شي. اروپایي هېوادونو پخوا غوښــتل د مرکنتلیتي موخه تعقیب کړي. د اقتصادي او ټولنیزو ســاختمانونو له پلوه یې یو له بله سره ډېر توپیرونه درلودل. پر دې بنســټ دې هېوادونو د خپل هېواد د اقتصادي او ټولنیزو ســاختمانونو مطابــق د دولت د مــالي او اقتصادي سیاســتونو بېلابېل تدبیرونه تــر ډېره د بهرنۍ ســوداګرۍ انکشــاف او پراختیا، بېړۍ چلولو او د زېبښــاك توب سیاســت ته را وګرځول. ترڅو د بهرنــۍ ســوداګرۍ د پراختیا له لارې په ټولنــه کې محصول لوړ او په پایله کــې یې د صادراتو د زیاتوالي او وارداتو د کموالي له امله د تجارت بیلانس ځان ته مثبته بڼه غوره کړي.

همداشــان د فرانســې په هېواد کې هم بېلګه لــري. دې هېواد هڅه وکــړه چې د خپل مالي سیاست په چوکاټ کې کورنۍ سوداګرۍ او کورنیو صنایعو ته ډېره وده ورکړي، چې دې موخې ته د رســېدو لپاره له یوې خوا دولتي تصدۍ تاســیس او پراختیا ورکړل شوه او له بله پلوه د خصوصي صنایعو د پراختیا او تقویې لپاره خصوصي متشبثینو ته انحصاري امتیازونه ورکړل شول او سربېره پر دې له هغوی سره مستقیمې او نامستقیمې مالي او پولي مرستې وشوې.

یــا دا چــې د المان دولت کوښــښ وکړ، چې د خپل مالي سیاســت په چوکاټ کــې د کډوالو د ډېرښــت او امکان سیاســت تقویه او مســاعد کړي، چې دې موخې ته د رســېدو لپاره، بهر ته مهاجرت منع اعلان شــو او مهاجرتونو د تشــویق په موخه د هېواد په دننه کې بهرنیو کډوالو ته لازمې اسانتیاوې برابرې شوې او له هغوی سره لازمې مالي مرستې وشوې. پر دې بنسټ د پورتنیو تدبیرونــو په نیولو سره په ډېری هېوادونو کې چې د مرکنتلیتي موخه یې تعقیب او عملي کوله، د مالي اقتصاد ساحه یې هم پراخېدله.

## د دولت اقتصادي نظام د لیبرال (اقتصادي ازادي غوښتونکي) اقتصاد په نظام کې
## Public finance in mercantilism

د ازادي غوښــتنې د اقتصادي مشــخصې مهمه مطالبه چې کلاســك علما یــې مطالبه کوي، د اقتصــادي فعالیتونــو او مارکېټ په چارو کې د دولت نه مداخله کول دي. او د وګړو په خصوصي ابتکار پورې یې تړاو درلود. د هغوی د نظریې له مخې د ازادۍ په امکانو کې د ټولنې د وګړو لپاره هر وګړي د خپل توان، قدرت او فکري استعداد په اندازه دنده غوره کوله، چې د هغه د سوکالۍ تر ټولو غوره وجه به یې تامینولی شوای.

پر دې بنســټ کله چې د ټولنې ټول وګړي دا ډول مفکوره د عمل په ســاحه کې پیاده کړای شي، یو مسلم امر دی، چې یوې ټولنیزې سوکالۍ ته چې د ننیو دولتونو اساسي موخه ده نایلېدلی شي. پــه دې خاطــر چې ټولنه له وګړو جوړه شــوې او د ټولو وګړو د ســوکالۍ تامینول د ټولنې د

سوکالۍ لامل کېږي، له دې امله په دې اقتصادي نظام کې د د دولت د مالي او اقتصادي مدیریت د فعالیتونو امکانات په حد اقل اندازه مطالبه کېږي او د هغو له مخې د مالي اقتصاد ساحه هم ډېره محدوده او کمه وي.

د مالي اقتصاد د پلویانو په ځانګړې توګه د لزالي Lazalle چې د دې نظام یو مدافع و، د نظریې له مخې، دولت باید د خپل اقتصاد په ساحه کې تولیدي او ساختماني دندې ترسره نه کړي، بلکې د اقتصادي نظم د تامین په موخه یوازې انتظامي دندې ترسره کړي. په دې مانا دولت د ځانګړو قوانینو او مقرراتو د وضعه کولو له لارې تدبیرونه ونیسي او د هېواد په مالي نظام کې یې منځ ته راوړي، ترڅو د هغو په چوکاټ کې د خصوصي فعالیتونو او خصوصي نوښتونو د پراختیا لپاره شرایط برابر شي.

دا چې د اقتصاد مالي ساختمانونه او زېربنایي ساختمانونه هم احتوا کوي، پر دې بنسټ په لومړیو کې زېربنایي ساختمانونه هم د دې نظام پلویانو د دولت لپاره مجاز نه بلل، خو وروسته کلاسیکو علماوو او د هغوی پلویانو له تجربوي نظریې دې حقیقت ته ورسېدل، چې له یوې خوا د اقتصادي زېربناوو له شتون پرته، په یوه ټولنه کې د مالي اقتصاد انکشاف ناشونی دی او له بله پلوه په دې برخه کې خصوصي اشخاص د خپلو ګټو د ترلاسه کولو د نه امکان پر بنسټ بې علاقې کېږي. یوه مشهور پوه آدم سمیټ داسې نظر ورکړی:(د دې ډول دندو ترسره کول هم پر غاړه واخلي، چې خصوصي اشخاص د یادو دندو په ترسره کولو لاس پورې نه کړي او د هغو له مخې د دولت مالي ساحه پراخه شوې ده.)دا ډول مالي نظامونه د یوه اقتصادي نظام په توګه د مرکزي پلان(سوسیالېستي او کمونېستي)په مخالف قطب کې قرار مومي، چې اوسمهال په خپل لومړني مطرح شوي شکل په نړۍ کې شتون نه لري، ځکه اوس په نړۍ کې داسې هېوادونه نه شته چې دولت پر پورتنیو دندو سربېره د اقتصادي تولید او ساختمان په نورو فعالیتونو کې په لږه یا ډېره کچه برخه ونه لري.

## د دولت د مالي اقتصاد مدیریت د مرکزي پلان په اقتصادي نظام کې
## Public finance in Central planning Economic System

په مالي مدیریت کې مرکزي پلان جوړونه د تولیدي وسایلو د دولتي کېدو له امله د ټولنیز محصول لویه برخه مستقیماً له دولت سره تړاو لري. پر خلکو باندې د ټولنیز محصول وېشنه د ټاکلي عاید مطابق د دولت له خوا ترسره کېږي. دولتي فعالیتونه د خپلې اړتیا وړ مالي وسایل د خپل محصول د خرڅلاو له لارې د مالي اقتصاد د پلانونو د پرتلنو له مخې ترلاسه کوي.

دا چې په هغو هېوادونو کې، چې د مرکزي پلان درلودونکي دي، ټولګټې موسسې هم شتون لري، چې د خرڅلاو لپاره څیزونه او خدمات نه لري او عاید هم نه لري، لکه ښوونځي، روغتونونه

او نورې عملي او څېړنيزې موسسې. پر دې بنسټ اړ دي، چې د دې ډول موسسو د اړتيا وړ مالي وسايل له خلکو څخه د مالياتو د راټولولو  او يا هم له دولتي تصديو د مستقيمو مالياتو د ترلاسه کولو له لارې تهيه او تدارك کړي.

پــه اقتصاد کې د دولتي تصديو له مدرکه د مســتقيمو مالياتو مرکزي پلان جوړونه د دولت د ماليــاتي عوايدو د ملا تير جوړوي، چــې پر توليداتو باندې د دولت دا ډول ماليات په عمومي ډول په لاندې دوو بڼو تر لاسه کېږي:

يو بڼه يې له دولتي تصديو څخه پر توليداتو ماليات او پر خدمتونو ماليات دي، چې د مالیې د سنجونې اساس يې د فعاليت ځای د خرڅلاو له دوران څخه عبارت دی.

پر توليداتو باندې ماليات خاصتاً د لګښــتي ځيزونو له منابعو څخه ترلاســه کېږي او د توليدي صنايعو د تشــويق او تقويې په موخــه دا ډول صنايع، چې توليدي وســايل توليدوي، پر توليداتو باندې له مالياتو څخه معاف ګڼل کېږي.

بل شــکل يې دا دی، چې پر توليد د دې مالياتو په څنګ کې همداشــان د تصديو مفاد هم پر مفاد باندې د مالياتو تابع کېږي، چې له دې امله د فعاليت ځای ماليات د دوو مجراګانو سيســتم لرونکو مالياتو په نامه يادېږي. پر مفاد باندې د مالياتو د ترلاسه کولو په صورت کې د ترلاسه کېدو وړ مجموعي مفاد څخه د مالي او ټولنيزو لګښــتونو له مخې د فعاليت ځای په داخل کې تفريق کېږي او پاتې برخه يې پر ماليې باندې د مکلف مفاد په توګه د ماليې تابع ګرځول کېږي، حال دا چې د خصوصي ســکتور په اقتصاد کې د اقتصادي معاملو اصلي موخه مفاد ته نايلېدل دي او دې موخې ته د رسېدو لپاره هڅه کېږي، چې له يوې معقولې اقتصادي رهبرۍ څخه کار واخيستل شي. د اقتصــاد پــه مرکزي پلان جوړونه کې د معقولو تقاضاوو د فعاليــت ځايونو ته بايد مفاد مجبور وګڼل شي، په حقيقت کې د دولت د مالياتي عوايدو لويه برخه د مجرا سيســتم د مقياس له مخې په مستقيم ډول د فعاليت له ځای څخه ترلاسه کېږي.

پــه اقتصــاد کې مرکزي پلان د بازار د اقتصاد خلاف پر بيــو باندې ماليات هېڅ اغېزې نه لري، بلکې لوړې بيې ماليات ټاکي. دا چې د اقتصاد په مرکزي پلان کې عايد او بيې د دولت له خوا ټاکل کېــږي، نو پر دې بنســټ دولت د دوو پورتنيو کميتونو له مخې د ځيزونــو توليد تعينوي. په دې ترتيب د مجموعي عرضې او مجموعې تقاضا ترمنځ توازن رامنځ ته کېږي.

ځکــه د بېلابېلــو اقتصادي ســکتورونو د اقتصاد د مرکزي پلان په نظام کــې د کرنې، صنعت، سوداګرۍ او نورو دولتي خدمتونو سکتورونه شامل دي. پر دې بنسټ د ټولو پلانونو طرحه او پلې کــول د يوې مرکــزي اداري له خوا ترسره کېږي او د يادو پلانونو تحويل هم د دولت له خوا ترسره کېږي، پر دې بنسټ په دې اقتصادي نظام کې توليدي پلانونه په عين حال کې مالي پلانونه هم بلل

کېږي او په دې ترتیب د دولت مالي ساحه فوق العاده پراخېږي.

لــه دې امله پــه دې نظام کې چې هر څومره د دولت مالي او اقتصادي ســاحه پراخه وي، په هماغــه اندازه پر اقتصاد زیاتــې اغېزې پرېباسي. د دې ډول پلان لرونکو هېوادونو نظر د ازاد بازار اقتصــاد هېوادونــو ته پــر اقتصادي وقایعو باندې ډېرې اغېزې شــیندلې او پــه دې ترتیب له مالي سیاســت څخه د رهبرۍ، کنټرول او ملي اقتصاد د ودې لپاره د یوې وســیلې په توګه کار اخیســتل کېدای شي.

د اقتصــاد په مرکزي پلان کې بودیجه د مالي سیســتم عمــده برخه جوړوي او ټول پولي وجود احتوا کوي، چې په مســتقیم ډول د دولت د ارګانونو پر وړاندې تشــکیل شوی دی او د هغوی په وســیله د ګټې اخیســتنې وړ ګرځي او د دولت د بودیجې په وســیله د اقتصادي وقایعو عملیه او جریان د پلان مطابق کنټرول او رهبري کېږي. همداشان د بودیجې په وسیله د عاید پر نوې توزیع باندې مهمې اغېزې پرېوځي.

د اقتصاد د مرکزي پلان درلودونکو هېوادونو کې د دولت د بودیجې جوړښت او ماهیت نظر د بازار اقتصاد لرونکو هېوادونو ته اساسي توپیرونه څرګندوي. په دې مانا د ازاد بازار اقتصاد لرونکو هېوادونــو کې د دولــت د عوایدو لویه برخه د مالیاتي منابعو له لارې ترلاســه کېږي، حال دا چې د مرکــزي پلان لرونکو هېوادونــو په نظام کې د هغو برعکس د دولت د عوایدو لویه برخه د ملي شویو شتمنیو له مدرکه لاس ته راځي او د بودیجې په تمویل کې مالیاتي عواید ډېره کمه برخه لري.

د مرکزي پلان لرونکو هېوادونو کې د دولت بودیجه د اســاسي پرنســپونو مطابق له پلان سره سمه ترتیبېږي، چې دا پرنسیپونه عبارت دي له:(د بودیجې عمومي پرنیسپونه، د بودیجې د توازن پرنسیپونه، د بودیجې د سیمونې پرنسیپونه، مالي یووالی، د پلان جوړونې پرنیسپونه او د دیموکرات مرکزیت پرنسیپونه).

د بودیجې د توازن یا تعادل پرنیســپ په مرکزي پلان لرونکو هېوادونو کې  له علمي او نظري پلــوه پــه جدي توګه رعایتېږي، حال دا چې په ازاد بازار لرونکو هېوادونو کې دا پرنســیپونه ډېری وختونه نظري اړخ لري.

پــه واقعیت کې د دې هېوادونو بودیجه ډېری وختونه کسرات یا زیاتېدنې(مازاد)لري او اصلي لامــل یې دا دی،  چې په ازاد بازار لرونکو هېوادونو کې د عاید او بیو بدلونونه د اقتصادي اوضاع او شرایطو د بدلون له امله د دولت په بودیجه کې د بدلونونو لامل هم کېږي. د اقتصادي شرایطو مطابــق د دولت د بودیجې د توازن کسر په مــازاد باندې بدلوي، حال دا چې د اقتصاد په مرکزي پــلان کــې لکه مخکې مو چې یادونه وکړه دواړه پورتني کمیتونه د دولت له خوا ټاکل کېږي او پر دې بنسټ په ثابته بڼه وي.

## د مداخلوي(ګډ)اقتصادي نظام مدیریت

د مداخلــوي اقتصاد په نظام کې یانې په اقتصادي چارو کې د ورځ په ورځ زیاتېدونکو دولتي فعالیتونــو زیاتوالی، چې د ازادي غوښــتنې(لیبرال)اقتصادي نظام تعدیل شــوې بڼه ده، یوه پراخه ســاحه د دولت د مالي او اقتصادي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره پراخه شــوې ده. د ګډ اقتصاد په نظام کې هم ازاد بازار چې په هغه کې شــخصي مالکیت او شخصي تشبثات قانوناً رسمیت لري او هم دولت د متشبث د مالك او هم د کنټرولوونکي په توګه په اقتصادي فعالیتونو کې نافذ حضور لري.

په دې مدیریت کې د ننني نړۍ ټول هېوادونه شاملېږي، چې د اقتصاد د مرکزي پلان د نظام درلودونکي نه دي. په ګډ نظام کې د دولت د مالي اقتصاد ساحه طبعاً یوه بل هېواد ته توپیر مومي، چــې حــدود او اندازه یې د هــر هېواد په بودیجه کې انعکاس مومي. پــه دې مانا کله چې د یوه هېواد بودیجه د هغه د ملي عاید په تناســب مقایسه شي، د هغه له مخې په دقیق ډول پوهېدای شــو، چې د دولت د مالي اقتصاد ســهم یا په ملي اقتصاد کې د دولت د مداخلت حدود په کومه اندازه دي. د دې مقایســې په واســطه علاوتاً په یوه هېواد کې د دولت د مالي اقتصاد د ســاحې پراخوالی نظر بل هېواد ته ثبتېدلای شي.

د امریــکا متحد ایالتونــه او نور پرمختللي لوېدیځ هېوادونه د ګــډ اقتصاد درلودونکي دي. ګډ اقتصاد، د اقتصاد هغه ډول دی، چې دولت له هغه څخه د ملاحظې وړ اجناس او خدمتونه عرضه کــوي او د خصوصي اقتصــاد فعالیتونه منظموي. په دې ډول اقتصاد کــې دولت ډېرې وختونه پر خصوصي اقتصاد څارنه کوي او د دولت له بلاعوضه مرستو ګټه اخلي. په ګډ اقتصاد کې د اجناسو او خدمتونو ټاکلی مقدار په ســیاسي موسســو کــې صورت مومــي او دا کار د اقتصادي واحدونو مثــلاً اخیســتونکو او پلورونکو ترمنځ د اړیکو لامل کېــږي، خو په هغه صورت کې چې اجناس او خدمتونه د مارکېټ په وســیله جوړ شي، ښــاریان د خپل میل له په پام کې نیولو پرته د دولت د خدمتونو ملاتړ کوي.

د مداخلې یا ګډ اقتصادي نظام د ۱۹ پېړۍ په وروستیو کې په المان کې منځ ته راغی. بنسټېزه موخه یې دا وه چې د یوې ازادې فضا په تضمین سره د دولت د خصوصي نوښت لپاره د خپلو مالي فعالیتونو د پراختیا له لارې دا ډول نامطلوبې پایلې او اغېزې چې د اقتصادي جریان له اثره د بازار اقتصــاد په یــوه نظام کې منځ ته راځي مخنیوی او د اقتصادي وقایعــو جریان د ټولنې او اقتصاد په ګټه تر اغېزو لاندې راولي، تر څو په دې ترتیب د اقتصاد د بعدي انکشاف زمینه مساعده شي.

## د اسلامي اقتصاد په نظام کې مالي مدیریت

اســلامي حکومت د اقتصاد په برخــه کې د پراخو واکونو او دنــدو د ملکیت درلودونکی دی، پــه دې برخه کې یې دولــت د پراخې څارنې او مداخلې زمینه برابره کړې ده. د اســلامي اقتصاد

په نظام کې ټولې اقتصادي سرچينې او طبعي شـتمنۍ چې عامه ګټې په کې نغښـتې وي په بيت المال پورې اړوندېږي او يا د اسـلامي دولت په واکونو کې راځي، لکه ځنګلونه، کانونه، رودخونې، سيندونه، لوړې سطحې، اوبه او نور. په طبيعي توګه دا ملکيتونه او سرپرستۍ له بېلابېلو اقتصادي پديدو لکه توليد، توزيع او لګښـت يې لازمې اغېزې لري او په ټولو زمينو کې د دولت مسـتقيمې او نامسـتقيمې مداخلې ته زمينه برابروي. خو د اسلامي اقتصاد د سياست طبيعي وضعيت دادی، چې دا ډول شـتمنۍ همداشـان د دولت په مالکيت کې پاتېږي او هېڅکله د خصوصي سکتور په وسيله د ګټې اخيستنې وړ نه ګرځي. په واقعيت کې نظر اسلامي اقتصاد ته د پانګونې له اقتصادي نظامونو، سوسياليستي په ځانګړې توګه خامو شتمنيو سره اساسي توپير په دې کې دی، چې اسلامي دولت له يوې خوا د دې ډول شـتمنيو مالکيت پر غاړه لري او د پانګونې د نظام خلاف د دې ډول شتمنيو د ابتدايي توزيع په باره کې د ځارنې او کنټرول حق لري. له بلې خوا د اسلامي اقتصاد سياست د سوسياليستي نظام پر خلاف دی، چې د ټولنې وګړي له دې طبيعي منابعو ګټه پورته کړي.

په واقعيت کې يو له عمده وسايلو څخه، چې دولت کولی شي توزيع يې په طبيعي ډول د پام وړ موخو په مسـير رهبري کړي، د ټولنې د طبيعي منابعو او خامو شـتمنيو پر په نسـبت د هغه واك او مالکيت دی.

د دولت د مداخلې او تمرکز په اړه د اسـلامي اقتصاد ليدلوری دا دی، چې د ټولنې په طبيعي وضعيت کې خلکو ته اقتصادي ازادي ورکړل شي او د مالکيت خوصوصي برخه تر ټولو ډېر توليدي واحدونـه پر غـاړه واخلي او دولت د ټولنې د وګـړو پر ټولو اقتصادي فعاليتونـو باندې ځارنه او کنټـرول ولري او يوازې په اقتصادي حياتي او سـتراتېژيکو برخو کـې، د توليد، توزيع او دخالت له نظـره کنټرول وکـړي، چې په حقيقت کې د دولت مالي رول ډېـر اهميت لري. د حکومت دنده لــه اقتصادي بې عدالتــۍ مخنيوی، د اقتصادي ثبات رامنځ ته کـول او د انحصاراتو مخنيوی دی. تاسيســات، موسســې او ټولګټې خدمتونه، چې خصوصي سکتور د هغو علاقمند نه وي او يا يې د تاسيس توان ونه لري، لکه ځمکنۍ بشپړتيا، ښوونه او روزنه، ساينس او ټېکنالوژي، برېښنا او نور، د اسلامي دولت له مهمو دندو ګڼل کېږي.

د اسلامي حکومت عمده دندې دا دي:

١ – د لوږې، بې کارۍ او غربت له منځه وړل.

٢ – د پيسو د حقيقي ارزښت ساتل.

٣ – د شريعت(قانون)پلي کول.

۴ – د امنيت خونديتوب او د عايد عادلانه وېش.

۵ – د نړيوالو اړيکو تامين او د سرحدونو دفاع.

۶ – مالي مســایل، چې په اســلامي مدیریت کې مادي او معنوي شرعي موخو ته د رسېدو، ور سپارل شویو دندو ترسره کولو، دنیوي او اخروي ګټو تامین او د اړتیاوو د تامین په برخه کې له بې ځایه لګښتونو د مخنیوي لپاره د وسیلې په توګه ورڅخه ګټه اخیستل کېږي.

دولتــي او خصوصي ســکتورونه باید حلال ځیزونه تولید کړي، عامه اړتیاوې لکه ښــوونه او روزنــه، روغتیا، ســړکونه او نورې ټولګټې پروژې په پام کې ونیــسي او د خلکو روحي روزنې ته جــدي‌پاملرنــه‌وکــړي.

## د اسلامي دولتونو عایداتي سرچینې

اســلامي دولــت د ټولنــې د ادارې او د هغو دندو ترسره کول، چې په هغــو کې د د مادي او معنوي نېکمرغۍ او ســوکالۍ موخې نغښــتې وي، د عایداتي سرچینې او مشــخصو لاس ته راوړنو درلودونکی دی، چې دا ور ځینې عایداتي سرچینې په مستقیم ډول په دولت پورې اړه لري، چې له هغو څخه د انتقال په توګه(ټول هغه اموال او املاك چې د اســلامي دولت په مالکیت کې دي) تعبیرېږي او په عین حال کې د اسلامي دولت په واك کې دي. له دې امله، چې د ټولنې د عامه ګټو خوندي کوونکی دی، یاد مالي وسایل هم په خپله عهده کې لري.

د اسلامي دولت عایداتي سرچینې په دوو کټګوریو وېشل شوي:

**۱. لومــړني ثابت مالیات:** هغه مالیات دي، چې د مقدار، د اېښــودلو مــوارد او مجموعه یې مســتقیماً د شریعت له خوا مشخص شــوې وي، لکه ذکات، خمس، عشر، خراج، جزیه، صدقه، له وارث پرته وقف، چې د ثابتو مالیاتو په نامه هم یادېږي.

**۲. متغیر یا حکومتي مالیات:** د مالیاتو له بېلابېلو ډولونو څخه عبارت دي، چې اســلامي حاکم کــولی شي، د هغــو ځانګړي شرایط وضعه کــړي. د مقدار موارد او هغوی ته ځانګړی نســبت په ســپېڅلې شرعه کې ورته په پام کې نه دی نیول شــوی، بلکې د حکومت او ټولنې د اړتیاوو تابع دي، چې د اسلام حاکم هغه په پام کې نیسي. لکه د طبیعي سرچینو عواید(کان، سړکونو، سیندونو، لویو رودخونو)، پر وارداتو باندې بېلابېل مالیات، له سود پرته پورونه، د دولتي خدمتونو او املاکو عواید او د مالیاتو بېلابېل ډولونه.

## د درېیم څپرکي لنډیز

عاید له دولتي تصدۍ څخه لاس ته راځي، د مختلط اقتصاد په نظام کې په ټولو اقتصادي چارو کې د دولت مداخله ډېره ده او د اسلامي اقتصاد په نظام کې د دولت مالي اقتصاد پراخ ملکیتونه، امتیازونه او دندې لري. په پراخ مفهوم سره د مالي اقتصاد مدیریت همداشان د شتمنۍ اقتصاد او په ځانګړې توګه د دولت تشبثاتي فعالیتونه هم احتوا کوي. د دولت مالي مدیریت هم په ملي عاید کې د هغه د سهم له نظره او هم په مختلفو اقتصادي نظامونو کې له مطلق پلوه زیات توپیرونه شــيي، او د دولت د اقتصادي سیاســت مهمه موخه د سوداګرانو په مکتب کې د مثبتې سوداګرۍ بیلانس ته نایلېدل وو، چې دې موخې ته د رسېدو لپاره د دولتي تصدیو د پیاوړتیا په چارو کې د دولت ډېره مداخله وه.

په اســلامي اقتصادي نظام کې طبیعي شــتمنۍ چې عامه ګټې په کې شاملې دي په بیت المال پورې اړه لري او یا هم د اسلامي دولت په اختیار کې راځي. د خلکو پر وړاندې د اسلامي دولتونو مهمــې دنــدې، د فقر او بــې کارۍ له منځه وړل، د ټولنیز عدالت تامین او د مســلمانانو ترمنځ د امتعې عادلانه وېش دی.

## د درېیم څپرکي پوښتنې

۱. د مرکزي پلان جوړونې په نظام کې عواید له کومه مدرکه لاس ته راځي؟
۲. د مرکزي پلان جوړونې په نظام کې له دولتي تصدیو څخه څو ډوله عاید لاس ته راځي؟
۳. د مکنتلستانو د اقتصادي سیاست بنسټیزه موخه څه وه؟
۴. د اقتصادي بحران او رکود په دوره کې له دولت څخه څو ډوله دندې مطالبه کېږي؟
۵. په اسلامي نظام کې د دولت مالي اقتصاد څه ډول ارزوئ؟
۶. لومړني او ثابت مالیات د اسلامي اقتصاد په نظام کې څه مفهوم لري او کوم ډولونه لري؟
۷. د اسلامي اقتصاد متغیر یا حکومتي مالیات څه ډول توضیح او له کوم مدرکه لاس ته راځي؟
۸. له دولت څخه د مرکنتلیزم نظام تر ټولو مهمه مطالبه څه ده؟
۹. د متغیرو حکومتي مالیاتو په اړه معلومات ورکړئ؟
۱۰. د شریعت او قانون پلي کول واضح کړئ؟
۱۱. اسلامي عایداتي سرچینې واضح کړئ؟

# ځلورم څپرکی

## د مالي مدیریت برخې

**ټولیزه موخه:**

د مالي پلان جوړونې مطالبه او د عوایدو د راټولولو پر ټاکلي وخت مالي کنټرول.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي تر لوستلو وروسته به پر دې لاسبري وئ، چې:

- د عوایدو او لګښتونو د راټولولو لپاره د منظمو پلانونو پر ترتیب پوه شئ.
- په قاطع تصمیمونو او د عامه کنټرول لپاره په سم ډول پلانونه پلي او توضح کړئ.
- تېرمهال او راتلونکي مهال ته په پام سره په مالي مسایلو کې تېروتنې په ګوته کړئ.

### مالي کنټرول

مالي کنټرول یو مهم او بنسټیز فعالیت دی او د سازمان د موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، مالي کنټرول لاندې پوښتنې مطرح کوي:

۱. ایا له شتمنۍ څخه په مثمره توګه ګټه اخیستل شوې ده؟

۲. شتمني خوندي ده او که نه؟

۳. مالي مدیریت د برخوالو له علاقه مندۍ او اړوندو مقرراتو سره سم عمل کوي؟

### د کنټرول کولو په اړه معلومات

کنټرول کول د محاسبې په وسیله ترسره کېږي، چې ټوله پروسه د موخو ټاکل، پلان جوړونه او

کنټرول د لارښوونې او تنظیم په مفهوم د مالي معاملاتو په ساحه کې احتوا کول دی.

د کنټرول کولو موخه یوازې کنټرول نه دی، بلکې د ټاکل شویو سیاسي موخو د ترلاسه کولو په خاطر د اغېزناکو شغلي او یا اقتصادي قواعدو په اړه یو کلي تصویر وړاندې کوي.

په دې منظور د کنټرول کولو پروســه باید تصمیم نیوونکو اشــخاصو ته په مناسب وخت سم معلومات ورکړي. د کنټرول کولو مفهوم د کنټرولر له اصطلاح سره تړاو نه لري، بلکې کنټرول کول د مدیریت او کارکوونکو له مســوولیتونو څخه دي او د مدیریت هر غړی د مالي کنټرول له دندو نه په قانوني توګه خبر دی.

د مالي کنټرول پروســه د یوه ســازمان اقتصادي ضمیر(وجدان)دی. د یوه کنټرولر کار د بېړۍ لــه یوه کفتان سره ورته دی. مالي کنټرولــر د راکړې ورکړې د معاملو د مدیریت تنظیمونکی دی، چې له هغو معلوماتو څخه په ګټه اخیســتلو سره نوموړی(د کنټرول د پروسې دوران، د پروژې د حسابونو جمعه، د پانګې جمعه او نورو)په برخه کې مرسته کوي او د موخو او مقاصدو د ترلاسه کولو په منظور یې د راکړې ورکړې په بېلابېلو اداري معاملاتو کې پر سمه لار روانوي. له دې امله کنټرولر باید داســې کنټرول ورکړي، چې ایا په توافق شــوي تګلوري باندې روان دی او که نه. د یادونې ده، چې مالي کنټرولر له کنټرول کولو سره ځانګړی توپیر لري.

مالي کنټرول پر تېرو، تېروتنو ښــودلو، د ګروپونو په تشخیص، تورنولو، مجازاتولو باندې تمرکز دی. حــال دا چــې کنټرول کول د مدیریت په برخه کــې کارول کېږي، چې پر راتلونکې، پلان کولو، مشاهده کولو، منظم کولو، رهنمایي کولو او انساني ځواك باندې تمرکز لري.

کنټــرول کول هېڅکله د مدیریت انحصاري بڼه نه ده، بلکې د مدیریت مرســتندوی دی او د یوه سیستم د تاسیس لپاره لازم معلومات ورکول دي، ترڅو د کنټرول پروسه په اغېزناکه توګه پلې شي. د کمزورو ټکو په ګوته کول په مناسب وخت کې د حقیقي ارزښتونو پر وړاندې له پلان شویو ارزښتونو سره صورت مومي، چې ورپسې مدیریت د هغو پر وړاندې پراخ اصلاحي اقدامات ترسره کولی شي. په دې پروسه کې پلان جوړونه او راپور ورکونه تر یوې قاعدې لاندې تنظیمېږي، چې په لاندې شکل کې په ښه توګه څرګندېږي:




**لازمي کړنې:** د دې لپاره، چې پلان شوې مالي موخې ترلاسه شي، سنجونې ته اړتیا ده. د بېلګې په توګه لګښـــتونه، مالي اقتصادي کړنې او شـــاخصونه څرګندوي، چې موخې په کومه درجه ترلاسه شوې دي.

د دې اندازه کولو حقیقي مفهوم له پرلپســـې ثبتولو او له پلان شـــوي ارزښـــت سره د هغه له پرتلنې څخه عبارت دی. د دې توپیرونو عوامل تحلیلېږي او په دې ډول اړوند منظم فعالیتونه اجرا ته وړاندې کېږي. تنظیم شوي فعالیتونه په لاندې قضیو کې په پام کې نیول کېږي.

د پلانونو د سنجونې وخت په خپل اعتبار پاتېږي او د پلانونو سنجول هغه وخت معرفي کېږي، چې که چېرې چاپېریالي بدلونونه رامنځ ته شي، باید وکولای شـــو پر نویو شرایطو فکر وکړو. دا په تدریج سره د پرلپســـې زده کړو پر پروســـې باندې پای مومي، چې ســـازمان او کارکوونکو ته اجازه ورکوي، چې خپلې ودې او انکشاف ته ادامه ورکړي.

هغې مفکورې چې د بازار په اقتصاد(خصوصي سکتور)کې یې وده کړې، نشي کولی په بېله بېله توګه په اداره کې پلې شي. قانوني مکلفیتونه د مشخصو خدمتونو د تدارك په موخه عامه اداره له خصوصي سکتور څخه په بنسټیزه توګه تفکیکوي.

ترسره شــوې دندې د سیاســتوال لپاره له لوړ ماهیت څخه برخمنې دي او هېڅ ډول سیالي او رقابت د دې دندو پر وړاندې شتون نه شي درلودلی. پورتني ټکي د راکړې ورکړې د مالي مدیریت د مفاهیمو ډلبندي، لکه مارکېټ، بیه، لګښــتونه او ســودمندي له ستونزو سره مخ کوي، خو له هغو سره په دولتي ســکتور کې اصلاحي تحرکات شــتون لري. دا اصلاحي تحرکات د نوي عامه مدیریت په نامه پېژندل کېږي. د بودیجې کسر د اداري پر عام سیســتم تر حد ډېر د غیرســودمندو اداري فعالیتونو پر لګښــت متمرکز او پر دولت فشــار راوړي، چې د مملکت اداري سیستم په بنسټیزه توګه اصلاح کړي.

اصلاحــي خوځښــتونه پخپله له اداري څخه سرچینــه اخلي. د اداري کارکوونــکي لېوالتیا لري، چې په مســلکي توګه په راتلونکي کې عمل وکړي. ښــاریان او مالیه ورکوونکي هم لېوال وي، چې د خپلو پولي ورکړو پر وړاندې ډېر خدمتونه ترلاسه کړي او د ښارونو او ولایتونو په کچه د اقتصادي اصلاحاتو غوښتونکي وي.




عامه اداره

## د تنظیم او کنټرولولو نوې نمونه

د بودیجې د تنظیم او پلي کولو نوې نمونه د کنټرول د پروسې په واسطه بررسي او تنظیم شوې ده، چې باید د محاسبې له مخې لګښت او کړنې ترسره شي. دا نمونه د امکان تر بریده جامع ده. د توپیرونو په هکله راپورونه د بودیجې په پلي کولو کې لیکل شوي او بېلابېلې ستراتېژۍ یې وړاندیز او چمتو شوې دي.

کنټرول کول د راپور ورکولو د یوه سیستم په توګه باید دا ومومي، چې پر دې قادر دی، تر څپل مسوولیت لاندې ساحې په بریالیتوب سره تنظیم او وڅاري او د کره معلوماتو پر بنسټ تصمیم ونیول شي. کنټرول کوونکی د اړتیا د درك له مخې د کنټرول د راپور ورکولو لپاره باید لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړي: د مالي راپور د چمتو کولو هدف یا موخه څه ده؟

څوك، چا ته راپور ورکړي، چې د لېږونکي او اخیستونکي موضوع راونغاړي؟

د کنټرول راپور باید څه وخت چمتو شي؟

د کنټرول د راپور د ډولونو په تړاو، د معلوماتو د ترکیب لپاره له مشخصو اصولو ګټنه وشي. مثبت او منفي انکشاف او په هغه پورې اړوندې وړاندوینې باید مشخصې شي. پرتلیز ارقام باید د لاسرسي وړ وي. له دې لارې امکان لري ارقام و ارزول شي. مثلاً د حقیقي پرتلنې هدف، پرتلنه د زمان پر بنسټ د څو میاشتو په اوږدو کې ربعوار یا کلني ارقام نه شي کولی په ساده ګۍ سره د مجزا په ډول وړاندې کړي، باید د اضافي معلوماتو په وسیله وساتل شي.

## د کنټرول فلسفه او سیاست

اداري مدیریت مسوولیتونه د تخصص په بېلابېلو ساحو کې تعویض کړي دي. په عین وخت کې د مرکزي تنظیم مسوولیت د کنټرول د ابزارو په مرسته ترسره کوي. د کنټرول یو له مهمو ابزارو څخه د لګښتونو محاسبه او اجراات دي.

نو اضافي ابزار هم شته، چې د کنټرول او پلټنې په برخه کې توضیح شوي دي. اساساً د کنټرول برخه باید د تصمیم نیوونکو لپاره معلومات برابر کړي. ترڅو هغوی وکولی شي په راتلونکي کې خپل تصمیم ته نژدې شي.

هدف لکه څنګه چې پورته ذکر شو د ګټورتیا زیاتوالی دی. له دې لارې مالي اقتصاد د مصرف شویو منابعو او د لاسته راغلو پایلو ترمنځ تړاو ته چې په کومه کچه موخې لاسته راغلي، مثلاً د پلان شوي پروګرام او موجود پروګرام ترمنځ د موثریت پرتلنه.

ګټوره موخه او موثریت یوازې د کنټرول کولو په وسیله لاسته نه راځي، بلکې د مدیرانو په وسیله له اخیستل شویو تصمیمو سره په مطابقت کې دي. تصمیم نیوونکي په دې برخه کې له

بېلابېلـو کړنلارو کار اخـلي، چې په اړه به يې په راتلونکو بحثونو کې رڼا واچوو. د سـتراتيژيك او عمليــاتي کنټــرول ترمنځ توپير د زماني ليدلوري او د معلوماتو د ترکيب د درجې له په پام کې نيولو پرته په پام کې نيول شوی.

| **د کنټرول پروسه** | |
|---|---|
| ستراټيژيک کنټرول | عملياتي کنټرول |
| د ټولنې د ودې په اړه د وړاندوينې تحليل او تجزيه<br>ستراتيژيکې سياسي موخې<br>د عامه اداري د يو موډل جوړول | عملياتي موخې<br>د پلان شويو واقعي ارزښتونو سيستماتيکه پرتلنه<br>د معلوماتو د سيســتماتيك جريــان د انحراف تحليل او تجزيه |

## د ځلورم ځپرکي لنډيز

د عوايدو او لګښتونو لپاره پلان جوړونه د دولت په مالي مديريتونو کې ترسره کېږي، ترڅو په غوره توګه له هغه نه ګټه واخيستل شي. د مالي پلانونو د غوره کاروني له امله کېداى شي له ماليه ورکوونکـو او مصرفوونکـو څخه د ماليې د راټولولو په بېلابېلو لارو د کنټرول سياســت برابر کړو. مالي مديريت دا تضمين کوي چې مالي وجوه په مناسب وخت کې د چارو د اړتياوو د پوره کولو په موخــه په لږ وخــت او ټاکلي پلان سره د کارکوونکو د حقونو په ورکړه او يا خرڅلاو د کرېډېټ پر بنســټ مصرف کړي او په مالي کنټرولونو کې چارې د ســازمان د موخو د ترلاسه کولو په لور سوق کــړي او ټول مالي کنټرولونه پر تېرو کړو وړو، تېروتنو، ګروپونو تشــخيص او مجازات کولو باندې متمرکز وي.

## د څلورم څپرکي پوښتنې

۱. مالي چارې د عامه ادارې له خوا څه ډول کنټرولېږي؟
۲. د مالي پلان جوړونې اهمیت واضیح کړئ؟
۳. د کنټرول په پروسه کې کوم پړاوونه شامل دي؟
۴. د مالي کنټرول پروسه په یوه چوکاټ کې واضېح کړئ؟
۵. عامه اداره په یوه چوکاټ کې واضیح کړئ؟
۶. د مالي کنټرول د راپور د برابرولو موخه څه ده؟
۷. د کنټرول د سیاست او کنټرول د فلسفې په اړه معلومات وړاندې کړئ؟
۸. مالي پلان جوړونه تعریف کړئ؟
۹. د وجوه په اړه معلومات وړاندې کړئ؟
۱۰. د مالي مدیریت مقررات څه دي؟
۱۱. مالي پلان جوړونه څه شی ده، تعریف یې کړئ؟
۱۲. د مالي مدیریت د اجزاوو نومونه واخلئ؟
۱۳. په مالي سیستم کې د کړنو یا عملکرد ارزونه څه مفهوم لري؟
۱۴. د مالي کنټرول په اړه معلومات وړاندې کړئ؟

# پنځم څپرکی

## د عوایدو بنسټونه

**ټولیزه موخه:**

د مالي مدیریت د عوایدو منظم لاسته راوړل او پر اقتصادي وقایعو او جریاناتو باندې د هغو اغېزې.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي تر لوستلو وروسته به تاسې لاندې موضوعګانې زده کړئ:

- د مالي مدیریت په پلان جوړونه کې د عوایدو رول او د عامه عوایدو کارول.
- د مدیریتونو د عایداتي سرچینو لپاره او همداشان د عوایدو د لاسته راوړلو کړنلارو سم پلانول.
- د دولتونو د عوایدو د اساساتو درك کول.
- د عوایدو د ترلاسه کولو اسانتیاوې او اقتصادي اهمیت.

### د عوایدو بنسټونه

د دې لپاره، چې دولت له یوې خوا خپل عواید په منظمه توګه له مالي اقتصاد څخه لاسته راوړي او له بلې خوا پر اقتصادي وقایعو باندې مثبتې اغېزې وکړي، باید یو شمېر اساسات، چې د وخت په تېرېدو سره یې په دې برخه کې وده کړې ده، رعایت کړي، چې دا اساسات یا بنسټونه په لاندې ډول دي.

**الف/ د کفایت او اعتدال اساس:** د دې اساس له مخې مدیریتي عواید باید په هغه اندازه وي، چې د مدیریت لګښتونه پوره او پر هغه بنسټ د دوام او اندازې له نظره لګښتونه نه باید کم وي او نه هم زیات. نظر لګښتونو ته د مدیریت د عوایدو د زیاتوالي په صورت کې له یوې خوا پر مالي

اقتصادي مديريت ناوړه اغېزې شـيندي، په دې مانا د دولت مالي وسـايل د په ډول پاتې کېږي، په داسې حال کې چې که مديريت دا مالي وسـايل له خصوصي اقتصاد څخه د مالیې په توګه ترلاسه نه کړي، هغوی کولی شي، چې دا مالي وسايل په توليدي مدرك کې وکاروي، چې په دې صورت کې طبعاً د توليد ډېروالی د ملي عايد د ډېروالي په پایله کې ملي کېږي.

برعکـس د مديريـت د عوايدو کموالی نظر د هغه لګښـتونو تـه، پر مـالي فعاليتونو باندې محدودوونکې اغېزې شـيندي. ځکه مالي مديريت نه شي کولی په دې صورت کې خپلې لګښتي يا مصارفاتي پروژې عملي کړي او پر فردي او مجموعي اقتصاد منفي اغېزې شيندي.

پـه لنډه توګه بايد ووايو، چې پورتنی اسـاس له اوږدمهاله اړخـه د بوديجې د توازن د تحقق موندنې غوښـتنه کوي، چې په بازار لرونکو اقتصادونو کې د بوديجې د توازن د اصل تطبيق کول لـه لنډمهاله اړخه ناممکن دي، چې په دې اقتصادي نظام کې په بوديجه کې د توازن نشـتوالی د بېلابېلو عواملو له مخې وخت په وخت يو اجتناب نه منونکی امر دی. ويلی شـو چې د مالي کال په لړ کې د اړينو لګښـتونو دا ډول ډولونه دفعتاً د دولت لپاره رامنځ ته کېږي، چې د انصراف وړ هم نه وي او په دې ډول دولت له کسر سره مخ کوي.

همداشان ځينې وختونه د بېلابېلو او نا اټکل شويو عواملو له مخې په عوايدو کې ډېروالی هم منـځ تـه راځي، چې د عوايدو دا ډېروالی کېدای شي د وروسـتي پلان له مخې په ټاکلو مدارکو کې وکارول شي او د مالي وسايلو له راکد کېدو څخه مخنيوی وشي.

د اقتصادي اغېزو له امله له مخکې پلان شويو عوايدو سره د دې ډول عوايدو توپير د هغوی په لګښتي مدارکو کې د يوه مخکېني اقتصادي تحليل مطابق ټاکل شوی او د هغه پر بنسټ له هغه څخه د يوې مطلوبې اقتصادي لاسـته راوړنې امکانات ډېر شـوي، حال دا چې د عوايدو د ناڅاپي او نا اټکل شـوي ډېروالي په صورت کې دا چې په دې برخه کې مخکې له مخکې دقيق تحليل نه شي کېدای، پر دې بنسټ ډېر احتمال لري چې د عوايدو دا ډول ډېروالی چې کارول يې په لګښتي پروژو کې د غلطې پانګونې په لور رهبري شي.

د دې لپاره چې د دې ډول غلطو پانګونو مخینوی وشي، د دولت د بوديجې په څنګ کې د ملي اقتصاد يوه بوديجه ترتيب شوې وي.

په دې اقتصادي بوديجه کې لګښتي پروژې نظر د اړتيا درجې، مراتبو لړۍ، تقدم او لومړيتوب په پام کې نيولو سره مخکې له مخکې ټاکل شـوې وي. پر دې بنسـټ په غیرمترقبه يا ناڅاپي ډول د عوايدو د زياتوالي په صورت کې دا ډول اضافات د ضروري پروژو د تمويل په موخه، چې مخکې ارزول شوې او درجه بندي شوې وي، ولګول شي او په دې توګه له غلطو پانګونو مخنيوی وشي.

دا چې د هر هېواد مالي اړتياوې د اقتصادي او ټولنيزو شرايطو او اوضاعو له مخې تل د بدلون

په حال کې وي، نو د دې لپاره چې مدیریتونه له مالي ستونزو سره مخ نه شي، باید عواید داسې تنظیم شي، چې په ټولو موسمي او نورو بدلونونو او شرایطو کې د دولت له مالي اړتیاوو سره مطابقت وکولی شي.

د مالي مدیریت د علم ډېری پوهان په دې اند دي، چې له متغیرو مالي اړتیاوو سره د عوایدو د توافق قابلیت د یوه هېواد په مالیاتي سیستم پورې تړلی دی، په دې مانا هر څومره چې د مالیاتو اندازه ډېره وي، په هماغه اندازه د عواید د مطابقت قابلیت د دولت له مالي اړتیاوو سره ډېرېږي. لامل یې هم دادی چې په یوه هېواد کې د ډېرو مالیاتو شتون، د یو ډول مالیې د عوایدو سهم د هېواد په مالیاتي عمومي عوایدو کې په نسبي ډول لږ وي او پر دې بنسټ که په هغو کې کموالی ولیدل شي، پر عمومي مالیاتي عوایدو یې اغېزې کمې وي او برعکس که په یوه هېواد کې د مالیاتو اندازه په څو ډوله مالیه پورې محدوده وي، په دې صورت کې طبعاً په عمومي مالیاتي عوایدو کې د یو ډول مالیې د عوایدو سهم ډېر وي، له دې امله د عوایدو کمښت د یو ډول مالیې له مدرك څخه د ټولیزو مالیاتي عوایدو د ډېر کمښت لامل کېږي.

له همدې امله ده، چې د واحدې مالیې غوښتنه د فیزوکراتانو له خوا، چې واحده مالیه له څمکې غواړي د تایید وړ گرځېدلې ده. بل هغه عامل چې د دولت له متغیرو مالي اړتیاوو سره د مالیاتو د توافق په قابلیت کې د اهمیت وړ دی، له مترقي مالیاتي تعرفو څخه عبارت دی، چې د اقتصادي اوضاع په صعود او نزول سره د مترقي مالیاتي تعرفو په واسطه او د هغه له امله د دولت د عوایدو د مالیې سنجونې د اساس صعود او نزول هم له هغه سره مطابق ډېروالی یا کموالی مومي.

بل عامل چې د دولت د عوایدو د مطابقت په قابلیت کې ډېر اهمیت لري، د مالیې او د مالیې د سنجونې د اساس ترمنځ د معقول نسبت رعایت کول دي. په دې مانا چې د مالیې اندازه باید داسې وټاکل شي، چې د مالیې ورکوونکو له خوا د تحمل وړ وي. د بېلگې په توگه د هغه د اقتصادي تصدیو پر گټه باندې مالیات باید په هغه اندازه ونه ټاکل شي، چې متشبث یا پانگوال خپله متوقعه گټه لاسته رانه شي وړلی. چې په دې صورت ژر یا لږ وروسته پانگونه کموالی مومي او له امله یې مالیاتي عواید هم کموالی مومي او په پایله کې د دولت (مدیریت)عواید د خپل مطابقت قابلیت له لاسه ورکوي.

همداشان که د وارداتي گمرك محصول دومره لوړ شي، چې له امله یې د وارداتي توکو خرڅلاو کم شي، په ورپسې دوره کې د وارداتو د کموالي او بلاخره د گمرکي محصول د کموالي لامل کېږي او په پایله کې د دولت مالیاتي عواید خپل د مطابقت قابلیت له لاسه ورکوي.

له دې امله باید مالي سیاستوال د نوې مالیې له اېښودلو یا د موجوده مالیاتي تعرفو له لوړولو مخکې د مالیه ورکوونکو له خوا  د مالیاتو د تحمل د قابلیت او وړتیا په برخه کې کافي معلومات

ولري. پرمختللي هېوادونه دا ډول معلومات د څېړنيزو انستيټيوټونو له لارې لاسته راوړي او پر اساس يې وروسته عملي تدبيرونه نيول کېږي.

## د عوايدو د لاسته راوړلو اقتصاديتوب

د عوايدو اقتصاديتوب هم لکه د لګښتونو غوندې پر عوايدو باندې د اقتصادي پرنسيب د تطبيق غوښتنه کوي، په دې مانا، چې عوايد بايد داسې ترلاسه شي، چې د امکان تر بريده، تر ټولو ټيټ شوی لږ لګښت د مالياتي دوايرو لپاره سبب شي او د ټولو مالياتو له ټول شويو لګښتونو سره تړاو ولري، چې د مالياتو د لاسته راړولو وخت منځ ته راځي، لکه د معاشونو لګښتونه، د مالياتي دوايرو د ودانيو لګښتونه، د ترانسپورټ لګښتونه او نور.

د عوايدو د لاسته راړولو په قانونيت کې د دغه اساس له مخې هر ډول مالياتي عوايد، چې يو مديريت يې له وګړو يا موسسو څخه ترلاسه کوي، بايد د مقرراتو مطابق وي. د دې لپاره چې د مالي کارکوونکو د ناوړه ګټنې شونتياوې تر يوه بريده له منځه يوړل شي، بايد مالياتي قوانين او مقررات په څرګنده او روښانه ډول تدوين شوي وي، ترڅو د مالي کارکوونکو لپاره د نفسي او شخصي تغييراتو زمينه ناممکنه کړي او مکلفين د خپلو مالي وجايبو او مکلفيتونو غوښتنه په څرګنده توګه درك کړي. د دې ډول مالي قوانينو او مقرراتو شتون اړين او لازمي ګڼل کېږي، ځکه په هېوادونو کې د مالي چارو د کارکوونکو د ناوړه ګټنې ډېرې شونتياوې شتون لري.

## د عوايدو د لاسته راوړلو اسانتياوې

مخکې له دې چې د عوايدو د لاسته راوړولو د اسانتياوو په هکله معلومات وړاندې شي، لازمه ده چې د دولت د عوايدو د ملي اقتصاد اساسات، چې د عوايدو د مجدد مولديت اساس او د عوايدو د سرچينو صحيح انتخاب په کې شاملېږي، تر غور او څېړنې لاندې ونيول شي.

د عوايدو په مجدد مولديت کې لورنس فون شتين د مالياتو په اړه نظر څرګند کړی، د دولت عوايد بايد داسې ترلاسه شي، چې پر اقتصاد د مجدد توليد اغېزې ولري. په دې مانا چې د دولت د عوايدو په وسيله بايد په راتلونکي کې د هېواد توليدي قدرت کمزوری نه شي. په دې صورت کې له يوې خوا د ملي اقتصاد په زيان تمامېږي او له بلې خوا په راتلونکي کې د دولت مالياتي عوايد کمېږي. د بېلګې په توګه که وغوښتل شي چې له چرګې څخه دې پرلپسې هګۍ لاسته راشي، بايد د مراقبت او ساتنې لپاره يې ډېره پاملرنه وشي. په دې بېلګه کې چرګه د اقتصاد له توليدي قدرت او هګۍ له ماليې سره تشبېه شوي او د عوايدو د سرچينو په صحيح انتخاب کې، د مالياتو او عوايدو د لاسته راوړلو پر مهال، د توليد د عامل د ترکيب امکانات او په بېلابېلو اقتصادي ساحو کې حاصلات او لاسته راړونې رعايت شي او د دولت عوايد په داسې ډول ترلاسه شي، چې د اړوندو اقتصادي فعاليتونو د ترسره کولو خنډ او مانع نه شي.

د بېلګې په توګه د درنو مالیاتو وضعه کول، چې د لاسته راوړونو او حاصلاتو له وضعې سره معقول نسبت ونه لري، په یوه هېواد کې د پانګونې روحیه او ذوق کمزوری کوي. د پانګونې بنسټیزه موخه د ډېرې ګټې لاسته راوړل دي او دا مرحله تر هغه دوام مومي، ترڅو مالي موخو ته نژدې شي. که چېرې یو موډرن مالي سیاست د خپل مالي مدیریت د اړتیاوو د پوره کولو په موخه د یو ډول مالیې له مدارکو، لکه پر موسسو باندې مالیاتو، مالیاتي عواید لوړ کړي، د هغوی د پام وړ ګټو د له منځه تلو د عواملو باعث نه کېږي.

د عوایدو د لاسته راړولو د اسانتیا په برخه کې باید هڅه وشي، چې د مدیریت د عوایدو د لاسته راړولو پر مهال مالیه ورکوونکو ته ستونزې او مزاحمتونه جوړ نه شي. د دې اساس د تحقق لپاره باید د مالیې د مناسب وخت په موخه د مالیاتي ورکړې تعرفې ورکړل شي او د هر هېواد اقتصادي شرایطو او امکاناتو ته په پام سره مالیه ورکوونکو ته اسانتیاوې برابرې شي، ترڅو مالیه ورکوونکي د مالیې په ورکړه کې همکاري وکړي او د مالي مقاومت امکانات له منځه لاړ شي.

د مالیاتو په ورکړه کې باید د فداکارۍ او ورکړې اساس دقیقاً وڅېړل شي. د مدیریت د مالیاتو په فداکارۍ کې چې خپلې عمومي دندې په سمه توګه ترسره کړای شي، باید په ټولنه کې ټول وګړي یو ډول فداکاري وکړي او د خپلو عوایدو یوه برخه د مالیې په توګه د دولت د لګښتونو د تمویل په موخه دولت ته ورکړي او په ورکړه کې باید د هر ډول تبعیض او امتیاز مخه ونیول شي او ټول موارد د مالیې تابع شي. پر دې بنسټ د هر ډول شخصي، قومي، نژادي، سیمه ییز، ژبني امتیاز شتون، د عاید له اساس سره په ټکر کې دی او د مالیې ورکوونکو د ناخوښۍ او بې باورۍ لامل کېږي. د اسلام له نظره هم په یوه هېواد کې د وګړو ترمنځ هر ډول مالي امتیاز سخت غندل شوی، ځکه د یوه هېواد وګړي د دولت د خدمتونو له مزایاوو څخه په مساویانه توګه د ګټې اخیستلو حق لري. همداشان د هغوی د لګښتونو تمویل هم باید له تبعیض او امتیاز پرته ترسره شي. په دې برخه کې استثناوې د ټولنیز عدالت د تامین د پرنسیپونو او دلایلو له مخې صورت مومي. د وګړو مالي استطاعت یو له بل سره توپیر لري. له دې امله د مالیې په توګه د ټاکلي مبلغ ورکړه شایي د ځینو لپاره ډېره کمه وي، اما شایي د ځینو لپاره بسنه وکړي. بناً هر څوک د خپل مالي استطاعت په اندازه باید د مالیاتو په ورکړه کې برخه واخلي.

## د دولت د تشبثاتي عوایدو ماهیت

د دولت تشبثاتي عواید، چې د انتفاعي او تحصیلي عوایدو په نامه هم یادېږي، لکه مالیات، محصول او سهمونه د دولت په منظمو عوایدو پورې اړه لري. نن ورځ په نړۍ کې داسې هېواد نه شته چې په هغه کې دولتي تشبثات شتون ونه لري او له دې مدرك څخه عواید د دولت په بودیجه پورې تړاو لري.

تشــبثاتي عوايد له هغو عوايدو څخه عبارت دي، چې د بازار له لارې او د يوه جبران يا خاص پاداش په توګه د دولت د فعاليتونو په بدل کې په اختياري ډول ترلاسه کېږي. دولت تشبثاتي عوايد هغه وخت ترلاسه کولی شي، چې د خصوصي اقتصاد ترڅنګ شيان او خدمتونه توليد او بازار ته يې وړاندې کړي او په بدل کې يې قيمت ترلاسه کړي. دا چې د دولت تشبثاتي عوايد د بازار د شرايطو تابع دي، د هغه له مدرکه لاسته راغلی حاصل او ګټه هم د بازار او اقتصادي حالت تابع ده او له همــدې امله د اقتصادي رکــود په وختونو کې، يانې په هغه حالت کې چې اقتصادي فعاليتونه په عمومــي ډول د کمزورتيــا په حال کې وي، د دولت عوايد د هغو له مدرکه راټيټېږي او د هېواد د بوديجې تعادل له منځه وړي.

د اقتصادي ودې په حالت کې د هغو برعکس د دولتي تشــبثاتو له مدرکه عوايد هم ډېرواли مومي او وروســته د دولت مالي مديريت ممکن لــه امکاناتو ګټه واخلي، ترڅو د مديريتي تصديو لپــاره د يــو لــړ تدبيرونو په نيولــو سره نظر خصوصي تصديو ته يو ښــه موقف ورکــړي او يا حتا انحصــاري وقف رامنځ ته کړي او پر ورته(مشــابه)وارداتي ځيزونــو باندې د لوړ محصول د وضعه کولو په واسطه رقابت محدود کړي او يا يې په بشپړه توګه له منځه يوسي. د بېلګې په ډول: دولت کولی شي د يوه لوی پلورونکي په توګه د خپلې اړتيا وړ ځيزونه له دولتي تصديو څخه وپيري او په دې ترتيب د خپلو تصديو لپاره د خرڅلاو يو بازار رامنځ ته کړي، يا د ټاکلو ځيزونو او امتعې توليد او خرڅلاو په خپل انحصار کې راولي او بيې په خپله وټاکي. حال دا چې خصوصي تشبثات د پورتنيو ښېګڼو درلودونکي نه دي او د خپلو ځيزونو بيې د بازار د شرايطو پر بنسټ ټاکي.

دا چې د ګمرکي محصولاتو وضعه پر رقابت باندې څه ډول محدودوونکې اغېزې لري، د ګمرکي محصولاتــو پــه تعرفې پورې تړاو لري، يانې که تعرفه يا ګمرکي محصولات ډېر زيات نه وي، رقابت محــدود او کــه تعرفې لوړې وي، په دې صــورت کې د بيو د لوړوالي لامل کېــږي او د خرڅلاو د ســتونزو د رامنځ ته کېدو په صورت کې شــايي د رقيب د امتعې واردولو څخه په کلي توګه صرف نظر وشي. د دې لپاره چې دولت تشــبثاتي عوايد لاســته راوړي، بايد تشبثاتي شتمني هم ولري، چې په دې ارتباط يا تړاو سره د دولت شتمني په تشبثاتي شتمنۍ وېشل کېږي. دولت همداشان د مالي شتمنۍ په نامه هم يادېږي.

### د اعتدال او کفايت اساس

د دې اســاس له مخې د دولت عوايد بايد په هغه اندازه وي، چې د دولت د لګښــتونو لپاره بســنه وکړای شي او پر دې بنســټ د دوام له پلوه د لګښــتونو له اندازې څخه نه زيات وي او نه کــم. د عوايدو د ډېروالي يا زياتوالي په صورت کې له يوې خوا پر مالي اقتصاد منفي اغېزه کوي، په دې مانا چې د دولت مالي وســايل د راکد په توګه پاتېږي، په داســې حال کې چې که دولت دغه

مالي وسـايل له خصوصي اقتصاد څخه د ماليې په توګه ترلاسـه نه کړي، هغوی کولی شي دا وسایل پـه تولیدي مـدرك کې وکاروي، چې په دې صـورت کې طبعاً تولید زیاتېـږي او په پایله کې ملي عاید ډېروالی مومي. برعکس، نظر لګښـتونو ته د دولت د عوایدو د کموالي په صورت د دولت پر اقتصادي فعالیتونو باندې محدودې اغېزې واردېږي، ځکه دولت نه شي کولی په دې صورت کې خپلې لګښتي پروژې عملي کړي، چې په پایله کې یې پر مزدي او مجموعي اقتصاد منفي اغېزې لوېږي.

په لنډه توګه ویلی شـو، چې پورتنی اسـاس د اوږده مهال له نظره تحقق موندنه د بودیجې د توازن غوښتنه کوي. د بودیجې د توازن د اصل تطبیق کول، د بازار اقتصاد لرونکي نظام په اقتصاد کـې د لنډمهالـه وخت له مخې یو ناممکن کار دی. په دې مانا چـې په دې اقتصادي نظام کې د دولت په بودیجه کې د نه توازن منځ ته راتلل د بېلابېلو عواملو پر بنسټ وخت په وخت یو اړین او اجتناب نه منونکی کار دی.

د بېلګې په توګه: د مالي کال په لړ کې د مالي اړینو لګښتونو ډولونه یو دم د دولت لپاره عرض منځ ته راوړي، چې د انصراف وړ نه وي او دولت د بودیجې له کسر سره مخ کوي، چې د بودیجې دا کسر کېدای شي د لګښـتونو د څرنګوالي او د اقتصادي اوضاع او شرایطو د غوښـتنو پر بنسټ د دولت د استقرار له لارې تمویل شي.

همداشان وخت په وخت د بېلابېلو او ناټاکل شویو عواملو پر بنسټ د دولت په عوایدو کې زیاتوالی کېدای شي د وروسـتي پلان مطابق په پېژندل شـویو مدارکو کې وکارول شي او د مدیریت د مالي وسایلو د بې کاره پاتې کېدو مخنیوی وشي.

دا چـې پـه اقتصادي پروژه کې مصارفاتي پروژې د مراتبو د لړۍ د اړتیا او د لومړیتوب حق له مخې مخکې ټاکل شوي وي، پر دې بنسټ په ناڅاپي ډول د عوایدو د ډېروالي په صورت کې دولت کولی شي دا اضافي عواید د اړینو پروژو په برخه کې، چې مخکې تحلیل، ارزول شوې او درجه بندي شـوې وي، ولګوي او په دې ترتیب په دې کار سره د هغو پروژو لپاره چې ناسـمه پانګونه کېږي، مخنیوی کېږي.

## د عوایدو د مطابقت وړتیا

دا چې د هر هېواد مالي اړتیاوې د اقتصادي او ټولنیزې اوضاع او شرایطو د بدلون له مخې تل په یوه حال کې نه وي، نو پر دې بنسـټ د دې لپاره چې دولتونه له مالي سـتونزو سره مخ نه شي، باید د دولتونو عواید داسې تنظیم شي، چې هر وخت او له هر ډول موسم او شرایطو سره د دولت له مالي اړتیاوو سره سمون ولري.

د مـالي مدیریـت ډېری پوهان په دې انـد دي، چې د دولتونو د عوایـدو د توافق قابلیت له

متغیرو مالي اړتیاوو سره، د یوه هېواد په مالیاتي سیستم پورې اړه لري. په دې مانا هر څومره چې په یوه هېواد کې د مالیاتو شمېر لږ وي، په هماغه اندازه د دولت د عوایدو د مطابقت قابلیت له متغیرو مالي اړتیاوو سره لږ وي. برعکس هر څومره چې د مالیاتو شمېر زیات وي، په هماغه اندازه د دولــت له مالي اړتیــاوو سره د دولت د عوایدو د مطابقت قابلیت ډېر وي. دلیل یې دا دی، چې په یوه هېواد کې د ډېرو مالیاتو د شــتون په صورت کې د هېواد په عمومي مالیاتي عوایدو کې د مالیې د یوشــان عوایدو ســهم په نسبي ډول لږ وي او پر دې بنسټ که په هغو کې لږوالی منځ ته راشي، اغېزې یې پر مجموعي مالیاتي عوایدو باندې لږ احساسېږي. حال دا چې برعکس، که په یوه هېواد کې د مالیاتو شــمېر په څو ډوله مالیه پورې محدود وي، په دې صورت کې طبعاً د یوشــان عوایدو د مالیې ســهم په مجموعي مالیاتي عوایدو کې ډېر وي او پر دې بنسټ د دولت د عوایدو کمښــت د یوشان مالیې له مدرکه، د مجموعي مالیاتي عوایدو د ډېر کموالي لامل کېږي. له همدې امله وه چې د واحدې مالیې غوښتنه د فیزوکراتانو له خوا، چې له څمکو یې واحده مالیه غوښتله، تــر تردید لاندې راغله. بــل عامل چې د دولت له متغیرو مالي غوښــتنو سره د مالیاتو د توافق په قابلیــت کې زیــات اهمیت لري، د مترقي مالیاتو تعرفه ده، چــې د دې تعرفې تطبیق د اقتصادي اوضاع له صعود او نزول سره او د هغو له امله د دولت د عوایدو د مالیې ســنجونې اســاس هم د ډېروالي او کموالي مطابق حرکت کوي.

# د پنځم څپرکي لنډيز

د دې لپـاره چې دولت خپلې دندې په ښـه توګه ترسره کړای شي، بایـد په خپل واك کې کافي عواید ولري او د دولت عواید پر اقتصاد منفي اغېزې ونه شيندي.

د دې لپـاره چــې دولت له يوې خوا خپـل عواید په منظمه توګه له مالي اقتصاد څخه لاسـته راوړي او له بلې خوا پر اقتصادي وقايعو باندې مثبتې اغېزې وکړي، باید يو شـمېر اساسات چې د وخت په تېرېدو سره يې په دې برخه کې وده کړې ده، رعایت کړي، چې دا اساسـات یا بنسـټونه په لاندې ډول دي.

د مدیریت د عوایدو د کفایت پر بنسټ مالي اقتصاد، چې د دې اساس له مخې د دولت عواید باید په هغه اندازه وي، چې د دولت د لګښتونو لپاره بسنه وکړای شي او پر دې بنسټ د دوام له پلوه د لګښـتونو له اندازې څخه نه زیات وي او نه کم. د دې لپاره چې د دې ډول غلطو پانګونو مخينوی وشي، د دولت د بودیجې په څنګ کې د ملي اقتصاد یوه بودیجه ترتیب شوې وي.

د عوایـدو د مطابقت وړتیا(قابلیت): دا چــې د هر هېواد مالي اړتياوې د اقتصادي او ټولنیزې اوضــاع او شرایطــو د بدلون له مخې تل په یوه حال کې نه وي، نو پر دې بنسـټ د دې لپاره چې دولتونه له مالي سـتونزو سره مخ نه شي، باید د دولتونو عواید داســې تنظیم شي، چې هر وخت او له هر ډول موسم او شرایطو سره د دولت له مالي اړتیاوو سره سمون ولري.

د عوایدو د لاسـته راوړلو اقتصادیتوب: د عوایدو اقتصادیتوب هم لکه د لګښـتونو غوندې پر عوایدو باندې د اقتصادي پرنسیب د تطبیق غوښتنه کوي، په دې مانا چې عواید باید داسې ترلاسه شي، چې د امکان تر بریده، تر ټولو ټمام شوی لږ لګښت د مالیاتي دوایرو لپاره سبب شي او د ټولو مالیاتو د ټمام شـویو لګښـتونو سره تړاو ولري، ځکه چې د مالیاتو د لاسـته راړولو وخت منځ ته راځي، لکه د معاشونو لګښتونه، د مالیاتي دوایرو د ودانیو لګښتونه، د ترانسپورټ لګښتونه او نور.

د عوایدو د لاسـته راړولو په قانونیت کې د دغه اسـاس له مخې هر ډول مالیاتي عواید، چې يو مديريت يې له وګړو یا موسسـو څخه ترلاسـه کوي، باید د مقرراتو مطابق وي. د دې لپاره چې د مــالي کارکوونکــو د ناوړه ګټنې شـونتیاوې تر یوه بریده له منځه یــوړل شي، باید مالیاتي قوانین او مقــررات په څرګنده او روښــانه ډول تدوین شــوي وي، ترڅو د مــالي کارکوونکو لپاره د نفسي او شــخصي تغییراتو زمینه ناممکنه کړي او مکلفین د خپلو مالي وجایبو او مکلفیتونو غوښــتنه په څرګنده توګه درك کړي. د دې ډول مالي قوانينو او مقرراتو شــتون اړین او لازمي ګڼل کېږي، ځکه په هېوادونو کې د مالي چارو د کارکوونکو د ناوړه ګټنې ډېرې شونتیاوې شتون لري.

## د پنځم څپرکي پوښتنې

۱. په مالیه کې د فداکارۍ اساس څه ته وايي، واضح يې کړئ؟

۲. د عوایدو د سرچینو یا منابعو صحیح انتخاب شرحه کړئ؟

۳. د دولت د عوایدو د اړتیا دلایل واضح کړئ؟

۴. د دولت د اقتصادي عوایدو له اساس څخه موخه څه ده؟

۵. د عوایدو د اعتدال او کفایت اساس څه مانا افاده کوي؟

۶. د دولت د عوایدو د مجدد مولدیت اساس څه مفهوم لري؟

۷. د مالیاتي استطاعت اساسات شرحه کړئ؟

۸. د عامه عوایدو د ترلاسه کولو اخلاق څه شی دي؟

# د دولت لګښتي یا مصارفاتي برخه

**ټولیزه موخه:**

د دولتونو په لګښتي برخو کې د لګښت توزیع او د مستقیمو لګښتونو د ښودلو عملیه.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي تر لوستلو وروسته به تاسې پر لاندې څیزو لاسبري یاست:

- د لګښتونو ماهیت او ځانګړنې.
- د سراسري توزیع د مېتودونو غوره کول.
- د لګښتونو د توزیع ډول.

## د لګښت وېش او د سراسري وېش مېتودونه

مخکې له دې چې د لګښتونو پر وېش پیل وکړو، لازمه ده، چې د لګښت پر وېش ځان پوه کړو.

د لګښت وېش: د مستقیمو لګښتونو د ښوولو عملیه د لګښت په موضوع کې، هغه څه چې د لګښت لامل کېږي یا د لګښت حاصل او د لګښت د وېش سنجول له یوه مستقیم لګښت څخه عبارت دي.

په سازمانونو کې د لګښت د وېش ډېرې بېلګې شتون لري. مشترک تولیدي لګښت یو عمومي لګښت دی، چې اکثر د تولیدوونکو له خوا هر تولیدي واحد ته وېشل شوی دی. دا وېش د مالي راپورونو لپاره ډېر اړین دی او لوی سازمانونه تر ډېره د مرکزي دفترونو لګښتونه په انفرادي څانګو کې توزیع کوي.

د بېلګې په توګه یو عامل مدیر د یوې Kamant خوراکي توکو د کمپنۍ لپاره، چې ۲۵۰۰ پلورنځي لري، د هر پلورنځي مدیر ته داوربښي، چې په دې اندازه مشترك مبلغ شتون لري او باید د انفرادي پلورنځیو په وسیله جبران شي، ترڅو په کلي توګه د شرکت ګټه تضمین شي. د وېش دا طریقه د پام وړ د یوې لړۍ په توګه د مشترکې اداري له خوا کارول شوې، د تصدۍ هغه لګښتونه چې په قطعي توګه مشترك لګښتونه وي، باید د مالیې په خاطر په موجودي اقدام کې توزیع شي او د توزیع د انتخاب مېتود کولی شي د شرکت د مالیې ورکولو پر مقادیرو هم اغېزې پرېباسي.

د اوږدمهاله شتمنیو فرمایشات د مالیې ورکولو په راپور کې د لګښت د توزیع بل شکل ایجابوي. د فرمایشاتو په موخه داده، چې د شتمنۍ اصلي لګښت پر زماني دورو ووېشل شي، چې یادې شتمنۍ د هېواد د عوایدو په لاس ته راوړلو کې مرسته کوي. لنډه دا چې څرګندونې د بېلابېلو لاملونو له امله اړینې دي، د نقدي جریان او د توزیعاتو د اغېزو په خاطر د توزیع وسله او میعاد باید په جدي توګه مراعات شي. په اختیاري ډول د میعاد انتخاب د مالي راپور ورکولو د تېروتنې یا د تصمیم نیونې د کمزورتیا لامل کېږي.

د لګښت د توزیع مېتودونه پر دوو ډلو وېشل کېږي:

**لومړی پړاو**: لګښتونه د تولیدي فعالیت پر مرکزونو(د تولید مواضعو)باندې وېشي.

**دویم پړاو**: د فعالیت د مرکزونو(د تولید مواضعو)لګښتونه د تولید پر واحدونو باندې وېشي.

د پام وړ موضوع داده، چې پر مرکزونو باندې د لګښتونو وېشل په مشخص ډول د خدمت د مواضعو د لګښتونو له وېش یا نورو مواضعو سره، چې له هغو خدمتونو څخه ګټه اخلي، سروکار لري.

د وېش یا توزیع په میتودونو کې باید د تولید د موضع، د لګښتونو د مرکز، د لګښت نهایي مرکز، د اساس توزیع او د لګښت محرکه یادونه هم وشي.

۱. **د تولید موضوع:** هغه اصطلاح ده، چې د تولید د مواضعو د شرحې لپاره په هغو سازمانونو کې چې صنعتي توکي تولیدوي، کارول کېږي.

۲. **د لګښت مرکز:** د لګښت یو وسطي مرکز دی، چې لګښتونه یې په سازمان کې پر نورو مواضعو باندې وېشل کېږي.

۳. **د نهایي لګښتونو مرکز:** د لګښت یو مرکز دی، لکه د تولید د موضع یا بازارموندنې غونډې، چې لګښتونه یې د لګښتونو نورو مرکزونو ته وېشل کېږي.

۴. **د توزیع اساس:** هغه معیار، چې له هغه څخه په ګټې اخیستلو سره نامستقیم لګښتونه یا د لګښت د دوو یا څو موضوعو مشترك لګښتونه وېشي.

**۵. د لګښـــت محرك:** هغه عامل دی، چې د لګښـــتونو یا یو ډول تولیدي فعالیت لامل ګرځي. مشـــترك او ترړلي لګښتونه ډېری وخت د مستخدمینو او کارکوونکو د شمېر پر بنسټ وېشل کېږي. په لاندې شکل کې د مشترکو لګښتونو د وېش اساسات ښودل کېږي:

| | |
|---|---|
| مشترك لګښتونه | د توزیع معیار |
| له کار سره په تړاو کې | د مستخدمینو شمېر |
| سرپرستي | د معاش ورکړه یا کاري ساعتونه |
| پرسونلي خدمتونه | مستخدمین |
| له ماشین سره په تړاو کې | د تجهیزاتو ارزښت |
| د تجهیزاتو بیمه | د کاري ساعتونو د ماشینونو شمېر |
| د تجهیزاتو مالیات | له خدمتونو سره په تړاو کې |
| تجهیزاتو مواظبت | مرستندوی توکي |
| له مکان سره په تړاو کې | کالي مینځل |
| د ودانۍ اجاره | د دفتروالۍ محاسبه |
| د اجارې حق الامتیاز | خوړل/ غذا |
| د نجارۍ کولر | |
| مشترك لګښتونه | |

د توزیع په مېتودونو کې یو هم مســتقیم مېتود دی او دا میتود د لګښــت د توزیع یو مېتود دی. ســم مواضع له نورو اســتفاده کوونکو مواضعو سره توزیع کوي او د نورو مواضعو په وسیله استفاده شوي خدمتونه نادیده بولي.

د مســتقیم مېتود لګښــتونه، په مستقیم ډول د یوه خدمت نهایي استفاده کوونکي ته په هغه صورت چې د استفاده کوونکي ترمنځ نادیده وګڼل شي، توزیع کیږي.

د توزیع په سراسري مېتود کې محدودیتونه شتون لري، کولی شو داسې یادونه وکړو، چې ځینې وخــت مســتقیم مېتود د خدمت د په پام کې نه نیولو له امله وړانــدې کېږي، یوه موضع له بلې موضع سره هغه تر انتقال لاندې نیسي.

که د لګښــت د یوې توزیع موخه د مواضعو د غیرمستقیم کنترول تشویق وي، په دې صورت کې د دې سیســتم نیمګړتیا په دې کې ده، چې هغه لګښــتونه چې په خپله د خدمت په مواضعو

کې منځ ته راغلي او د نورو مواضعو په وسـیله تر اسـتفادې لاندې نیول کېږي، نادیده ګڼل کېږي. د دې سـتونزې د حل لپاره د هڅو په پایله کې د خدمتونو مواضعو د لګښـتونو پراویز یا د مرحله یي توزیع مېتود رامنځ ته شوی دی.

## د پیرودنې د تصمیمونو د لګښت تحلیلونه

**د پیرودنې تصمیم:** د پیرودنې یا جوړونې تصمیم له هغه تصمیم څخه عبارت دی، چې کمپنۍ د هغــه لــه مخې تصمیم نیسي، چې ایا کورنۍ اړتیاوې تولید کړي او یا یې له بهرنیو سرچینو څخه برابرې کړي.

د بېلګې په توګه: هغه رسـتورانټ، چې د خوړو د تیارولو لپاره له کورنیو توکو ګټه اخلي، په داسـې حال کې چې یو بل رستورانټ چې خواړه یې د سړو خوراکه پلورنځیو څخه برابر کړي وي او بازار ته یې وړاندې کوي(اخلي یې)او یا دا چې: د سټیل یوه کمپنۍ چې اوسپنه او معدني تیږې استخراج او معدني تیږې د خام چوان (چدن) چدن په داخل کې د پروسس په موخه پیري.

پیرودنــه غالباً د یوې کمپنۍ د اوږدمهاله سـتراتېژۍ یوه برخــه ده، ځینې کمپنۍ د فعالیتونو د کنټـرول لپاره یو عمومي اتحاد غوره کـوي، ترڅو هغوی یوه کلي تولید ته رهنمایي کړي. ځینې کمپنۍ دې ته ترجیح ورکوي، چې د تولید ځینې عوامل له شرکت نه بهر پخپله چمتو کړي. د ټولیز تولید د مراحلو په مشخصو مراحلو کې فعالیت وکړي.

سره له دې چې یوه ټاکلې اندازه پیرودنه له تصدۍ بهر له ټمام شوي قیمت او نورو عواملو لکه اعتــماد او د توکو د کیفیت د کنټرول له پرتلنې سره اړیکې لري، خو بیا هم د پیرودنې تصمیمونه ځینې وختونه د زمان د ساده کولو لپاره انتخاب شودل کېږي.

دغه متعاقبې ځانګې له یو ډول هغو تحلیلونو څخه دي، چې تر ډېره یوه ستراتېژي لري، چې رهبري په یوه پالیسـۍ کې نیسي، ترڅو کمپنۍ ډېره یا لږ هر ډول چې د کمپنۍ سیاسـت غواړي، د عمومي اتحاد پر لور بوځي.

د بېلګې په توګه یوه ودانیزه موسســه په اوســني وخت کې له خپلو شــخصي امکاناتو څخه د ودانۍ د جوړولو په موخه ګټه اخلي. دا کار د موسسې لپاره(۵۰۰۰)لګښتونه، کارګران، توکي او ګڼ متحول لګښتونه په یوه ودانۍ کې لګېږي.

ایا دا موسسه باید د دې کار د ترسره کولو لپاره یانې تهداب او ودانۍ لپاره بیروني قرارادکوونکي ته مراجعه وکړي؟

که چېرې باکیفیته او رضایت بښونکی کار په فرعي قرارداد کې وکولی شي له ۱۵۰۰۰ ډالرو څخه

ټیټ مبلغ وي، ودانیزه موسسه کولی شي د خپلو پیسو مقدارچې اوس یې مصرفوي، زېرمه کړي په متفاوت ټام شوي پس انداز  کې د پیرودنې یو تصمیم وړاندې کولی شي.

**د پیرودنې تحلیلونه**

| د مستقیمو لګښتونو واحد | موجود حالت | د محصول د پیرودنې پیسې | تفاوت |
|---|---|---|---|
| مستقیم مواد | ۲۰۰۰۰ | ۴۱۰۰۰ | ۲۱۰۰۰ بالاتر |
| کار | ۱۰۰۰۰ | ۰ | ۱۰۰۰۰ ټیټ تر |
| ګډ متحول | ۷۵۰۰ | ۰ | ۷۵۰۰  ټیټ |
| ګډ عمومي لګښتونه | ۵۵۰۰ | ۵۶۰۰ | ۱۰۰۰ ډېر لوړ |

## د دولت د لګښتونو ماهیت او ځانګړنې

د دولت د ټولو لګښــتي فعالیتونو بنسټیزه او وروستۍ موخه، چې د هغې په وسیله دولت د خلکو د اړتیا وړ توکي په مطلوب کیفیت او کمیت او په ټاکلې زمان کې برابر یا تولید کړي، د عامه ځیزونو په نامه یادېږي، چې دا ځیزونه د خصوصي ځیزونو پر وړاندې قرار لري.

## خصوصي ځیزونه

له هغو ځیزونو څخه عبارت دي، چې د بازار په یوه اقتصادي نظام کې ترلاســه کېږي. حال دا چې عامه ځیزونه د بازار قابلیت نه لري، بلکې د اســتفادې وړ یوې برخې په توګه ټول خلك ترې کار اخلي.

دا چې د عامه او خصوصي ځیزونو په اړه بحث کېږي، اوس باید پوه شو، چې دا دوه ډوله څه ډول او د کومو نښو په وسیله یو له بله بېل کړو.

پــر عامه ځیزونــو او خصوصي ځیزونو باندې د ځیزونو وېش پخپله د ځیزونو په ماهیت پورې تــړلی نه دی، بلکې د ځیزونــو د کارونې په طرز پورې اړه لري. په دې مانا که چېرې یو ځیز په یو شــمېر دولتي موسســو کې تولید شي او د خلکو د استفادې لپاره یوې عام المنفعه موسسې په واك کــې ورکــړل شي، په دې صورت کې یاد ځیز یو عامه ځیز دی او که یاد ځیز د بازار له لارې وپلورل

شي او خصوصي اشــخاص ورڅخــه ګټه واخلي، یاد ځیز یو خصوصي ځیــز دی. که د نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته پام وشي لیدل کېږي چې یو ډول ټاکلی او مشخص احتیاج لکه روغتیا، ښوونه او روزنه وړیــا وي او د دولت له خوا پر غاړه اخیســتل کېږي، چــې په دې صورت کې د خلکو اړتیا د عامه ځیزونو او خدمتونو په وســیله پوره کېږي. یا دا چې په افغانســتان کې ښــوونیزې چارې تر لوړې سطحې پورې ټولې وړیا دي او همداشان دولتي روغتونونه هم، چې د عامه خلکو په خدمت کې دي، خو په دې وروســتیو کې خصوصي روغتونونه او ښــوونیزې او تحصیلي موسســې هم منځ ته راغلې دي. په نورو هېوادونو، په ځانګړې توګه پرمختللو هېوادونو کې برعکس د ښوونې او روزنې او روغتیایي چارو یوه برخه د خصوصي اشــخاصو او موسســو په واك کې وي او یا د دولت له خوا د اشــخاصو په واك کې ورکول کېږي، چې په دې صــورت کې عامه اړتیاوې د خصوصي ځیزونو په واســطه پوره کېږي. پر دې بنسټ له پورتنیو بېلګو جوتېږي، چې د ځیزونو خصوصي والی یا دولتي والی پخپلــه د ځیزونــو په ماهیت پورې اړه نه لري، بلکې له هغو څخه د ګټې اخیســتنې په طرز پورې اړه لري، چې د یوه دولت د لګښتونو مشخصات څرګندوي.

هغه پوښتنه چې د پورتنۍ موضوع په اړه مطرح کېږي داده، چې ولې د خلکو یو ډول ټاکلی لګښــتي احتیاج د ځیزونو او خدمتونو په وســیله پوره کېږي، چې یوازې په دولت پورې اړوند دي او خصوصي اشــخاصو ته نه شي سپارل کېدای، لکه امنیتي او نظامي دستګاه، اقتصادي بنسټونه او یو شــمېر عام المنفعه پروژې چې د نړۍ په ټولو هېوادونو کې د دولت په انحصار کې وي؟ د دې پوښتنې د ځواب لپاره ګڼ عوامل شته، چې مهم یې دادي:

## له حقوقي او سیاسي پلوه

دولت دې ته نه حاضرېږي، تر څو اشخاصو او موسسو ته په داسې چارو کې د فعالیت اجازه ورکړي، چې د هغو په وســیله د هېواد ســیاسي حیات له ګواښ سره مخ شي. له دې امله په دفاعي او امنیتــي چــارو کې خصوصي فعالیتونه مجاز نه ګڼل کېــږي او دولت په دې برخه کې خصوصي سکتور ته حق نه ورکوي.

دولت سربېره پر دې، چې په نظامي برخه کې خصوصي سکتور ته د فعالیت اجازه نه ورکوي، د امنیت د تامین په موخه هغه وسلې چې له خلکو سره وي هم راټولوي.

لکه څنګه چې په افغانســتان کې په اوســنیو شرایطو کې د یوه اسلامي هېواد بنسټیزه موخه، چې په ټولو موخو کې ورته د لومړیتوب حق ورکول کېږي، د وسلو را ټولول دي، ځکه له دې کار پرته د امنیت تامین ناشونی دی او تر هغو چې په ټول هېواد کې عام او تام امنیت شتون ونه لري، هېڅ ډول فعالیت هم په نورمال ډول ترسره کېدای نه شي.

لکه څنګه چې د اقتصاد علما او د سیاسي علومو پوهان پر دې مسئلې د نظر اتفاق لري، چې

په یوه هېواد کې سیاسي ثبات د ټولنیزو او اقتصادي فعالیتونو بنسټ او اساس جوړوي.

۱. خصـوصي اشـخاص په دې ډول مواردو کې ځان ډېر علاقه مـن بولي، چې انتقالي اړخ ولري. ځکه د خصوصي اقتصاد اســاسي او اولي هدف په هر ډول شرایطو کې چې وي، په لومړي قدم کې یوازې ګټه ترلاســه کول دي، دا چې ټولګټې موسســې ډېرى وخت د دې ډول ګټې نه درلودونکې دي، له دې امله خصوصي اشـخاص پخپله نه حاضرېږي، تر څو په ټولګټو موسســو کې تشــبث او پانګونه وکړي.

۲. عمده او بنســټیز دلیل دادی، چې عامه شیزونه د وېش وړ نه دي، په دې مانا چې له عامه شیزونو او خدمتونو ټول وګړي له هر ډول امتیاز او تبعیض پرته یو ډول ګټه اخیستلی شي، حال دا چې خصوصي شیزونه بیا دا ډول نه دي.

د پورتنیو ټکو په رعایتولو سره که امنیتي خدمتونه خصوصي وګړو ته، امنیتي خدمتونه یوازې هغو کســانو ته ترسره شي، چې په مقابل کې یې پیســې ورکړې او نور کسان چې پیسې ورنه کړي، له استفادې څخه یې محرومېږي او له بله اړخه پخپله وګړي نه حاضرېږي چې د پورتنیو خدمتونو د ترسره کولو لپاره پیســې ورکړي. ځکه یاده دنــده په وړیا توګه د دولت له خوا ورکول کېږي، پر دې بنسټ د دې ډول موسسو تمویل د خصوصي اشخاصو په وسیله د امکان وړ کېدای نه شي، ځکه دولت کولی شي د دې ډول موســو د لګښــتونو د تمویل لپاره له خپل قدرت څخه ګټه واخلي، په اجباري ډول له خلکو مالیات راټول کړي، حال دا چې اشخاص دا وړ قدرت نه لري.

## د دولت د لګښتونو بنسټونه

له کله نه چې دولتونه له حقوقي او ســیاسي پلوه منځ ته راغلي دي، طبعاً د عصر او زمانې له شرایطو سره ســم یې یو لړ دندې ترسره کولې او دې دندو یو لړ لګښــتونو ته هم اړتیا درلوده، پر دې بنسټ ویلی شو چې د دولتونو له رامنځ ته کېدو سره د دولت لګښتونه هم منځ ته راغلي دي، خو د وخت د شرایطو په لړ کې د دې لګښــتونو د کیفیت او کمیت په برخه توپیرونه او بدلونونه هــم راغلي دي. هغه مهمــې دندې چې دولتونو په پخوا زمانو کې له لګښــتي پلوه ترسره کولې، هغه دفاعي دندې، امنیتي، د عدالت ټینګښــت او حقوق وو او دا ټول د دولت له مصارفاتي دندو څخه ګڼل کېدل. یادې دندې د مدیریت علماوو د هېوادونو د اړینو وجایبو په نامه هم یادې کړې دي او دا ډول دندې یوه کلاســیک عالم آدم ســمیټ پر درېیو برخو وېشلي دي، چې د دفاعي چارو لګښــتونه دي، بل د عامه حقونو او عدالت د تامین لګښــتونه دي او بل هم د ټولګټو تاسیساتو د جوړولو لګښتونه دي.

ادولف واګنر هم یاد لګښــتونه د یوه هېواد اجباري لګښتونه بولي. وروسته د وخت په تېرېدو

سره د سـیاسي، ټولنیزې او اقتصادي اوضاع په بدلون سره د هر هېواد لګښـتونه په بېلابېلو ډولونو رامنځ ته شول. لکه د اقتصادي بنسټونو لګښتونه او د اقتصادي وضعې او ثبات د ټینګښت په موخه لګښتونه او همداشان د عامه او ټولنیزې سوکالۍ د تامین لپاره لګښتونه او نور د یادونې وړ دي.

د یوه هېواد په عوایدو او لګښتونو کې د اقتصادي پرنسیپونو تطبیق د لومړي ځل لپاره د آدم سمیټ له خوا په مالي چارو او مالیه اېښودنې کې مطالبه شوی دي. نن هم د ټولو هېوادونو لپاره پـه ځانګړې توګه مخ پر ودو هېوادونو لکه افغانسـتان چې په عمومي صورت د مالي وسـایلو له کمښت سره مخ دي، لږه او محدوده بودیجه لري، ډېر فوق العاده اهمیت لري. په بودیجه کې د مالي او اقتصادي پرنسیـپونو په تطبیق سره دا امکان دولت ته میسرېږي، تر څو د بودیجې د عین وسـایلو تامین هم د پام وړ موخې ترلاسه او اضافي مالي وسایل ترلاسه کړي. دغه اضافي مالي وسایل دولـت پر دې قادروي، چې په عین وخت یا وروسـتیو وختونو کې اضـافي مصارفتي پروژې تمویل کـړي، چـې له امله یې له یوې خوا د مالي اقتصاد د ودې عملیه چټکېږي او له بلې خوا یوې ټاکلې انشکافي سطحې ته د رسېدو لپاره زماني واټن را لنډېږي.

له دې امله له پورتنیو مطالبو څخه دې پایلې ته رسـېږو چې د دولت د مالي چارو د ښـه والي او تقویې امکانات نه یوازې د دولت د عوایدو د لوړولو له لارې، بلکې د مالي اقتصاد د پرنیسپونو د تطبیق له لارې هم برابرېدلی شي.

دا چــې مخ پـر وده هېوادونو کې د عوایدو د کچې او د خلکو د ژوندانه د سـویې د ټیټوالي پـه نسـبت د دولت د مـالي مدیریتونو تقویې امکانـات د دولت د عوایـدو د لوړولو له لارې لږ موجودېـدای شي، لـه دې املـه د دولت په اقتصاد کـې د مالي او اقتصادي پرنیسـپونو تطبیق په عمومي ډول د دولت د مالي اقتصاد د تقویې وسیله ګڼل کېږي.

## په دولتي لګښتونو کې د سپمونې اساس

د مالي مدیریت  د پرنسـیپونو لپاره د سـپمونې اساس د متمم او بشـپړوونکي حیثیت لري. د مالي پرنسـیپونو او سـپمونې د اســاس تر منځ توپیر په دې کې دی، چې مالي پرنسیپ یوې ټاکلې او مشـخصې موخې ته د امکان تر بریده په ډېر کم لګښـت سره رسـېدنه غواړي، حال دا چې د سپمونې اساسي غوښتنه داده، چې له بې ضرورته او بې لزومه لګښتونو باید په کلکه ډډه وشي. نن ورځ د نړۍ په ټولو هېوادونو کې د سـپمونې اسـاس پرته له دې چې څه ډول اقتصادي او ټولنیز نظام لري، د بودیجې د مهمو اساساتو د یوه اساس په توګه په جدي توګه رعایت کېږي.

بې ځایه به نه وي، چې دلته له فرصتي لګښتونو هم یادونه وکړو، چې فرصتي لګښت، د ګټې له لاسـه وتلو او د غوره انتخاب له مخې چې کېدای شي له یوې بلې منبع څخه ترلاسـه شي او په سپمونه کې ورڅخه ګټه واخیستل شي.

ځینې فرصتي لګښــتونه کولی شو د پولي اصطلاحاتو په وسیله اټکل کړو، لکه د مزدونو امکان، چې د صرف نظر له غوره دندې څخه ســنجول کېږي. د فرصتي لګښــتونو ځینې ډولونه ښــایي په اسانۍ سره ونه سنجول شي، لکه د مشخصو مشاغلو عوامل، چې عیني شتون نه لري او د ارزښت ټاکل یې ستونزمن وي.

## د لومړیتوب د حق اساس

د دولت مصارفاتي پروژې په بشــپړه توګه متفاوتې اغېزې لري، که هغه د مالي اقتصاد له پلوه وي او که د ملي اقتصاد. په ځانګړې توګه کله چې دا پروژې په بېلابېلو ساحو کې په بېلابېل کمیت سره وي. که چېرې دولت وغواړي د خپل ملي اقتصاد په چوکاټ کې یو شمېر مصارفاتي پروژې په یوه مالي یا بودیجوي کال کې تطبیق کړي، د هغو د تمویل لپاره د کافي وســایلو د شــتون په صورت کې کومه ســتونزه نه وي او پر هغه بنســټ ټولې د عملي کېدو وړ بلل کېږي، که چېرې دولت د پورتنیــو ټولو پروژو د تطبیق لپاره کافي مالي وســایل په واک کې ونه لري، په دې صورت کې د دې پروژو د لومړیتوب حق راتلونکو مالي او بودیجوي کلونو ته ځنډول کېږي.

په مخ پر وده هېوادونو لکه افغانســتان کې په عمومي صورت د هېوادونو دندې په ځانګړې توګه د اقتصادي بنســټونو په جوړښــت کې، چې د اقتصادي ودې اولي او اساسي شرایط تشکیلوي، فوق العاده ډېرې دي او د هغو مالي وســایلو سره همغږي ایجابوي، حال دا چې دا ډول هېوادونه نــاکافي مــالي امکانات لري او پر دې قادر نه دي چې ټولې پروژې چې په هر مالي کال کې د دولتي ارګانونــو له خوا وړاندیز کېږي، تمویل کړي.  پر دې بنســټ د اړینو پــروژو د تقدم او لومړیتوب مســئله یو حتمــي امر دی. د پروژو د لومړیتوب حق د تثبیت لپــاره باید یو لړ عوامل په پام کې ونیول شي، چې مهم یې د پروژې لپاره د ټولنې د اړتیا درجه، د هغو د تمویل لپاره د مالي وســایلو امکانات دي او په دې ترڅ کې باید داســې پروژې غوره شي، چې په مقایســوي او نسبي صورت د مالي مدیریت او ملي اقتصاد له پلوه تر ټولو غوره شرایط ولري.

## د پلورلو د مقدار اټکل

د پلورلو د مقدار په اټکل کې انسانان تر ډېره پر خپلو ذهني تصوراتو باندې متکي دي او له دې امله پلورل ښــایي تر ټولو ستونزمن مالي اړخ ولري. د دې ستونزې د حل لپاره هر څومره اطلاعات چــې راټول شي، اټکل واقعیت ته نژدې کېږي. مدیریت د دې کار لپاره څو بېلابېلې کړنلارې پر کار اچوي، تر څو له څو بېلابېلو سرچینو څخه اټکل لاسته راوړي.

پلورونکي له خپلو پېرودونکو  او په راتلونکي کې د هغوی د اړتیاوو په خاطر سره نژدې وي، که څــه هم له بله پلــوه که دغه معلومات د کړنو د ارزونې لپاره وکارول شي، ممکن هغوی د صحیح

خرڅلاو اټکل ته مایل نه وي.

د دولت مالي سیاســت په ځانګړې توګه مخ پر وده هېوادونو کې  د انفلاســیون یو مهم عامل جــوړوي. تر اغېزو مخکې پر انفلاســیون باندې د دولت د مالي سیاســت تدبیرونه تر بحث لاندې نیسو او لازمه ده، چې د دولت لګښتونه او انفلاسیون وڅېړو.

د دولت لګښــتونه په مخفي ډول د انفلاســیون یو عامل جوړوي، چې مهم عوامل یې د بشپړ استخدام تر شرایطو لاندې د دولت لګښتونه دي، د لګښت سهمیه یا سپما هغه وخت لوړولی شي، چې په اقتصاد کې د عوایدو او لګښتونو لومړني جریان ته داسې بدلون ورکړل شي، چې په مصرفي تقاضا کې د بدلونونو په لور رهنمایي شي.

دغه لنډمهاله بدلونونه د هغو مصرفي شــیانو یا سرمایوي شیانو لپاره، چې د دولت د بودیجې په واسطه منځ ته راځي د اقتصاد د مطابقت تر وخته نوي شرایط یانې د تولید د مقدار د پراختیا تر وخته د انفلاســیون د منځ ته راتلو لامل ګرځي او د دولت د پانګونو په وســیله د اقتصاد عاید منځ ته راځي او یا ډېروالی مومي، حال دا چې د تولید د مقدار زیاتوالی یو څه وخت ته اړتیا لري، چې د عرضې د کموالي دغه موده د انفلاسیون د منځ ته راتلو لامل کېږي.

د مالي سیاســت د انفلاسیون ضد اغېزې همداشان په دې پورې تړلې دي، چې په عین حال کې د یوه هېواد لګښــتونه پــر مالي اقتصاد څه ډول اغېزې پرېږي باسي. ځکه د یوه هېواد لګښــتونه پر اقتصادي بهیر مستقیمې اغېزې غورځوي.

د انفلاســیون ضــد اغېزې هغه وخت د یوه هېواد پر لګښــتونو پرېوځي، چــې د یو هېواد په بودیجــه کــې د یوه تفاضل یا زیاتوالي په منځ ته راوړلو سره لګښــتونه په قصدي توګه را کم کړي. ځکه په دې صورت کې د دولت د لګښــتونو کمول په هماغه اندازه د تقاضا د کموالي لامل کېږي او پر دې بنســټ هر کله چې اضافي تقاضا لکه مخکې یې چې یادونه وشــوه د انفلاســیون د لامل په توګه پورتنی تدبیر د انفلاسیون پر ضد اغېزه واردوي او دا پوښتنه مطرح کېږي، چې د بودیجې د یــوې فاضلې تقاضا تشــکیل د دولت د لګښــتونو د کمولو په موخه تــر کومه بریده د لوړپوړو چارواکو له خوا د قبول وړ ګرځي.

د بودیجې زیاتوالی دا مانا ورکوي، چې دولت د خپلو لګښــتونو د کمولو په واســطه د اقتصاد لپاره خلکو ته کم خدمتونه وړاندې کولی شي، چې د دولت دا ډول لګښــتي کړنلاره په اسانۍ سره د منلو وړ نه ګرځي. د لګښــتونو د کموالي په موخه د بودیجې د تفاضل تشــکیل او په نتیجه کې

يې د انفلاسیون ضد سیاست د یوې وسیلې په توګه هغه وخت د منلو وړ ګرځي، چې دولت له مرکزي بانك او یانورو بهرنیو هېوادونو او موسسو نه پوروړی وي او وغواړي، د مخکې له مخکې ورکړو په وسیله د خپلو قسطونو یوه برخه پیسې بهر ته ولېږدوي او یا یې مرکزي بانك ته ورکړي او د هغو په وسیله په اقتصاد کې د پیسو حجم را کم کړي او په پایله کې د انفلاسیون پر ضد اغېزې وشیندي.

لکه څنګه چې مخکې مو هم یادونه وکړه، د انفلاسیون د عواملو له جملې نه یو هم په مخ پر وده هېوادونو کې د پانګونو د ظرفیتي اغېزو او عایداتي اغېزو ترمنځ زماني واټن دی، هغه هم په ځانګړې توګه په دولتي سکتور کې، چې د دولت د پانګونې د دې پروژو د تطبیق له امله په بنسټیزو چارو کې  د عدم تعادل د له منځه وړلو  او اقتصادي ساختمانونو د توازن په موخه صورت مومي. دا چې د پروژو د تطبیق له امله عواید دفعتاً منځ ته راځي، خو د بنسټیزو پروژو ګټورتیا نسبتا اوږده وخت ته اړتیا لري. ترڅو په اقتصاد کې د تولید مقدار زیات شي. پر دې بنسټ د زماني تفاوت په دې موده کې د اضافي عاید د رامنځ ته کېدو او د تولید د مقدار ترمنځ د عرضې یو کمښت احساسېږي او په پایله کې انفلاسیون منځ ته راځي، چې دا ډول اغېزې نه یوازې په دولتي پانګونې پورې نه اړوندېږي، بلکې خصوصي پانګونې، چې پورتنۍ یادې شوې اغېزې واردوي، د انفلاسیون د منځ ته راتلو لامل کېږي، خو دا ډول خصوصي پانګونې نظر دولتي پانګونو ته ډېرې کمې وي.په مخ پر وده هېوادونو کې د دولت د لګښتونو ډېری برخه د بنسټیزو او انکشافي پروژو په برخه کې پانګونې احتوا کوي.

د دې لپاره چې انفلاسیون له منځه لاړ شي، د هغه ضد اغېزه داده، چې د ملي اقتصاد د پانګونو حجم په دومره پیمانه کم شي، چې عایداتي اغېزې یې نظر ظرفیتي اغېزو ته ډېرې وي. پر پانګونې باندې دا ډول محدودوونکې اغېزې  دولت د مستقیمو او نا مستقیمو تدبیرونو په واسطه واردې شي. د بېلګې په توګه خصوصي پانګونې چې د دې ډول پانګونو له جملې څخه ګڼل کېږي، دولت کولی شي هغه د یوه ځانګړي اجازه لیك تابع وګرځوي، یا داسې شرایط وضعه کړي، چې په ډېری مواردو کې یې پانګوال ترسره نه کړای شي. مثلاً د پورتنیو تدبیرونو د عملي کېدو په وسیله په ستونزمنو شرایطو کې د کرېډېټونو ورکړې سره طبعاً د پام وړ پانګونې کموالی کوي او په پایله کې یې د انفلاسیون عامل له منځه ځي، په دې ترتیب دولت انفلاسیون له نامستقیې لارې تر اغېزې لاندې راولي او همداشان دولت د مستقیمو تدبیرونو په غوره کولو سره لکه د خپلو ځینو لګښتونو کمول او یا ځنډول، چې د انفلاسیون اغېزې لري، د انفلاسیون پر ضد مبارزه وکړي.

## د قانون له مخې ټاکل شوي لګښتونه

دا ډول لګښــتونه، چې د قانون په واسطه ټاکل کېږي، په عمومي صورت له رسمي اړخه ثابت وي. د دې ډول لګښتونو اړيکې له انفلاسيون سره داسې دي، هر څومره چې انفلاسيون ډېرېږي، په هماغه اندازه د دې ډول لګښتونو مالي فشار پر بوديجه کمېږي، په دې دليل چې د دولت عوايد په عمومي صورت د انفلاسيون په جريان کې له رسمي پلوه  ډېروالی مومي(د دولتي تصديو، شرکتونو، پر عايداتو باندې د مترقي مالياتو او نورو  له لارې.)

که په يوه هېواد کې د دولت ټول عوايد ســل ميلياردو پولي واحد ته ورســېږي. په کال کې د دولتي پورونو لپاره د ربحې ورکړه يو مليارد وي، په دې صورت کې د ربحې له مدرکه د ياد دولت لګښتونه د دولت د ټولو لګښتونو يو فيصد ته لوړېږي.

اوس که چېرې د ربحې دغه لګښتونه يو مليارد ثابت پاتې شي(که څه هم ربح د قانون له مخې او د قرارداد مطابق د يوې ټاکلې مودې لپاره ټاکل کېږي.)

يا دا چې د دولت دا ډول لګښــتونه له معاشونو او دولتي مستخدمانو او هغو لګښتونو څخه چــې عبــارت دي، چې دولت يې د کرايې د ورکړې لپاره چې معمولا په يوه ټاکلي وخت کې د يوه قرارداد په شــکل وي. د قراردادي چارو لپاره د دولت لګښــتونه، چې دا ډول لګښــتونه هم د يوې ټاکلې مودې لپاره ثابت پاتېږي او بدلون نه کوي.

## د بازار د شرايطو تابع لګښتونه

دا ډول لګښــتونه د بازار د شرايطو تابع وي او پر دې بنســټ د انفلاســيون په حالاتو کې ياد لګښــتونه هم لوړېږي. د دولت په دې لګښــتونه کې د لګښــتونو هغه ډولونه شــاملېږي، چې د څيزونــو د پېردولــو په موخه د دولــت له خوا کارول کېــږي. د معمول مطابــق دکارګرانو مزد او همداشــان د انفلاســيون په جريان کې د څيزونو بيې هم لوړېږي. له دې امله که څه هم د ثابتو څيزونــو او خدمتونو لپاره د دولــت اړتيا پر خپل حال وي، بايد دولت د خپل عين اړتيا لپاره د بيو د لوړېدو په نســبت ډېرې پيســې مصرف کړي. پر دې بنسټ هر څومره چې د انفلاسيون خالصې اغېزې د څيزونو او خدمتونو د پېردولو لپاره د دولت د دواړه ډوله لګښــتونو په نســبت د دولت پــر بوديجې باندې ډېرې وي، په هماغه اندازه لګښــتونه ډېر لوړېــږي او په پايله کې د دولت پر بوديجې باندې د انفلاسيون ژورې اغېزې پرېوځي.

## د شپږم څپرکي لنډيز

د دولت د بنسټيزو لګښتونو مطالعه او د خلکو لپاره د خدمتونو او څيزونو د برابرولو کړنلاره ده او د خلکو مصارفاتي اړتياوې د څيزونو او خدمتونو په وسله پوره کېږي. د عامه څيزونو مطالعه، چې د حقونو له پلوه د تقسيم وړ نه دي، هغه څيزونه چې د دولت له خوا برابرېږي او خلکو ته له بيې پرته وړاندې کېږي او په هغه امتعه کې د بازار له لارې د بيې د ورکړې په بدل کې لاس ته راځي، د دولت د لګښتونو د توزيع اساسات تشکيلوي. د لګښتونو د توزيع ميتودونه، چې لګښتونه، توليدي فعاليتونه په مرکزونو او د توليد ځايونه د توليد پر واحداتو وېشي، په مرکزونو باندې د لګښتونو وېشل په مشخص ډول يا د خدمتونو د مواضعو يا نورو مواضعو د لګښتونو توزيع، چې له هغو خدمتونو څخه ګټه اخلي، سرو کار لري. چې په دې مورد کې د لګښت د مرکز د توليد موضع په سازمان کې نهايي لګښت، د توزيع اساس، چې د دوو يا څو موضوع ګانو ترمنځ مشترك لګښتونه وېشي، د لګښت محرك چې په هغه کې مشترك لګښتونه له کار او معيار په ځانګړې توګه توزيع سره په تړاو کې په پام کې ونيول شي. د محدوديتونو مطالعه، سراسري توزيع او نيمګړتياوې بايد مطالعه او وڅېړل شي. همداشان د لګښتونو د مقدار تحليلونه، ګټه، سپما او فرصتي لګښتونه، د لومړيتوب حق او د دولت د مالي سياست د پلورونو د مقدار اټکل د انفلاسيون ضد وسيلې په توګه مطالعه کېږي.

## د شپږم څپرکي پوښتنې

۱. د نهايي لګښت مرکز او د توزيع اساس تعريف کړئ؟

۲. د مشترکو لګښتونو د توزيع اساس په مقايسوي شکل شرحه کړئ؟

۳. د سرتاسري توزيع د مېتودونو محدوديت واضح کړئ؟

۴. د پيرودنې لپاره د لګښتونو تحليل څه ته وايي؟

۵. د دولت د لګښتونو ماهيت او ځانګړنې شرحه کړئ؟

۶. د عمومي او خصوصي ښيزونو ترمنځ توپير په څه کې دی؟

۷. د دولت د لګښتونو اساسات واضح کړئ؟

۸. د لګښتونو توزيع تشريح کړئ؟

۹. د لګښت د توزيع په برخه کې ژوندي مثالونه وليکئ؟

# اووم څپرکی

## د بودیجې پروسه او د هغې دندې

**ټولیزه موخه:**

د هېواد په اقتصادي فعالیتونو کې د بودیجې د مفهوم او ماهیت درک.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي تر لوستلو وروسته به تاسې پر لاندې توکو لاسبري وئ:

- د بودیجې د دندو پلي کول، د تولید بودیجه، د مخارجو بودیجه، د اټکل د مالي صورتونو تهیه او د توضیح د پلورنو اټکل.
- د شرکتونو په ټولیزو پلانونو کې د بودیجې رول او د هغې د کارونې لارې چارې.
- د بودیجې تنظیم او د ګټې او تاوان د حساب صورت تشخیصول.

### د بودیجې پروسه او د هغې دندې

بودیجه د هغو لازمو مالي منابعو له پلان څخه عبارت ده، چې مالي موخو ته رسېدنه او د دندو ترسره کول مشخصوي.

په موسسو کې د بودیجه بندۍ رول د یوه الماني محاسب ډېسن له خوا په ډېره ښه توګه بیان شــوی دی. هغه په دې اړه ویلي، لکه څنګه چې انجنیران د نقشې له مخې ودانۍ رغوي، زموږ په شرکت کې اصلي بودیجه د زموږ د کړنو د نقشې رول لري. اصلي بودیجه له موږ سره مرسته کوي، ترڅــو خپل کارونه پلان او همغږي کړو او هغو ته د رســېدو او ترسره کولو لپاره لازم امکانات په نښه او د خپلو کړنو د سنجونې په معیار باندې ځان خبر کړو.

بـې ځایـه به نه وي، چې د اصـلي بودیجې  او د بودیجې د اصلي او بنسـټیزې موخې په اړه بحث وکړو.

**اصلي بودیجه:** له هغه مالي پلان څخه عبارت ده، چې د راتلونکي کال یا راتلونکي پلان جوړونې د دورې لپاره طرحه کېږي. یا دا چې په یوه ټاکلې دوره کې د پلان شویو لګښتونو پر وړاندې او د هغو لپاره د اټکل شویو عوایدو له یوې منظمې طرحې څخه عبارت ده.

**اصلي او بنسـټیزې موخې:** د دولت د لومړنیو مشخصو موخو مجموعه ده، چې د مدیریت په واسـطه مشـخصېږي. ټول کارکوونکي دې موخې ته د رسېدو لپاره کار کوي او یا دا چې بودیجه د دولت قانوني سـند دی، چې په هغې کې ټول عواید او لګښـتونه د یوې ټاکلې مودې لپاره یو شان ټاکل کېږي او په اقتصادي، ټولنیزه، کولتوري، دفاعي او سیاسي برخه کې د پرمختیاوو او فعالیتونو منعکسوونکې بلل کېږي.

نـن ورځ پـه بودیجه کې مهمه مـسـله له مـلي اقتصاد سره د بودیجې تـړاو دی. مانا دا چې بودیجه پر ملي اقتصاد څه ډول اغېزې پرې باسي. پر ملي اقتصاد د بودیجې د اغېزو د اندازې حدود د بودیجې له حجم سره مستقیمه اړیکه لري. په هره اندازه چې د بودیجې حجم د ملي عاید یوه ډېره سـلنه احتوا کړي، په هماغه اندازه یې اغېزې پر ملي اقتصاد ډېرې لوېږي او برعکس په هره اندازه، چې د بودیجې حجم د ملي عاید لږه سلنه احتوا کړي، په هماغه اندازه یې پر ملي ا قتصاد اغېزې لږې لوېږي.

## د مالي چارو د بودیجې مدیریت

لکه څنګه، چې مو مخکې وویل بودیجه په یوه ټاکلې دوره(یو کال)کې د عوایدو او لګښتونو اټـکل دی، یـوه اوږده بحث او څېړنې ته اړتیا لري، چې دلتـه د وخت د ضایع کېدو له امله ترې تېرېږو. دلته به د موضوع مطابق د مدیریت له مخې ځانګړې بودیجه تر بحث لاندې ونیسو.

د علمي مدیریت تر رامنځ ته کېدو وړاندې بودیجه د عوایدو او لګښتونو مازې یو ساده اټکل ګڼـل کېده، خو کله چې علمي مدیریت منځ ته راغی، د بودیجې مسـایلو ورسره پراختیا ومونده. د بودیجې د تنظیم او اجرا لپاره مشـخص مېتودونه او کړنلارې رامنځ ته شـوې او د هغو د تحقق لپاره جامع اټکلونو او پلانونو ته اړتیا احساس شوه.

دا مدیریت دنده لري هغه وړاندوینې او اټکلونه چې موخو ته د رسـېدو لپاره صورت مومي، د هغـو د تحقق لپـاره هغه کړنلارې چې د پلان د ځانګړنو لپاره اړینې ګڼل کېږي، تهیه کړي او د پلان له مسؤولانو سره همکاري، لارښوونه او ګډ کار وکړي.

د نویو کړنلارو مطابق د بودیجې تنظیم هغه لار ده، چې د لګښـتونو د وړاندوینې او اټکل د

پــلان او کړنو د تنظیم لپــاره کارول کېږي. په دې صورت کې په بېلابېلو ادارو کې د پلان د تنظیم، همغږۍ او د کړنو د څارنې په برخه کې پاملرنه رامنځ ته شوې ده، چې پخوا یوازې یوه مالي طرحه ګڼل کېده، خو نن ورځ د علمي او څېړنیزو کړنلارو او مېتودونو تابع ده.

چې دا کړنلارې د پلان پر بنسټ د بودیجې له تنظیم (Program Budgeting) او د اجراآتو پر بنسټ د بودیجې د تنظیم له څرنګوالي (Performance Budgeting) څخه عبارت دي، چې د دې دوو کړنلارو په درك او پېژندلو سره د مدیریت دنده تر ډېره روښانه شوې ده. د پلان پر بنسټ د بودیجې د تنظیم نظریه د لومړي ځل لپاره پر ۱۹۴۹ زېږدي کال په امریکا کې رامنځ ته شوه او دا نظریه د دې لامل شوه، چې د بودیجې پر تنظیم او سمون اغېزې پرې باسي.

د فعالیتونو د کړنلارې پر بنسټ د بودیجې تنظیم د ټامو شویو قیمتونو په پام کې نیولو سره لاندې پړاوونه لري:

**۱. ډلبنــدي:** په دې صورت کې د ټولو هغــو کارونو یا فعالیتونو، چې د ادارې ځانګړو او ټاکلو موخو ته د رسېدو په پار ترسره کېږي، یو لېست برابرېږي.

**۲. انتخاب او د اندازه کولو واحد:** عموماً د یوې ادارې کړنې د محاسبې له نظره مطالعه کېږي. یو ډول کړنې د سنجونې وړ وي او یو ډول د سنجونې وړ نه وي.

**۳. د لګښــت محاســبه:** په دې کړنلاره کې د ټولو توکو د ټامې شوې بیې له حسابدارۍ څخه لګښتونه لکه معاشونه، وسایل، تجهیزات، استهلاك او نور په پام کې نیول کېږي.

**د کار وېــش:** د هغو وګــړو ترمنځ، چې په هر اداري واحد کې دنــده ترسره کوي، د هغوی د کارونو د پایلو د ارزونې لپاره معیارونه او هم د کارونو د ترسره کولو بېلابېل پړاوونه ټاکل کېږي.

په هر شرکت کې د اصلي بودیجې جوړول او د بودیجې د ډلبندۍ پروســه په هماغه شرکت پورې منحصره وي. خو په ټولیزه توګه د بودیجې د ډلبندۍ ټولې پروسې څو مشترك اجزا لري. کله چې اصلي موخه وټاکل شي، ستراتېژي او اوږدمهاله پلان ترتیب شي، نو پر اصلي بودیجې کار پیلېږي.

په دې بودیجه کې د راتلونکي کال لپاره مشخص ارقام او د هغو جزیات ښودل کېږي او د نورو کلونو لپاره ځینې اټکلي ارقام هم ښــودل کېږي. په ډېرى شرکتونو کې د نوي مالي کال تر پیل شــپږ میاشــتې مخکې، د بودیجې د ډلبندي لوی کار ترسره کوي. خو د بودیجې د ډلبندۍ د بهیر موخه داده، چــې د مالي کار تر پیل مخکې له یوې میاشــتې تر شــپږو اونیو پــورې نهایي بودیجه باید د شرکت د رییس او مدیره هیئت له خوا تصویب شي.

د دې لپاره چې د اصلي بودیجې د تنظیم بهیر تاســې ته څرګند وي، باید هغه مالي صورتونه،

چې په یو شــمېر شرکتونو کې تهیه کېږي او څرنګه چې مخکې هم یادونه وشــوه، د زیان او ګټې حساب، د ثبت بیلانس او د نغدو پیسو د ګردش صورت په خپل ذهن کې انځور کړئ. اوس د دې مالي صورتونو تهیه کول، د مالي کال تر پیل مخکې مجسم کړئ. په دې ډول پوهېږئ، چې د اصلي بودیجې د تهیه کولو بهیر څه ته وايي او څنګه ټاکل کېږي.

## مالي انحصار

مالي انحصار د دولتي انحصاراتو یو ځانګړی شکل دی او دا انحصارات په نامستقیم ډول د یو ډول پانګونې ښودنه کوي.

د بېلګې په توګه، که دولت وغواړي، د یو یا څو ډوله امتعې مالیه د مشخصو موخو د ټاکلو او تعقیب پر بنســټ لوړه وټاکي او اټکل يې کړي، چې د دې تدبیرونو د عملي کېدو په مقابل کې یو لــږ غبرګونونــو او یا هم د خلکو له خوا له مقاومت سره مخ کېږي، په دې صورت کې د یوه هېواد لپاره تر ډېرلو غوره لار داده، چې د تولید یا خرڅلاو حق یا د امتعې یوازې خرڅلاو یا تولید په خپل انحصار کې ونیسي او د پام وړ مالیې په اندازه د یادې امتعې بیه لوړه وټاکي.

ځکه، چې په دې ډول انحصار کې د هېواد موخه د ډېرو مالیاتي عوایدو لاســته راوړل دي، له دې امله دا ډول انحصار د مالیاتو د عوضي په نامه هم یادوي.

مالي انحصار د نامحسوسو مالیاتو په نامه هم یادېږي، ځکه د دې ډول انحصار په صورت کې ډېــرى خلك فکر کوي، چې د امتعې بیه لوړه شــوې او ډېر لږ خلك پــه دې هکله فکر کوي، چې دولت د ډېرو مالیاتي عوایدو د ترلاســه کولو لپــاره د پام وړ مالیې د لوړوالي په اندازه د انحصاري امتعې بیه لوړه ټاکي. مالي انحصار نن ورځ د نړۍ په ډېرى هېوادونو کې شتون لري.

د مالي انحصار په صورت کې مالیه د انحصاري توکو د بیې یوه برخه جوړوي، چې یو هېواد دا بیه د اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو موخو له مخې ټاکي.

مالي انحصار په حقیقت کې پر لګښت باندې یو ډول مالیه ده، چې د نامحسوس والي په نسبت د مالیې اېښودل یو ځانګړی شکل ښیي.

دا چــې په مــالي انحصار کې مالیه د بیې د یوه جز په توګه پر مصرفوونکو باندې په مســاوي ډول لېږدول کېږي، نو پر دې بنسټ په نسبي ډول د مالیې فشار((نظر عاید ته))پر ترلاسه کوونکو بانــدې ټیــټ عاید په ډېره انــدازه وي. له دې امله د عاید مجدده توزیــع په منفي ډول تر اغېزې لانــدې راولي. د بېلګــې په توګه: کله چې د نفتي توکــو د انحصار په صورت کې بیې لوړې شي، په دې صورت کې د نقلیه وســایطو خاوندان د ترانســپورټ بیې لوړوي، چې په پایله کې يې د نقلیه وسایطو کاروونکي د مالیې د بار متحمل ګرځي او اصلي زیانمنېدونکي ګڼل کېږي.

مـالي انحصاريتوب بايد له نورو دولتي انحصارونو څخه، چې د اقتصادي او ټولنيز سياسـت د موخو د ترلاسـه کولو لپاره رامنځ ته کېږي، تفريق کړو. هغه انحصار چې ټولنيزه موخه لري، مثال يې دادی چې دولت د خلکو د لومړنۍ اړتيا وړ څو ډوله امتعه په خپل انحصار کې نيسي او ياده امتعه نظر خصوصي وګړو ته په ټيټه بيه پلوري، ترڅو په دې وسيله د خلکو د پيرودنې قدرت لوړ کړي او د ټولنيزې سوکالۍ په تامين کې برخمن شي.

هغه انحصار چې موخه يې اقتصادي سياسـت وي، مثال يې د نشر انحصار دی، تر څو په دې وسيله په اقتصاد کې د پيسو مقدار کنټرول او د پيسو استقرار او ارزښت وساتل شي.

د وروستيو لسوکلونو په بهير او په ځانګړې توګه له ۱۳۷۰ لمريز کال راپه دې خوا په افغانستان کې د افغانۍ د ارزښـت او بې ثباتۍ له لاملونو څخه يو هم د دولتي قانوني بانك نوټونو ترڅنګ ناقانونه او جعلي بانك نوټونه وو، چې د ناقانونه مراجعو له خوا دوران ته اچول کېدل.

دا چــې د دې اضـافي او ناقانونه بانك نوټونــو په مقابل کې د هېوادونو تــر شرايطو لاندې د مجموعي عرضې د لوړولو امکاناتو شـتون نه درلود، له دې امله يې د پولي ريفورم وضعه خرابوله او پولي ارزښت يې له منځه ووړ.

## د بوديجې مفهوم او ماهيت

د بوديجې کلمه له لغوي پلوه د چرمي بکس په مانا ده. د بوديجې اصطلاح د لومړي ځل لپاره پر ۱۸۱۴ ز کال په فرانسه کې په رسمي توګه د دولت د عوايدو او لګښتونو لپاره وکارول شوه. له هغه وروسته په تدريجي ډول په يو شمېر نورو هېوادونو کې هم دود شوه. بوديجه په افغانستان کې په نننی او ماډرن ډول تر ۱۲۹۸ هـ ش کال وروسته  معموله او دود شوه.

د بوديجې په اړه بېلابېل تعريفونه شـوي. د کلاسـيك تعريف له مخې بوديجه هغه سند دی، چې په هغه کې د يوې ټاکلې مودې لپاره د دولت عوايد او لګښتونه اټکل او تصويبېږي.

د بوديجې نسبتاً بشپړ او عام تعريف د الماني پوهانو(فريش نوي مارك)له خوا وړاندې شوی دی.

د يوې ټاکلې راتلونکې دورې د لګښتونو د پوره کولو لپاره د اټکل شويو عوايدو او پلان شويو لګښـتونو د يو او بل پــه مقابل کې قرار ورکول يوه منظمه طرحه ده، چې د پرنيســب له پلوه د تطبيق د مکلفيت لرونکې ده.

د دې تعريف ځانګړنې دادي:

۱. بوديجه د دولت د عوايدو او لګښتونو يو د بل په مقابل کې قرار ورکولو ته وايي.

۲. بوديجه د يوه پلان خاصيت لري او په يوه راتلونکې دوره پورې تړلې ده،

۳. د بودیجې ترتیب باید په یوه منظم او پرلپسې ډول صورت ومومي.

۴. بودیجه د اړتیاوو له مخې ترتیبیږي، باید عواید او لګښتونه ورسره سمون ولري.

۵. بودیجه د حقوقي مکلفیت او الزام لرونکې ده.

۶. بودیجه د حکومت د کار د پروګرام له عددي تذکر څخه عبارت ده او په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه ساحه کې د دولت د دندو د حل او ترسره کولو لپاره ټول تدبیرونه احتوا کوي او د افغانستان د بودیجې مقررې هم د بودیجې تعریف له دغه تعریف څخه الهام اخیستی او د دې قانوني وظیفه د حقوقي الزام وظیفه هم بلل کیږي او د حکومت او ادارې دا تابعیت د هغو دندو په ارقامو چې په بودیجه کې ښودل شوي او د مقننه قوې په واسطه تثبیت شوې دي، شاملیږي.

## د بودیجې د مالي سیاست دنده

د دولت په بودیجه کې د مالي اړتیا او د مطابقت کوونکو مالي وسایلو د شتون تطابق د دولت د بودیجې د مالي سیاست اصلي دنده تشکیلوي او دا د مالي سیاست لومړنۍ دنده ګڼل کیږي.

د مالي سیاست دویمه دنده داده، چې د بودیجې اقتصادي موثریت او معقولیت تقویه او مرسته ورسره وکړي، چې دا دنده د اقتصادي رهبري کوونکې دندې او د مالي سیاست د سازمان په نامه یادیږي.

## د بودیجې د اقتصادي سیاست دنده

د اقتصادي اهمیت له مخې بودیجه د یوې وسیلې په توګه د دولت د مالي اقتصاد او عمومي اقتصادي پروګرام د همغږي کولو لپاره کارول کیږي، چې د سیاست دا لومړنۍ دنده، د بودیجې د اقتصادي سیاست په نامه یادیږي.

د محاسبې معادله یې دا ده:  شتمني= بدیهي + پانګه

هره معادله، چې د محاسبې پر یوه طرف باندې اغېز اچوي، د محاسبې پر بل طرف هم مساوي اغېزه اچوي او د محاسبې معادله د تعادل په حالت کې ساتي.

په دې توګه د شتمنۍ ډېروالی باید د شتمنۍ په بله برخه کې د کموالي لامل شي او یا د بدیهي ډېروالی د بدهي د ډېروالي لامل کیږي.

د بېلګې په توګه: یو شرکت مشتري ته ۳۰۰۰۰ ډالره پور ورکوي. دا معامله په کتابونو کې لومړی د شتمنۍ د کمښت په شکل(نقدو پیسو)د ۳۰۰۰۰ ډالرو په مبلغ او وروسته د شتمنۍ ډېروالی(د پورونو له منځه تلل)په عین مبلغ ثبتیږي.

په عين ډول که یو شرکت یو مقدار ســامانونه او لوازم د کرېډېټ په ډول پیري د(ســامانونو) شتمني به ډېروالی ومومي او بدیهي(لنډمهاله پورونه)هم په همدې ډول دي.

## د محاسبې بنسټيز مفاهيم

د محاســبې د سنجونې ټول مقررات د منل شويو عمومي پرنسيپونو تر عنوان لاندې محاسبه، پانګــوال او مالي شــونکي یوه معموله ژبه د کلنیو راپورونــو د تحلیل او ژباړې لپاره وړاندې کوي، چې دا د مالي او محاسبوي قواعدو یو شکل دی، چې د مالي فعالیتونو د څرګندتيا او وړاندې کولو نوعیت په یوه مالي شرحه کې پر لار اچوي.

په ډېری هېوادونو کې یو شمېر تغییر نه منونکي بنسټيز اصول شته، چې د محاسبې له قواعدو جوړ دي او د یوه سازمان د مالي فعالیتونو پر څرنګوالي نفوذ لري. دلته د محاسبې څو طريقې په پام کې ساتو.

## د احتياط پرنيسپ

ټولې شــتمنۍ باید د ثبت په کتاب کې د اخیســتلو پر مهال له بیې سره ثبت شي، چې دا مبلغ د نن ورځې د اخيستلو او خرڅلاو له قېمت څخه توپیر لرلی شي.

مثــلاً، یــو دفتر په یوه ودانۍ کې یو پارټمان په ۴۰۰۰۰ ډالره اخلي، دارايي په کتاب کې ۴۰۰۰۰ ډالره ثبتېږي، حتا که د هغه قېمت په بازار کې ۵۰۰۰۰ ډالرو ته هم ورسېږي.

## د محاسبې دوه ګونی ثبت

د محاســبې دوه ګونی ثبت پر هغو مفاهیمو ولاړ دی، چې هره معامله پر راکړه ورکړه باندې اغېــز کوي، په دوو حســابونو یا تر هغو ډېــرو باندې ثبتېږي. پر دې بنســټ دوو یا تر دوو ډېرو مراجعو ته د ثبت اړتیا پیدا کېږي. هره معامله پر شــتمنۍ، بدیهۍ او یا پانګه باندې اغېز اچوي. (ځینې وختونه د عوایدو یا مخارجو له لارې، در آمد شرح)، مبلغ زیاتوالی موندلی شي. هره معامله پر دوو حسابونو باندې اغېز اچوي او په هره باره کې د محاسبې معادله د تعادل حالت ته راولي.

د محاسبې د کار ډول په عمومي توګه پر دوو بڼو وي:

۱. په (Single Entry) یا یو اړخیزه بڼه.

۲. په (Double Entry) یا دوه اړخیزه بڼه.

په یو اړخیزه محاسبه کې محاسبوي معادلې یوازې په یوه دفتر کې ثبتېږي.

د یادونې وړ ده، چې په نړیوالو معیارونو کې مالي راپور ورکول(IFRS) او د محاسبې نړیوال معیارونه(IAS)په پخوانۍ بڼه(د محاسبې نړیوال معیارونه)یو شمېر محاسبوي معیارونه دي، چې د مالي معیارونو د نړیوال پلاوي له خوا تصویب شوي دي.

د مالي راپور ورکولو نړیوال معیارونه د روسیې او هانګ کانګ په ګډون د نړۍ په ډېرى هېوادونو کې کارول کېږي. له ټولو ثبت شویو هېوادونو څخه په اروپايي کمېسیون کې غوښتل شوي، چې د متراکمو حسابونو د چمتووالي په موخه د ۲۰۰۵ کال د مالي راپور ورکولو له نړیوالو معیارونو څخه ګټه واخلي. تر ۲۰۰۵ کال وړاندې شاوخوا ۳۵۰ شرکتونو له دې معیارونو ګټه پورته کوله، حال دا چې په ۲۰۰۵ کال کې دا شمېره ۷۰۰۰ ته پورته شوه.

## مالي رول

محاسبه په یوه سازمان کې د مالي اندازه کولو، ثبت، لنډیز او د اقتصادي فعالیتونو د پوهاوي راپوهاوي له بهیر څخه عبارت ده. محاسبه د سوداګرۍ ژبې ته اړوندېږي او د نورو ژبو په څېر ځانګړي لغتونه او مقررې لري. ځینې د محاسبې په اړه وايي، چې یوه ډېره پېچلې تخنیکي ځانګه ده، چې یوازې مسلکي محاسبه کوونکي يې درك کولی شي. حال دا چې د محاسبې تخنیکي اصطلاح ګانې لکه، شتمني، بدیهي، پانګه، عاید، لګښتونه، لاسته راوړنې او نقدي جریان په پراخه پیمانه کارول کېږي.

پر دې بنسټ هر څوك چې د چارو په تصمیم نیولو کې دخیل وي، باید د محاسبې پر بنسټیزو مسایلو، چې د مالي مدیریت بنسټ جوړوي پوه وي. محاسبه یو خدماتي فعالیت دی او د یوه سازمان د اقتصادي فعالیتونو په هکله د مالي معلوماتو ډولونه وړاندې کوي، چې د مالي تصمیم نیولو د بنسټ په توګه د ګټې اخیستلو وړ ګرځي.

د سازمان منابع کوم دي؟ سازمان څه ډول دیون لري؟ ایا عملیاتي لګښتونه نظر عوایدو ته ډېر لوړ دي؟ ایا د سازما جاري پورونه د هغو د بقا لپاره کافي لاسته راوړنې رامنځ ته کولی شي؟ اړینه نه ده، چې یو کس د یوه سازمان د محاسبې پر پېچلو جزیاتو باندې پوه شي، اما بیا هم له یوه کارکوونکي سره دا مرسته کوي، چې د محاسبوي فعالیتونو په چوکاټ باندې پوه شي.

مدیران په ځانګړې توګه اړتیا لري، چې له محاسبې څخه د ترلاسه شویو معلوماتو پر بدلون پوه شي. د دې معلوماتو پر بنسټ مدیران د سازمان مالي وضعیت تجزیه او تحلیلولی شي او د سازمان مالي چارې داسې اداره کولی شي، چې په راتلونکي کې مالي ثبات تضمین کړي.

د بودیجې تنظیم د داسې موخو مطابق صورت مومي، چې دا موخې حکومت د خپلو عمومي سیاستونو په چوکاټ کې تعقیب کړي. د بودیجې له نني بنسټیز مفهوم او ماهیت څخه د دولت په فعالیتونو کې د اقتصادي پرنسپونو د تطبیق موخه د اقتصادي جریان تر اغېزې لاندې راوستل

ګټل کېږي. د اقتصادي جريان تر اغېزې لاندې راوستل د دولت د بوديجې له ځانګړو مفاهيمو څخه ګڼل کېږي.

## د دولت د بوديجې دندې

د دولت د بوديجې بنسټيزه دنده داده، چې د دولت فعاليتونه داسې ترتيب او تنظيم کړي، چې د حکومت پلان شوي تدبيرونه په اغېزمنه توګه شوني او سربېره پر هغو عمومي سوکالي چې د دولت اصلي موخه ده، د دولتي اقتصاد او خصوصي اقتصاد د فعاليتونو د اغېزناکو اړيکو په وسيله برابره کړي.

هغه مهمې دندې چې بوديجې ته نسبت ورکول کېږي، هغه د بوديجې سياسي دنده ده، په دې مانا چې حکومت يو سياسي پروګرام طرحه کوي او د دې پلان د پلي کولو ټول لګښتونه په بوديجه کې ښيي او دوه ډوله عمده مالي معلومات کاروي، چې له کورنيو او بهرنيو ګټه اخيستونکو څخه عبارت دي. محاسبوي معلومات، چې د مبلغ د خاوندانو (بهرنيو ګټه اخيستونکو)د اړتياوو ځواب ويونکي دي، د مالي محاسبې په نامه يادېږي. پانګوال، پور ورکوونکي او عام وګړي د بهرنيو ګټه اخيستونکو له ډلې څخه دي. هغوی د دې لپاره چې په شرکت کې يې پانګونه کړې، له هغه سره دلچسپي ښيي.

مديريتي محاسبه هغه معلومات په لاس کې ورکوي، چې د کورنيو ګټه اخيستونکو په وسيله د سازمان د فعاليتونو په ترسره کولو کې ګټور تمامېږي. په کورنيو ګټه اخيستونکو کې مديران، کارکوونکي او هغه ټولنې چې په خپلو مستقيمو اړيکو سره د کار په پرمختګ کې له محاسبوي معلوماتو سره علاقه مندي ښيي.

ډېری سازمانونه او وګړي د محاسبانو په وسيله د برابرو شويو کافي مالي معلوماتو پر بنسټ د تصميمونو نيولو ته مخه کوي. پر دې بنسټ هغوی بايد پوه شي، چې دا معلومات څه ډول سنجول شوي دي. د مفاهمې او اړيکو په موخه محاسبانو داسې مقررات وضعه کړي، چې په هغو کې دخيل اشخاص له هغو کار واخلي او په دې متيقن شي چې د هغوی په اړوندو مالي چارو پورې تړلي دي. فرض کړئ يوه مغازه توکي پلوري، څه وخت بايد د خرڅلاو محاسبه ثبت کړي؟ هغه مهال چې توکي لېږدول کېږي.

(مستقيمه حسابداري) يا هغه وخت چې نقدي پيسې د اجناسو د خرڅلاو له مخې ترلاسه شي(نقده حسابداري)دا چې د مغازې خاوند د مستقيم حساب يا له نقد حساب څخه استفاده کوي، دومره مهمه نه ده، خو د اهميت وړ ټکی دادی، ترڅو داسې قاعده وضعه شي چې خاوند مکلف کړي، چې د رپوټ ورکولو پر مهال دا څرګنده کړي چې د ثبت لپاره يې له کوم مېتود څخه کار اخيستی دی.

## د مالي حسابونو صورت

محاسبوي معاملې د مالي راپور د پروسې له لارې د اشخاصو ترمنځ اېښودل کېږي. د بهرني مالي راپور بنسټ د مالي حسابونو د صورت مجموع تشکیلوي. د مالي حسابونو د حساب صورت درې مهمې موخې چې د راکړې ورکړې په معاملو کې باید برابرې شي، په لاندې ډول دي.

## مالي شرحه

د بیلانس حساب صورت

د عوایدو حساب صورت

د نقدي جریان (پیسو) حساب صورت

د عوایدو د شرحې له مخې د یوه شرکت د معاملاتي فعالیتونو څخه په یوه مالي کال کې یا د کال په یوه ربعه کې راپور ورکوي. د عوایدو شرحه د هغو محصولاتو د پولي ارزښت انعکاس ورکوونکې ده، چې شرکت په یوه زمانه کې البته په خرڅلاو پورې اړوندو لګښتونو او مخارجو څخه لږ خرڅ کړي وي. د خرڅلاو او مخارجو ترمنځ توپیر له خالص عاید(ګټې)یا زیان سره مساوي دی.

بیلانس شیت د یوه شرکت له مالي موقف څخه د مالي کال په وروستۍ ورځ یا د کال په ربعه کې روپوټ ورکوي. محاسبان اکثره بیلانس شیټ د یوه شرکت له فوري عکس سره تشبیه کوي، ځکه د ترسره شویو عملیاتو اطلاعات په یوه مشخصه زمانه کې د پولي مبالغو له مخې منعکسوي.

# د اووم څپرکي لنډیز

د دولت بودیجه او شتمني ګڼې قانوني، سیاسي، د پلانجوړونې د اقتصادي سیاست جوړوونکې دنـدې لري. د بودیجې اصول د بودیجــې د کاملیت اصل، د بودیجې د وحدت اصل، د بودیجې د دقیق والي اصل او د بودیجې د توازن او د علنیت اختصاصي قابلیت اصل دی. بودیجه اصلا د کسې یا چرمي بکس په مانا ده، او دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره پر ۱۸۱۴ کال په فرانسه کې په رسمي ډول د دولت د عوایدو او لګښــتونو په برخه کې وکارول شــوه او بودیجې د اټکل شویو عوایدو او پلان شویو لګښتونو د یوې منظمې طرحې په توګه ونومول شوه. په یوه راتلونکې ټاکلې دوره کې د لګښتونو د تکافو یا بسنې لپاره کارول کېږي. د بودیجې د مالي سیاست دنده، د مالي اړتیاوو او د بودیجې د مالي سیاست د مالي وسایلو د شتون تطابق ورکول دي.

د محاســبې د بنســټیزو مفاهیمو درك، چې د عمومي پرنســیپونو تر عنوان لاندې منل شوي، د مالي تحلیلګرانو او پانګوالو محاســبه ده، د مالي او محاســبوي قواعدو شکل دی. ټول محاسبوي پرنســیپونه چې شــتمنۍ باید د ثبت په کتابونو کې د پیرودنې د مهال په بیې سره ثبت شي او دوه ګونی محاســبوي ثبت چې هره معامله پر دوو ډلو اغېز اچوي او په دوو یا تر دوو ډېرو هغو کې ثبتېږي او هره معامله پر دارایۍ باندې اغېز اچوي. په عمومي توګه د محاســبې د کار ډول په یو اړخیز شــکل او په دوه اړخیز شــکل په یوه دفتر کې ثبتېږي. د مالي راپور ورکولو نړیوال معیارونه چې محاســبوي معیارونه دي، د مالي معیارونو د نړیوال پلاوي په واســطه تقویه شــوي دي، چې اوسمهال د نړۍ په ډېری هېوادونو په ځانګړې توګه روسیه، هانګانګ کې کارول کېږي.

## د اووم څپرکي پوښتنې

۱. مالي انحصار څه ته وايي، واضح يې کړئ؟
۲. د بوديجې ماهيت او مفهوم شرحه کړئ؟
۳. د دولت له نورو انحصاري ډولونو سره د مالي انحصار توپير په ګوته کړئ؟
۴. بوديجه څه ته وايي، تعريف يې کړئ؟
۵. د بوديجې قانوني دنده تشريح کړئ؟
۶. د محاسبې بنسټيز مفاهيم شرحه کړئ؟
۷. د محاسبې دوه ګونی ثبت څه ته وايي؟
۸. په مالي چارو کې د محاسبې رول واضيح کړئ؟
۹. د بوديجې پروسه کوم بنسټيز پړاوونه ترسره کوي؟
۱۰. د بېلګې په توګه په يوه المالي شرکت کې د بوديجې رول واضيح کړئ؟
۱۱. اصلي بوديجه څه ته وايي؟
۱۲. د بوديجې بنسټيزه موخه څه ده؟
۱۳. د مالي چارو د بوديجې په اړه معلومات وړاندې کړئ؟
۱۴. د بوديجې د تنظيم کړنلاره شرحه کړئ؟

# د دولتونو د عوایدو ډولونه

**ټولیزه موخه:**

د عوایدو راټولول، د مالیاتي او نامالیاتي عوایدو کنټرول.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي تر لوستلو وروسته به لوستوال پر لاندې توکي لاسبري وي:

- د دولت د عواید د راټولولو د لارو چارو پر مالي مدیریت به پوه شي.
- د مالیــاتي او نامالیــاتي عوایدو د راټولولــو کړنلارې او د حکومتي ادارو په واســطه د مالیې اېښودنې پر مېتود به پوه شي.
- د مالیاتو د مشروعیت پر مفهوم او همداشان د مالیاتو پر تاریخ بهیر به خبر شي.
- د محاسبوي کړنلارو او د هغو د تثبیت چل ول به زده کړي.

## د دولتونو د عوایدو ډولونه

نــن ورځ ټول مدیریتونــه خپلې اقتصادي، ټولنیزې، کولتوري او ســیاسي دندې او د دغو دندو ترسره کول لګښــتونو ته اړتیا لري. پر دې بنســټ د دې لګښــتونو د مالي تامین لپاره د مدیریت د عوایدو بېلابېلې لارې پر دوو ډلوووېشو:

### مالیاتي عواید

۱. نامالیاتي عواید

۲. مالیاتي عواید

۱. **مالیاتي عواید:** د مدیریت د مخارجو یا لګښتونو د تامین تر ټولو غوره او مهمه لار، د مالیاتو د بېلابېلــو ډولونــو راټولول دي. په بله وینا له نــورو منابعو سره د مالي تامین د دې مهمې منبع په پرتلنــې سره ویلی شــو، هر څومره چــې د مخارجو په تامین کې مالیاتي ســهم ډېر وي، نا مطلوب اقتصــادي اثار کمېږي. پــه پرمختللو هېوادونو کې د مخ پــر ودې هېوادونو خلاف مالیات ناڅیزه رول لري.

۲. **نــا مالیاتي عواید یا لاســته راوړنې:** نا مالیــاتي عواید له هغو وجوه څخــه عبارت دي، چې مدیریــت یې له خپلو اقتصــادي فعالیتونو څخه راټولوي. دا ډول عواید لــه بېلابېلو پانګونو څخه سرچینه اخلي یا د هغو وجوه ترلاسه کول دي، چې د ډول ډول خدمتونو د ترسره کولو له بابته، د مالیاتي عوایدو خلاف د دې ډول عوایدو له خصوصیاتو څخه چې ورکړه یې پر خلکو باندې اجباري ده، اختیاري توب دی. نامالیاتي عواید په لاندې ډول دي:

۱. د دولتي مدیریت له انحصاراتو څخه رامنځ ته کېدونکی ســود، لکه، نفت، د اروګاډې پټلۍ، برېښنا، ټلېفون.

۲. د بېلابېلو خدمتونو پاداش چې د دولتي مدیریتونو له خوا ورکول کېږي.

۳. له عمومي املاکو، خرڅلاو یا اجارې څخه ترلاسه کېدونکي عواید.

۴. له خلکو څخه د پورونو اخیستل یا پولي مقامات(پولي انتشارات).

۵. دا چې مالیاتي عواید د دولت د مالي مدریت د مخارجو یا لګښــتونو لپاره کافي نه وي، لازمه ده چې د نامالیاتي عوایدو په واسطه کسر له منځه یوړل شي. د یادونې وړ ده چې مختلفو نامالیاتي عوایدو د کسر د ډولونو اغېزې د دولت د مالي مخارجو په تامین کې په بشــپړه توګه له یو بل سره توپیر لري.

## د مالیاتو مفهوم او مشروعیت

مالیه د بشري ټولنو د اوږده تاریخي انکشاف نتیجه ده، چې بېلابېل تاریخي پړاوونه یې وهلي دي.

مالیــات هم له کیفــي اړخه او هم له کمي اړخه د بدلونونو تابع شــوي دي. مالیات په خپله لومړنۍ بڼه له دولتونو سره یو ځای منځ ته راغلي. په حقیقت کې د دولتونو مهمه عایداتي سرچینه ګڼــل شــوې. مالیات له متقابل پاداش پرته له انفــرادي او اجباري ورکړې څخه عبارت دي، چې له حقوقــي او حقیقي اشــخاصو څخه د هغــوی د ملکیت د یوې برخې پــه ډول د هغوی اقتصادي فعالیتونــه او یا د هغوی د پولي رهبرۍ له وســایلو څخه د مــالي تامین په موخه د دولتي مدیریت فعالیتونه ترسره کېږي.

په دې تعریف کې د اړتیاوو د پوره کولو لپاره له پاداش پرته اجباري ورکړه او د دولت پر غاړه

د کنټرول مدیریت، د هغو د پرداخت له صورت څخه دي.

د مشروعیـــت لـــه پلوه دولت حق لري، چې د خپلو لګښـــتونو د پوره کولـــو لپاره له خلکو او موسسو څخه مالیات راټول کړي.

## د حکومتي(مدیریتي)ادارو له خوا د مالیاتو راټولول

نن ورځ د نړۍ په ټولو هېوادونو کې د مالیاتو اېښودل او د مالیاتي مقرراتو او قوانینو تدوین د مقننـــه قـــوې دنده ده. حکومتونه د قوانینو او مقراراتو له مخې د مالیاتي دولتي ادارو له لارې د مالیاتو عواید مستقیماً له مالیاتي مکلفینو څخه ترلاسه کوي.

دا ځکه چې په دې ډول مالیات له کوم تبعیض او امتیاز پرته راټولېږي او د کنټرول مرجع یې هم حکومتي مدیریتونه دي. دا چې په اوســنیو مالیاتي سیســتمونو کې د مالیاتو ډېر ډولونه شامل دي او په مجموعي مالیاتي عوایدو کې د یو ډول مالیې سهم  په لوړه اندازه نه وي، پر دې بنسټ د مالیاتو اغېزې هم په هماغه اندازه د مالیې پر مکلفینو په لږه توګه احساس شوي.

## د مالیې اېښودنې رواني حدود

د مالیې اېښـــودنې رواني حدود یانې دا چې یو مالیاتي سیاست تر کومې اندازې د یوه هېواد د خلکو له خوا د هغو د راټولولو د لارو چارو او هنر له نظره د تحمل او احساس وړ ګرځي.

نظر د وخت او ځای شرایطو ته توپیر مومي، له دې امله د مالیې اېښـــودنې لپاره نه شو کولی، داســـې مشـــخص او ټاکلي حدود وټاکو، چې په ټولو ځایونو کې په یو ډول د پلي کېدو وړ وي.  په یوه هېواد کې د مالیې اېښودنې حدود د وخت په تېرېدو سره اقتصادي، ټولنیزو، کولتوري شرایط، د فکر ډول او نور توپیر مومي، پر دې بنسټ د خلکو د مالیاتي ذهنیت لامل ګرځي.

که چېرې د یوه هېواد مالي سیاستوال د مالیې اېښودنې حدود مراعات نه کړي او په خپل زړه او خوښـــه دولتي سیاســـتونه مطرح او پلي کړي، په دې صورت کې شایي د ټولنې غبرګون د مالیاتي مقاومتونـــو په بڼه مالیاتي مکلفـــین هڅه وکړي، چې په بېلابېلو بڼـــو او ډولونو د مالیې له ورکړې څخه، چې پر هغوی باندې تحمیل شوي په یو ډول نه یو ډول ډډه وکړي.

مالیاتي مقاومتونه او د هغو پر وړاندې مبارزه د مالیاتو د راټولولو ټمام شـــوي لګښتونه لوړوي او په پایله کې د دولتي مدیریتونو د خالصو مالیاتي عوایدو د کمښت لامل کېږي.

## د مالیاتي مقاومتونو پر وړاندې د مبارزې پلان او د شوونې او روزنې د سطحې لوړول

د اوږدمهالـــه پلانونـــو له مخې د مالیاتي مقاومتونو د له منځـــه وړلو او مالیاتي چارو د کنټرول

تر ټولو مهمه وسـیله د یوه ملت د وګړو د ښـوونې او روزنې د سطحې لوړول دي، ځکه د ښوونې او روزنـې د سـطحې پـه لوړېـدو سره د دې ټولنې د وګـړو د مالیاتو د ورکـړې او مالي ذهنیت اخـلاق لوړېـږي او په دې توګه د مالیې ورکړې ته د خلکو چمتوالی ډېرېږي او په پایله کې مالیاتي مقاومتونه پخپله له منځه ځي او مدیریتونه باید د مالیاتي کنټرول او څارنې لپاره په سیمه کې خپل توان له لاسه ورنه کړي. په هره کچه چې د یوې ټولنې خلك له ښوونې او روزنې څخه برخمن شي، په هماغه اندازه د حکومتونو پر وړاندې خپل وجایب او مکلفیتونه درك او خپل چمتوالی ښـوولی شي او د مالیاتي کنټرول له لارې د مالیې په ورکړه کې له انحرافاتو مخنیوی کېږي.

سربېـره پـر دې بل هغه عامل چې مخ پر وده هېوادونو کې د ملیـاتي مقاومتونو لامل کېږي، د عاید د سـطحې له ټیټوالي څخه عبارت دی. کله چې د یوه هېواد ډېری خلك له اقتصادي اړخه په داسـې یوه حالت کې واقع وي، چې عاید یې لږترلږه د ژوندانه د اړتیاوو لپاره بسـنه ونه شي کړای، نو څرګنده ده، چې په هر شکل او امکان سره چې وي، د مالیې له فشار څخه د تېښتې په موخه له مالیاتي مقاومتونو څخه کار اخلي. د نړۍ په پرمختللو هېوادونو کې له یوې خوا د خلکو د پوهې سـطحه لوړه ده او د دولت پر وړاندې خپل مسـوولیتونه او مکلفیتونه په ښه توګه درك کوي او له بلې خوا د عوایدو د لوړوالي په نسـبت او د مالیې د سـپما قدرت له مخې لکه د مخ پر ودې هېوادونو غوندې یې د ژوندانه د اړتیاوو د لګښتونو د محدودولو لامل نه کېږي. له دې امله مالیاتي مقاومتونه ډېر لږ په کې لیدل کېدای شي.

## د مالیاتو وېش

د مالیاتو د وېش په هکله بېلابېل اړخونه شـتون لري او له دې امله ډېرې وېشنې شته، چې د هرې یوه په اړه یې لنډ بحث کوو.

## د مالیې مطالبه کوونکو او د هغې د کنټرول له مخې د مالیاتو وېش

د مالیـې د مطالبه کوونکو له مخې د متحده(فدرال)مالیاتـو، غړو هېوادونو مالیاتو او ایالتي مالیاتـو ترمنـځ مالیه د تفریق وړ ده، چـې غړي هېوادونه هم د دولتي مالیاتـو  او هم د ایالتي مالیاتو درلودونکي دي.

پـه پرمختللي نړۍ کې د اقتصادي واحدونـو د ورځ په ورځ زیاتېدونکې او چټکه غوړېدنه او پېچلتیا چې د سـیالۍ د زیاتوالي او منابعو د کمښـت له وجې ده او همداشان په مالي زمینو کې د مخاطرانو د ډولونو شتون د دې لامل شوی، چې د دې ډول واحدونو مستقیم کنټرول ناممکن شي او د مدیریت له سیسـتم څخه د یوه داخلي نه بېلېدونکي او د کنټرول اغېزمن سیسـتم رامنځ ته کېدو ته اړتیا پیدا شوه او اغېزناکه داخلي څېړنه او بازرسي له مدیریت سره د مرستې په برخه کې

د دندو د ترسره کولو او مهمو ژمنو د ترسره کولو لپاره یوه بنسټیزه او مهمه حیاتي چاره وبلل شوه.

## منظم او نا منظم مالیات

۱. **منظم مالیات:** هغه مالیات دي، چې د یوه هېواد په مالیاتي سیسـتم کې شـتون ولري او په پرلپسې منظمه توګه ترلاسه کېږي.

۲. **نامنظم مالیات:** هغه ډول مالیات دي، چې په مالیاتي سیســتم کې شــامل نه وي، بلکې په ځانګړو او اړینو مواقعو کې د ځانګړو لاملونو پر بنســټ په یو مرتبه یي ډول ترلاســه کېږي. لکه پر حقیقي شــتمنیو باندې مالیات چې په ځینو هېوادونو کې له جنګ څخه ترلاسه کېږي او د دې ډول مالیاتــو موخه باید د مدیریت له پلوه څرګنده شي، یانې لاس ته راغلي مالیاتي عواید د هغوی له مدرکه د مشــخصو او ټاکلو موخو د تمویل په موخه کارول کېږي او د دې ډول مالیاتو د څارنې او کنټرول دنده د دولت پر غاړه ده.

## څو عضوي مالیات

هغه مالیات دي، چې په یوه مالیه کې څه ډوله مالیه شــامله وي، د بېلګې په توګه د فدرالي المان په مالیاتو کې پر عایداتو باندې مالیات، پر مزد باندې مالیات شــاملېږي. د مالیاتو په صورت کې څو عضوي مالیات د هغو د غړي د مشمولیانو له مالیې څخه ورکول کېږي، پر عایداتو باندې د مالیاتو د ورکړې پر مهال د مجرا وړ ګڼل کېږي. مثلاً کله چې یو کارګر پر مزد باندې مالیات ورکړي، وروسته پر عایداتو باندې د مالیاتو له مخې تقاضا شي، پر مزد باندې د ورکړل شویو دې مالیاتو کې، د عاید له سرجمع څخه تفریق کېږي، ترڅو په دې ترتیب د بیاځلي مالیه اېښودنې مخه ونیول شي.

## بشپړوونکي مالیات

د مالیاتــو د راټولو لپاره د مدیریت د موخو د غوره ترلاســه کولو لپــاره باید څو ډوله مالیات شتون ولري، چې یو د بل بشپړوونکي حیثیت ولري. د دې ډول مالیاتو یوه عملي بېلګه پر شتمنیو باندې مالیات دي، چې پر عایداتو باندې د مالیاتو د بشپړوونکي په توګه تر لاسه کېږي.

## د تمویل او تنظیمي مالیات

د مالیاتو په یوه مدیریت کې تمویل خالص مالي هدف لري او د دولت د مالي اړتیاوو د پوره د تمویل لپاره د یوې وسیلې په توګه وضعه کېږي.

تنظیمي مالیات: هغه مالیات دي، چې د مدیریت د یوې ټاکلې او مشــخصې موخې د ترلاســه کولو لپاره وضعه کېږي.

برخه ییز (ســهمي) او تقسیمي مالیات: د مدیریتي مکلفیتونو له نظره پر وګړو باندې مالیات د ســهمي او تقســیمي مالیاتو ترمنځ د تفریق وړ دي. د ســهمي مالیاتو په صورت کې باید مالیه ثابتــه وي او هر مالیه ورکوونــکی د مالیې د مبالغو جمعه کول تادیه کــوي او د مالیې مجموعي مبلغ نتیجه ورکوي.

دا وېــش د مالیې د وېــش ډېر پخوانی دود دی او اوس د مالیې ورکولو په پرمختللو مدیریتونو کې ورځخه چندان کار نه اخیستل کېږي.

## شخصي او واقعي مالیات

مدیریت د مالي وړتیا د درك له نظره د شــخصي مالیاتــو او واقعي مالیاتو ترمنځ تفریق رامنځ ته کړي. د شــخصي مالیاتو په صورت کې پر مالیې مکلف ټول شــخصي شرایط، لکه مدني حالت، د کورنۍ د غړو شــمېر، پور، ناروغي، د عوایدو لوړېــدل، د عوایدو څرنګوالی(د کار، اضافه کارۍ له درکه، د ثابتو او نورو شــتمنیو له درکه)د رعایت وړ ګرځول کېږي. وروســته د عاید بېلابېل ډولونه د مالیاتو د متفاوتو تعرفو تابع پېژندل کېږي.

پر دې بنســټ د مالیې په اېښــودلو کې عدالت د اوسمهاله مالیې اېښودنې له پرنسپونو څخه دی، چې اصلاً له اسلام څخه یې اقتباس موندلی دی. د عدالت پلي کول د اسلام یوه ټولیز او بنسټیز اصل دی، چې په ټولو بشري معاملو کې، له هغې جملې د مالیې اېښودنې په برخه کې یې د پلي کېدو غوښــتنه شــوې ده. الله ج په دې اړه فرمایي، ژباړه:(په ټولو کارونو کې عدالت وکړئ، ځکه عدالت تقوا ته نژدې دی.)

## د کنټرولي تسویه کوونکو مالیه

په یوه مدیریت کې تسویه کوونکې مالیه له هغې مالیې څخه عبارت ده، چې له مالیې څخه د تېښتې په موخه وضعه کېږي. مثلاً پر میراث باندې د مالیاتو اېښودلو په څنګ کې پر هدیه وضعه کول، ترڅو یو شخص ونه شي کولی د خپل ژوندانه په دوران کې د خپلې شتنۍ په هدیه کولو سره پر میراث باندې له مالیاتو ډډه وکړي.

پــر هدیــې باندې د مالیاتو د وضعه کولو او د هغو د کنټــرول لامل دا و، کله چې په اروپایي هېوادونو کې پر میراث باندې مالیات وضعه شــول، ډېری خلکو خپله شــتمني خپلو وارثانو ته په هدیه ورکوله، چې په دې صورت کې تر مړینې وروســته چې کومه شــتمني په میراث نه پاتېدله، چې پر میراث باندې د مالیاتو تابع ګرځېدلې وای. پر دې بنســټ چې مالي مدیریتونه وکولی شي د مالیاتو د دې ډول تېښــتې مخنیوی وکړي، پر میراث باندې د مالیاتو تر څنګ پر هدیه باندې هم مالیه ولګول شــوه. په دې صورت کې که متوفی خپله شــتمني په میراث پرېښېږدي او یا هغه په خپل

ژونــد کې خپلو وارثانو ته هدیه کړي، په دواړو حالتونو کې وارثان دولت د مالیې پر ورکړه باندې مکلف دي او پر موجوده شتمنۍ باندې د مالیې له ورکړې تېښته نه شي کولی.

## کنټرولي مالیه

هغــه مالیــه ده، چې په دې صورت کــې یوه مالیه بله مالیه کنټرولــوي. مثلاً پر میراث باندې مالیــات سربېــره پــر دې، چې پخپله یو مشــخص هدف دی، پــه عین حال کې د هغه په وســیله کنټرولېــدای شي، چــې د متوفی شــتمني د هغه په ژوندانه کې څومره وه او پر خپله شــتمنۍ یې څومــره مالیه ورکول. په دې مانا په هغه صورت کې میراث نظر د متوفی شــتمنۍ ته چې له هغه نه یې د شتمنۍ لپاره مالیات ورکول، ډېر وي، په دې صورت کې کتمان شوې شتمني نظر د هېواد مالیاتي قوانینو ته د مالیې تابع ګرځول کېږي.

مالیاتي کنټرولونه هغه کنټرولونه دي، چې د واحدو اقتصادي معاملو د ثبت او سموالي په اړه د ډاډ د ترلاسه کولو په موخه کارول کېږي. د داخلي کنټرولونو په مواقعو کې مدیریت کولی شي د مالي صورتونو او حسابونو د تنظیم او سموالي په هکله ډاډ ترلاسه کړي یا په بله وینا په هر وړوکي او لوی اقتصادي واحد کې د مالي حســابونو د صورت په نســبت د ډاډ میزان رعایت شي. په مالي کنټرولونو کې دوې ډلې مجزا ګڼل شوي:

**الــف – بایه کنټرولونه:** د یوه اقتصادي واحــد د فعالیتونو له حد اقل لازمو داخلي کنټرولونو څخــه عبارت دي، چــې د بېلګې په توګه د لویو او کوچنیو اقتصــادي فعالیتونو په موخه د لازمو دفترنو او اسنادو د ساتنې په موخه رعایت شي.

**ب – د انظبــاط کنټرولونه:** هغه کنټرولونه په کې شــامل دي، چې په خپله خودۍ یې وجود لازم اقتصادي واحد نه دی، یانې د دې د نه شتون په صورت کې اقتصادي کنټرولونه هم کولی شي خپلو فعالیتونو ته ادامه ورکړي، لېکن په خپله خودۍ سره.

## د اتم څپرکي لنډيز

نن ورځ د منظمو مالياتي سيستمونو په بېلابېلو لارو سره د عوايدو راټولول د دولت ځانګړې دنده ده. په هره اندازه چې د مالياتو سهم د مديريتونو د مخارجو په تامين کې ډېر وي، په هماغه اندازه نامطلوبې اقتصادي اغېزې کمېږي. کله چې د مالي اېښودونې له حدودو سرغړونه وشي، ماليه د نه تحمل وړ په صورت احساسېږي او د مالياتي مقاومتونو د منځ ته راتلو لامل کېږي او هغه کولی شو په لاندې لارو چارو سره له منځه يوسو: د ښوونې او روزنې د سطحې په لوړولو سره، چې د يوه ملت د مالياتي چارو د کنټرول تر ټولو غوره وسيله ده. د حکومتي دوايرو په وسيله د مالياتو راټولول، ځکه په ټوله نړۍ کې د مالياتو اېښودل او په دې برخه کې د قوانينو تدوين د مقننه قوې پر غاړه دي. په دې صورت کې ماليات له کوم تبعيض پرته د قانون له مخې راټولېږي. د مستقيمو مالياتو وېش د ماليې د مطالبه کوونکو او د هغې د کنټرول له مخې د نړۍ د اقتصادي واحدونو ورځ په ورځ ډېرېدونکې پراختيا او پېچلتيا د دې لامل شوې، چې د دې ډول واحدونو مستقيم کنټرول د دولت د کنټرولي منابعو پر غاړه واچول شي. د څو عضوي مالياتو او د تکميل او تنظيمي مالياتو، سهمي او واقعي مالياتو مطالعه، چې د مالي وړتيا د درك له نظره د شخصي مالياتو او واقعي مالياتو ترمنځ تفريق منځ ته راځي.

## د اتم څپرکي پوښتنې

۱. د مالياتي مقاومتونو پر ضد مبارزه شرحه کړئ؟

۲. د مالياتو د وېش په اړه معلومات وړاندې کړئ؟

۳. د دولت د عايداتي منابعو د ډولونو نومونه واخلئ؟

۴. نامالياتي عوايد يا لاس ته راوړنې څه ته وايي؟

۵. د مالياتو د مشروعيت مفهوم شرحه کړئ؟

۶. د مالياتي عوايدو يوازې نومونه واخلئ؟

۷. ماليه څه ته وايي، را ويې پېژنئ؟

۸. د دولتي ادارو له خوا ماليات څه ډول راټولېږي، په دې برخه کې معلومات ورکړئ؟

۹. د مالياتي مقاومتونو پر وړاندې مبارزې د ښوونې او روزنې د سطحې د لوړوالي له مخې شرحه کړئ؟

## سرچينې او اخځليکونه


۱- خدمات ملکی مدیریت مالی ۱۳۸۶

۲- پروفیسود دوکتور هنیس دیگر، حسابداری مالی، ترجمه ذبیح الله مشر ۱۳۸۶

۳- عبدالقیوم (ی، ف) مبادی علم مالی ، پوهنحی اقتصاد ۱۳۸۶

۴- داکتر مرتضی (قمی) برنامه ریزی کنترول و تولید موجود یها تهران۱۳۸۰

۵- وزارت عدلیه جریده رسمی قانون داره امور مالی و مصارف عامه شماره ۸۵۶-۱۳۸۴

۶- مبانی اقتصاد اسلامی ، مرکز تحقیقاتی حوزه دانشگاه تهران ۱۳۷۹

۷- موسوی حبیب اصول تنظیم و کنترول بودجه تهران ۱۳۸۴

۸- خدمات ملکی مدیریت مالی کابل ۱۳۸۶

۹- وزارت مالیه بودجه ملی افغانستان کابل ۱۳۸۶

# د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام

د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت د ښوونیز نصاب د انکشاف ریاست د ټولنې د عیني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلینو او شاگردانو د درسي کتابونو په برخه کې یې تخنیکي او مسلکي رشتې درلودې او لري یې، په لومړي سر کې یې تصمیم ونیو، چې په ښـوونیزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بیا کتنه وکړي او ورپســې بیا د شاگردانو او محصلینو د درسي کتابونو د تالیف لپاره مبادرت او کوښــښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حســابدارۍ ځانگې د ښـوونکو په میړانې او همت سره د ادارې او حســابدارۍ درسي کتابونه تالیف شول تر څو په وړیا ډول د شاگردانو او محصلینو په واک او اختیار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوســتونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، گرانو شــاگردانو او د تخنیکي او مســلکي زده کړو د چارو له متخصصینو او همدا شــان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صمیمانه هیله کیږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښـوونکو او د ادارې او حســابدارۍ ځانگې د مســلکي غړو له لوري تالیف او تدوین شوي دي. د مســلکي، تخنیکــي او علمي مطالبــو او مفاهیمو د ځرنگوالي په هکلــه خصوصاً د هغوی املایي او انشــایي اشــتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې گرانو شــاگردانو ته له دې څخه ښه، غوره، گټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شــان له گرانو شــاگردانو او محصلینو څخه هیله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او اســتفادې پر مهال د هیواد اقتصادي ســتونزې، فقر او وروســته پاتې والی په نظر کې ونیسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زیار وباسي، ترڅو د ډېرو شاگردانو او محصلینو د گټې وړ وگرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنیکي زده کړو معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا ریاست
د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مدیریت